

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

## د کتاب پېژندنه


کتاب........................................................................ مرکه ناول

لیکوال...................................................................... نیک محمد بارک

کال............................................................... ۱۴۰۴ه.ش / ۲۰۲۵ ع

د کتابونو او ناولونو په لړ کي............................................................ ۱۲

سمون او........................................................................ داود رحماني

د نظر،اړتیا، او د بیا نشر د اجازې لپاره د لیکوال د تماس شمېره...**۰۷۰۲۱۱۰۳۷۱**


***د چاپ او نشر حقوق ټول د لیکوال سره خوندي دي***

ketabton.com - The Digital Library

# د لیکوال خبرې

د پاک او لایزال رب جل جلاله په ستر نامه

د الله جل جلاله شُکر ادا کومه چې یو وار مې بیا وکولای سوای چې د سختو مصروفیتونو سره سره مې د مینوالو لپاره یو ناول ولیکی چې نوم یي دی مرکه.

مرکه چې په کندهاری اصطلاح د هلک لپاره د یو انجلۍ انتخابولو یا غوښتلو ته چې په نورو لهجو کې ورته خواستگاري وایي ویل کیږي. د ډیره وخته مې د مرکې او انجلۍ انتخابولو اړوند د ټولنې ځینو مشکلاتو ته په کتو نیت کړی وو چې ددې مشکلاتو د حل او خلاصون لپاره د ناول او کیسې په ژبه د ټولنې زوریدلو او زوریدونکو خویندو ته داسې یو الهام ورکړم چې تاسو کمزوري نه یاست، تاسو هم د پوره ژوند کولو حق لری، تاسو د ځان قدر خپله ټاکلای سئ، تاسو هم د نارینوو پڅیر نوم او مقام گټلای سئ....

په ټولنه کې مې لیدل او وینم یي چې په اوسنۍ زمانه کې یو انجلۍ د هلک لپاره په کومو معیارو او اهدافو ټاکل کیږي، که هلک هر څومره عیبونه ولري خو بیانیږي او کتل کیږي یوازي اوس د انجلۍ و عیبو ته هغه هم د هغو انجونو چې په ټولنه کې نوم، مقام او یا هم لوړ خاندان ونلري که نوم، مقام او یا هم لوړ خاندان ولري هغه انجلۍ که هر ډول عیب ولري پر هغو یي سترگې پټیږي. ځنې انجونې به مې لیدلې چې تر هغو به یي کوزده نکیدل او نه به یي پر کوزدې بحث کیدی تر څو چې به یو چا پښه غلطه نکړل او د دوی کور ته به د مرکې لپاره ور نه غلل

ketabton.com - The Digital Library

تــر هغــو بــه دا د ټــولنې د پیغــورو څخــه زوریــدل خــو یــو چــا کــه نــوم، مقــام او خاندان درلودی د هغو پر کور به د مرکو نوبت نیول کیدی.

ځنــي خوینــدې بــه مــي لیــدلې چــي واده ســوې بــه وې او د نــوم، مقــام او د لــوړ خانــدان درلــودنکې بــه نــه وې د هغــو ســره بــه د حیوانــاتو پخیــر چلنــد کیــدی خاونــدانو بــه یــي چــي کلــه ضــروریات ور پــوره کــول نــو پــه زرو احســانونه بــه یــي بانــدي اچــول او هغــوی بــه یــي ملکیــت بللــې چــي کلــه بــه یــو کــار خــراب ځنــي وســو وهــل او پیغورونــه ورکــول خــو عــادې خبــره وه ورتــه د طــلاق اخطارونــه بــه یــي هــم ورکــول یــا بــه د خاونــد د کــورنۍ لخــوا زوریــدلې خــو دا خوینــدو بــه هــر څــه ځغمــل. نــو دا ســتونزو او مشــکلاتو چــي زه بــه یــي ســخت زورولــم پــه کتــو مــي وغوښــتل چــي خپلــو گرانــو خوینــدو تــه داســي یــو ځــو لارښــوونې وښــیم چــي د هغــو پــه عملــي کولــو ســره دوی خپــل د ځــان قــدر او عــزت لــوړولای ســي ښــه ژونــد تــر لاســه کــولای ســي خــو کــه دا لارښــونې عملــي نکــړي او کــار وربانــدي ونکــړي نــو ممکــین ده چــي دا هــم د هغــو خوینــدو پخیــر ســي چــي د مرکــو راتلــو تــه پــه انتظــار وي یــا هــم تــر واده وروســته د خاونــد پــه کــور کــي پــر خاونــد بــوج ســي او هغــه د هــر څــه احسانونه باندي واچوي.

لکــه څنگــه چــي لانــدي پــه نــاول کــي ذکــر ســویدي چــي یــو ښــځه دا دا کــولای ســي ځنــي خوینــدې شــاید د نــاول دا ځــای تــه پــه کتــو ووایــي چــي زه دا هــر څــه نســم کــولای دا صــرف یــو کیســه ده داســي نســي کیــدای ...یــا نــوري بهــانې وکــړي نــو دوی ربښــتیا هــم داســي نســي کــولای ځکــه دوی یــوازي ځانتــه کمــزوري ورکــوي بــل څــه نســي کــولای خــو کــه یــو بــل څــوک دا کیســه ووایــې او د ځــان ســره ټینگــه وعــده او دا پریکــړه وکــړي چــي زه

ketabton.com - The Digital Library

هم داسي کولای سم زه هم یو حسینه جوړیدای سم نو زه سل په سلو کي باوري یم چي دوی به حتماً جوړي سي ځکه دوی ځانته قوت، طاقت او یو ښه تشویق ورکوي بهانې نه جوړوي .

-یو ښځه ډیر ژر نوم، مقام او ارزښت ګټلای سي ځکه یو ښځه تر نارینه ډیره حوصله او لویه فکري او مشورتي قوه لري رسول الله ﷺ به هم زیاتره وخت د خپلو میرمنو سره مشوره کول.

*هیڅکله حوصله د لاسه ورنکړئ د پرمختګ لپاره هیڅکله ناوخته نه دی او هیڅوک کم ندی خپل ارزښت او قدر مو خپله وټاکئ .

ـــ د داسي پرمختللي او پر ځان بسا خویندو په هیله چي په اسلامي جامه، حجاب او اخلاقو سمبالي وي.

*په پای کي به یو یادونه وکړم هغه دا چي کیدای سي زما په ناولونو کي کوم ادبي یا هم املایې نیمګړتیاوي وي کچیري تاسو ته په سترګه سوې نو د اصلاح لپاره یې را سره شریکې کړئ تر څو وکولای سم چي په راتلونکو کتابونو او ناولونو کي یې اصلاح کړم

**په درنښت:** نیک محمد بارک

ketabton.com - The Digital Library

# ناول

## مرکه ناول

دروازه خلاصه سوه موټر کور ته دننه راغلی کله چي ودریدی د شا دروازه يي خلاصه سول يو ښکلي باحجابه انجلۍ څني راکښته سول کله چي کور ته دننه ولاړه نو وي ليدل چي په کور کي دننه د مور او پلار سره مېلمانه ناست دي او خاندي ددې په ليدو يي پلار وويل: هغه ده حسينه لور مي هم راغله.

د حسينې په ليدو مېلمانه د هغې سره د روغبړ لپاره پر ځای ودريدل خو حسينې صرف سلام ورته ووايه او خپل اطاق ته په زينو کي پورته سول او ولاړه. د حسينې په داسي کړنه مېلمانه حيران سول د حسينې مور او پلار هم وشرمېدل بيا يي پلار وويل: تاسو کښينئ زه راځم.

د حسينې پلار د هغې اطاق ته ورغلی گوري چي حسينه د الماريه خپل کالي را اخلي پلار يي وويل: دا څه بې ادبي ده لوري مشران خلک دي بې روغبړه پريښول همداسي څني راتيره سوې ته نه يي خبره چي دوی زموږ خپلوان دي؟

حسينې تر څو شيبو وروسته په گونجې تندې وويل: د څه لپاره راغلي دي؟

پلار يي سر کښته ونيوی څه يي ونه ويل بيا حسينې وويل: دوی هم د مرکې د پاره راغلي دي؟

ketabton.com - The Digital Library

پـلار یــي بیـا هــم څــه ونــه ویــل حســینې وویــل: دا زمــوږ خپلــوان پخــوا چیــري وه پخــوا یــي ولــي مــوږ نــه وو پیــاد مخکــي خــو مــا دوی لیــدلي هــم نــه وه نــن مــي اول وار دی چــي ویــنم یــي دا خپلــوان مــا نــه بلکــي زمــا مشــهورتیا او زمــا مقام غواړي ته ولي نه پوهیږې بابا؟

پلار یي وویل: چپ سه اوس به یي واوري!

حسینې وویل: په کیسه کي یي نه یم.

د حســینې لــوړ اواز مېلمنــو واوریــدی خــو څــه یــي ونــه ویــل کلــه چــي د حســینې پــلار لانــدي راکښــته ســو نــه خپلــوان یــي ولاړ ســول یــو مشــر ســړي پکښــي پــه خوابــدي ډول ورتــه وویــل: نعــیم خانــه مــوږ ځــو وبخښــئ چــي تاسو ته مو مزاحمت درکړ.

نــور یــي څــه ونــه ویــل ټــول د کــوره پــه خوابــدي مخــانو ووتــل د حســینې پــلار ډیــر پریشــانه او پــه غوســه ســو کلــه چــي ماښــام ســو ســترخوان تــه ټــول د ډوډۍ لپــاره کښېنســتل هیچــا هــیڅ نــه ویــل حســینې ټولــو تــه کتــل چــي ولــي داســي خوابــدي او غوســه نــاک ناســت دي تــر څــو شــېبو وروســته یــي پــلار ډوډۍ پریښــول خپــل اطــاق تــه ولاړی ورونــه یــي هــم ولاړ ســول. حســینې څــو گــولې ډوډۍ وخــوړل بیــا خپــل اطــاق تــه ولاړه تــر څــو شــېبو وروســته د پــلار اطــاق تــه ورغلــه کلــه چــي یــي دروازه خلاصــه کــړه نــو وې لیــدل چــي پــلار یــي پــر کــټ ډیــر خوابــدی ناســت دی. حســینه ورغلــه پــر پښــو یــي تــوس ور واچــوی بیــا ور نــږدي ســول پــر تنــدي یــي ښــکُل کــړ بیــا ځنــي ووتــل د وتلــو پــه وخــت کــي یــي پــلار ســترگو تــه وکتــل نــو وې لیــدل چــي د حســینې ســترگې ســرې وې اوښــکې تــر بهېــدلې. نعــیم تــه خــوب نــه ورتلــی تــر ډیــره

ketabton.com - The Digital Library

وینس پاتــه وو اخیــر کــي ولاړ ســو غوښــتل یــي چــي د حســینې اطــاق تــه ورســي کلــه چــي هلتــه ورغلــی نــو وې لیــدل چــي حســینه پــر کــټ ناســته ده ځنــګ یــي اچــولی دی پــه ناســته بیــده ســوېده او پــه لاســو کــي یــي یــو عکــس نیــولی دی کلــه چــي نعــیم ور نــږدي ســو او ځنــګ تــه یــي کښېنســتی نــو عکــس یــي را واخیســتی تــر څــو شــېبو پــوري یــي عکــس تــه پــه غمګــین حالــت کتــل چــي پــه دا وخــت کــي حســینه راکښېنســتل تــر څنــګ یــي پــلار او د هغــه پــه لاســونو کــي یــي عکــس ولیــدی تــر څــو شــېبو وروســته یــي ســر د پــلار پــر اوږه کښېښــوئ تــر څــو شــیبو وروســته یــي پــه ژړا وویــل: بابــا زه د اُمیــد د یــادو ســره ځنګــه د بــل چــا ســره واده کــولای ســم هــره ورځ او هــر ســاعت د هغه د یادو سره تیروم؟

نعــیم وویــل: لــوري زه ســتا پــه خــاطر وایــم زه غــواړم چــي تــه د دا غمګــین ژونــده راووځــې او یــو بلــه نــړۍ ځــان تــه جــوړه کــړې تــر څــو پــوري بــه یــوازي او د هغه په یادو کي ژوند کوې؟

حســینې پــه ســلګیو وویــل: بابــا زه څــه وکــړم نــه مــي هیریــږي پــه زړه، دمــاغ پــه خــوب پــه ویښــه پــه هــر څــه کــي مــي هغــه دی دا هــم ګنــاه ده چــي پــه زړه کــي مي اُمید وي خو واده د بل چا سره وکړم.

نعــیم د خپګــان ســاه واخیســتل بیــا یــي وویــل: ســتا خوښــه ده لــوري مــا تاتــه د هري فیصلې کولو حق درکړیدی دا فیصله هم نوره خپله وکړه.

کلــه چــي ســهار ســو نعــیم چــایو کولــو تــه راغلــی نــو ګــوري چــي پــر ســترخوان حسینه نسته میرمني ته یي وویل: حسینه چیري ده؟

ketabton.com - The Digital Library

میرمنـــي یـــي وویـــل: پنجشـــنبه ده او پـــه پنجشـــنبه نـــو تـــه نـــه یـــي خبـــر چـــي هغـــه چیري ځي او څه کوي؟

نعیم وویل: ښه ښه د اُمید قبر ته تللې ده؟

میرمني یي وویل: هو.

بیـــا یـــي میرمنـــي وویـــل: ســـړیه مـــا څـــو واري درتـــه ویلـــي دي چـــي هغـــه او خپـــل ژونـــد یـــي ســـره پریـــښوده تـــه ولـــي هـــر واري هغـــه مجبـــوره کـــوې چـــي واده وکـــړي امیـــد د هغـــي نـــه هیریـــږي او نـــه هـــم د بـــل چـــا ســـره واده کـــوي خـــو پـــر دې پوهیـــدو ســـربیره هـــم تـــه مرکـــو تـــه اجـــازه ورکـــوې چـــي د هغـــې د غوښـــتلو لپـــاره کور ته راسي.

نعـــیم وویـــل: یـــو خـــو مـــي پـــه دا خبـــره فکـــر خـــراب وي چـــي دا بـــه تـــر څـــو یـــوازي او د هغـــه د یـــادو ســـره ژونـــد کـــوي او بلـــه خبـــره دا چـــي مـــوږ پښـــتانه یـــو چي یو څوک ووایي چي موږ درځو نو زه ورته ووایم چي یا مه راځئ؟

میرمنـــي یـــي وویـــل: خـــو ورتـــه وایـــه کـــه د مرکـــې او د حســـینې د غوښـــتلو پـــه نیـــت راځـــی نـــو مـــه راځـــئ هـــر واري د دوی پـــه راتـــگ ســـره زمـــوږ پـــه کـــور کـــي د یو او بل تر منځ خپگان رامنځته سي.

نعیم وویل: سمه ده نور به همداسي کوم.

حســـینې د اوښـــکو ډکـــې ســـترگې د امیـــد پـــر قبـــر ښـــخې کـــړي وې پـــه فکـــرو کـــي غرقـــه وه چـــي تـــر څـــو شـــیبو وروســـته مـــوټروان وویـــل: اغلـــې د مکتـــب د ماشـــومانو د رخصـــتیدو وخـــت تـــه لـــږ وخـــت پاتـــه دی هلتـــه بایـــد ځـــان ور ورسوو.

ketabton.com - The Digital Library

حسـینې اوښـکې پـاکې کـړې د امیـد د قبـر د شـناختې ډبـره یـې ښـکُل کـړه بیـا روانـه سـول کلـه چـې مـوټر تـه وختـل تـر څـو شـېبو وروسـته یـو مکتـب تـه ورسـیدل د مکتـب شـاګردانو چـې کلـه د حسـینې مـوټر ولیـدی نـو ټـول ډیـر خوشـحاله سـول او د مـوټر پـر خـوا یـې ور وځغسـتل. کلـه چـې مـوټر ودریـدی نـو حسـینه پـه خنـدا ځنـې راکښـته سـول شـاګردان یـې پـه غیـږ پـوري ونیـول بیـا یـې ورتـه وویـل: هلـه راسـئ نـن مـې بـل رکـم شـیان درتـه راوړي دي.

حسـینې د مـوټر د شـا دروازه خلاصـه کـړه ټولـو کوچنیـانو تـه یـې چاکلیټونـه ورکـړل تـر څـو شـېبو سـاعتیري وروسـته حسـینې کوچنیـانو تـه وویـل: هلـئ ورسئ نور کورو ته ولاړ سئ میندې به مو درته په تمه وي.

ټـول شـاګردان د مکتبـه ووتـل حسـینه اداري تـه ولاړه هلتـه چـې ورسـیده پـر دیـوال د امیـد لګـول سـوي عکـس تـه ودریـدل بیـا یـې وویـل: هـیڅ غـم مکـوه تـر کومـه چـې زه ژونـدۍ یـم سـتا مکتـب بـه همداسـې پـه ښـه توګـه روان وي بیا حسینې ته د امید د اولي ورځې د مکتب تیر وخت پیاد سو...

*

د سـهار اذانـو تـه څـه وخـت پاتـه وو چـې د کلـي د یـو کـور پـر بـام پـر کـټ پرتـې سـاده انجلـۍ حسـینې سـترګې خلاصـې کـړې د تهجـد د لمـونځ پـه نیـت د اوداسـه لپـاره ولاړه سـوه لوښـی یـې واخیسـتۍ غوښـتل یـې بـل لوښـي تـه اوبـه واچـوي چـې د لوښـو پـه ږغ سـره یـې د اکـا لـونې ویښـې سـوې یـوې پـه نیمـه خلاصـو او د خوبـو ډکـو سـترګو وویـل: دا پخـه او بدرنګـه بیـا پـه نیمـه

ketabton.com - The Digital Library

شپه ولاړه سوه تهجد کوي تر څو دعاوي وکړي چي يو هلک خطاوځي او پر دې باندي عاشق سي.

بلي وويل: پريږده يي ددې پخې خو داغه عادت دی.

بيا دواړي بيدې سوې تر څو شپېو وروسته حسينه راغله مسله يي اواره کړه او د تهجد د لمانځه نيت يي وکړ. حسينه د سهار تر اذانو پوري په تهجد مصروفه وه کله چي اذان سو نو دعا ته يي لاس پورته کړ تر څو شپېو يي دعاوي کولې بيا يي د سهار لمونځ ادا کړ کله چي د سهار د لمانځه قضاء ته څه وخت پاته وو نو حسينه ولاړه سوه مسله يي بنده کړه بيا د اکا د لوڼو خواته ورغله هغوی يي سره ونښورولې ورته وې ويل: هلئ ولاړي سئ لمونځ قضاء کيږي لمونځونه مو وکړئ!

هغوی په تريو او ګونجې تندي ولاړي سوې حسينې ته په غوسه کتو لاندې کښته سوې. حسينې کټونه او بيسترې سره ليري کړې ټولي بيسترې يي لاندي کښته کړې بيا د تلاوت لپاره قرانکريم ته کښېنستل تر لمر ګرميدو پوري تلاوت کاوه بيا يي مور ورته راغله وې ويل: حسينې ولاړه سه کور او ځان سره سم کړه پلار دي ويل چي مرکه راځي.

حسينې وويل: سمده مور.

حسينې قرانکريم بند کړ بيا د کور په جارو کولو مصروفه سول د اکا لوڼو يي د هغې په ليدو وويل: بدرنګه وګوره چي صفاياني کوي دا چي وايي ما ته مرکه راځي.

ketabton.com - The Digital Library

حسینې د هغو خبرې واورېدې زړه یې درد وکړ خو څه یې ونه ویل د کور په جارو کولو مصروفه سول تر څو شپېو وروسته د مرکې لپاره څو ښځې راغلې تر روغبړ وروسته حسینې چای ورته راوړې تر چایو اچولو وروسته حسینه هم هلته ور سره کښېنستل په مرکه راغلو ښځو کي یوې وویل: هغه انجوني چیري دي؟

حسینې ددې خبرې په اورېدو یو وار هغو ته بیا خپل مور ته په مات زړه وکتل بیا یې سترګې لاندې واچولې. د حسینې مور حسینې ته اشاره وکړه بیا یي وویل: دا هم ده او ددې د اکا لوڼې هم دي.

مرکې ولا ښځو حسینې ته وکتل بیا یې وویل: یا دا خو زما پر زوی ډېره مشره ده.

بیا هغو سره وخندل د هلک مور وویل: دا خو تر ما لا مشره معلومیږي.

حسینه په مات زړه بې خونده موسکۍ سوه بیا یي وویل: تاسو چای در واخلئ یخي به سي.

تر څو شپېو وروسته د حسینې د اکا لوڼې راغلې د هغو په لیدو د هلک کورنۍ موسکۍ سوې په خندا یي بانډار ور سره شروع کړ حسینه تر یو وخته هلته ناسته وه بیا یي وویل: زه به هغه نورو چایو ته ورسم.

کله چي حسینه د اطاقه ووتل نو خپل اطاق ته ولاړه دروازه یي بنده کړه پر کټ کښېنستل ډېر یي وژړل تر څو شپېو ژړا وروسته دروازه وټکیدل مور یي وه هغې وویل: حسینې لوري؟

حسینې سترګې د اوښکو پاکي کړې بیا یي وویل: ها مور؟

ketabton.com - The Digital Library

مور يي وويل: دروازه خلاصه که!

حسينې بيا پر خپل سترګو لاس تير کړ په هنداره کې يې وکتل چې د سترګو سوروالۍ خو به يې نه معلوميږي بيا يې دروازه خلاصه کړه. کله چې يې مور هغه وليدل نو پوه سوه چې حسينې ژړلي دي خو حسينې لاندې وکتل بيا يې وويل: مور زه به پخلنځی ته ورسم چای به ايشيدلې وي.

حسينې دا وويل بيا ولاړه پخلنځی ته غوښتل يې چې خپلې اوښکې د موره پټې کړي خو مور يې پوهيدل چې حسينه د مرکې ولا ښځو په خبرو غمګينه سول. حسينه پخلنځی کې وه چې د مرکې ولا ښځې او د اکا لوڼې او د هغو مېندې په خندا د اطاقه راووتلې تر ځو شپبو ولاړې وې بيا ولاړې حسينه په همدې ورځ ډيره غمګينه وه خو پر زړه يې هر څه تيرول کله چې ماښام سو د حسينې مور د حسينې پلار ته د ګيلې په ډول وويل: لور مو ډير وخت کيږي چې ځوانه سوېده د زامنو لپاره خو دا وياړ ګڼئ چې ملګرو يا دوستانو ته ووايست چې لور دي زما زوی ته راکړه خو دا بيا شرم درته معلوميږي چې د لور په اړه هم يو چاته ووايست چې ستاسو کور مو خوښ دی لور مې ستا و زوی يا ورور ته درکوم.

د حسينې پلار وويل: سمده سبا به اعلان وکړم چې لور مې ځوانه سوېده پر ما بوج سوېده څوک يي غواړئ د زوی لپاره؟

د حسينې مور وويل: يعنې ته تر اصحابو کرامو غيرتمن او شرمناک يې چې هغو به د خپلو لوڼو په اړه دوستانو او يا نورو اصحابو کرامو ته ويل

ketabton.com - The Digital Library

نــو تــه ولــي نــه وايــي دا هــيخ شــرم نــه دی ټولنــه مــو الحمداللــه اســلامي او پښــتني ده لــوښې مــو نســي کــولای چــي د ځــان لپــاره خپلــه يــو هلــک پســي وګرځــي او پخپــل ســر واده ور ســره وکــړي خــو دا حــق اســلام نــه دی ځنــي اخيســتی او نــه يــي ويلــي چــي غلــط کــار دی چــي د هغــې د واده لپــاره دي هغسي کوښښ ونکړل سي لکه څنګه چي د زوی د واده لپاره کيږي.

د حســينې پــلار وويــل: ســتا خبــره صــحي ده خــو دا ټولنــه تاتــه نــه ده معلومــه ســبا بــه بيــا هلتــه د خُســرګنۍ پــه کــور کــي پيغورونــه ورکــوي چــي پــر پــلار بــوج وې يــا بــل چــا نکــولې چــي مــوږ تــه يــي پــه ويلــو راکــړې ســتا پــه فکــر چــي زمــا بــه بيخــي فکــر نــه وي پــه خــراب د حســينې د واده پــه اړه تــر تــا زمــا ډيــر فکــر پــه خــراب دی خــو څــه وکــړم ټولنــه مــو همداســي ده چــي پښــې يــي د رواجــو په ځنځيرونو را تړلي دي.....

حســينه د ســهار اخيــره برخــه کــي بيــا د تهجُــد لپــاره راکښېنســتل او د ســهار تــر لمانځــه وروســته پــر بــام بانــدي تــلاوت تــه کښېنســتل تــر لمــر راختــو پــوري يــي تــلاوت کــاوه چــي پــه دي وخــت کــي يــي د څــو موټرانــو ږغونــه واوريــدل کلــه چــي يــي ورتــه وکتــل نــو وې ليــدل چــي د يــو ودانــۍ مختــه يــو کــوچنی مــوټر مختــه دی او شــاته يــي نــور غــټ مــوټران ولاړ دي ميزونــه او چــوکۍ پکښــي ايښــودل ســويدي حســينې ورتــه کتــل چــي د کــوچني مــوټره يــو ځــوان راکښــته ســو بيــا د شــا موټرانــو تــه ورغلــي د موټروانــانو ســره پــه خبــرو مصــروفه ســو بيــا يــي ټــول ميزونــه او چــوکۍ ودانــۍ تــه دننــه وې وړل حســينې دا حالــت تــه کتــل بيــا يــي تــر څــه قرانکــريم ويلــو وروســته قرانکــريم بنــد کــړ لانــدي يــي پــر يــو کــوچنۍ انجلــۍ ســترګې ولګيــدې هغــي تــه يــي وويل: مروا؟

ketabton.com - The Digital Library

مروا وويل: ها حسينې خوري.

حسينې وويل: ته ودرېږه!

بيا حسينه ديوال ته نږدې ورغله هغې ته يې وويل: هغه مخامخ کور کې څه خبره ده دا څوک دي نوې کډه ورته راغله که څنګه؟

مروا وويل: یا حسينې خوري هغه د کوچنيانو لپاره مکتب جوړېږي او هغه کوچني سپين موټر ولا سړی يې مدير دی.

حسينې وويل: ښه ښه بس داغه پوښتنه مي کول ورسه نوره.

حسينې تر څو شپېو د مکتب خواته کتل او هغه ځوان ته يې هم کتل چې نوي کالي يې اغوستي وه د کالو، شکله او موټره لوی معلوميدی خو د خدمتګارانو سره يې يو ځای خپله په موسکا د موټره ميزونه او چوکۍ راکښته کولې وروسته حسينه د بامه کښته سول مور چې يې وليدل نو ورته وې ويل: حسينې د پلار د اکا د زامنو واده دي دی پلار ته دي يې اوس زنګ راوهلی وو مانښام ته يې غوښتي يو د کور کارونه او حمام وکړه ځان تيار کړه چې بيا وختي ورسو.

حسينې وويل: سمده مور.

کله چې مازديګر سو نو ټول د واده په نيت روان سول تر څو شپېو وروسته واده ته ورسيدل حسينه مور او نوري ښځينه د ښځو ځای ته ولاړې او نارينه د نارينوو ځای ته ولاړه په روغبړ کې چې به کله د واده ولا کورنۍ د حسينې سره مخ کيدل نو ورته ويل به يې: حسينې ته يي لا تر اوسه نه يي ورکړې؟

ketabton.com - The Digital Library

بلي به ويل: حسينې ولې ځوک مرکه نه درته کوي خوري؟

حسـينې بـه د هـري يـوې دا دردنـاکې خبـرې پـه موسـکا ځغملـې نـور بـه يـې ځـه نـه ويـل دې بـه داسـي د شـرم احسـاس کـاوه او د نـورو بـه پټيـدل لکـه کـوم بـد عمـل چـي يـې کـړی وي ځکـه نـه يـې غوښـتل چـي نـور يـې هـم ووينـې او پـه اړه يـې وږغيـږي او د اوږد پېغلتـوب پيغورونـه ورکـړي کلـه چـي ډوډۍ وخـوړل سـول او پـلار يـې د تلـو ږغ وربانـدې وکـړ نـو حسـينه ډيـره خوشـحاله سـول کلـه چـي کـور تـه ورسـيدل ټـول خپلـو اطـاقو تـه ولاړه نـو د حسـينې مـور تـر څـو شـېبو وروسـته د حسـينې اطـاق تـه ورغلـه ګـوري چـي حسـينه ژاړي مـور يـې اطـاق تـه ورغلـه تـر څنـګ يـې کښېنسـتل ورتـه وې ويـل: چـي نصـيب دي وسـي نـو يـو سـاعت وخـت بـه دي هـم واده ونـه نيسي.

حسـينې پـه ژړا وويـل: مـور زه ددې غـم نکـوم چـی زمـا ميـړه ولـي نـه پيـدا کيـږي يـا ماتـه مرکـه ولـي نـه کيـږي بلکـي د دا خلکـو خبـرې او تـانې مـي زوروي.

مـور يـې وويـل: لـوري مـوږ د ځـان د پـاره ژونـد کـوو د نـورو د پـاره نـه نـو بايد د چا خبرو او تانو ته ارزښت ور نکړو.

تـر څـه خبـرو وروسـته د حسـينې مـور د اطاقـه ووتـل او د خپـل خاونـد خواتـه ورغلـه کلـه چـي هغـه خپـل ميرمنـې تـه وکتـل نـو پـوه سـو چـي کومـه خبـره سـوې ده نـو يـې خپـل ميرمنـې تـه وويـل: پـه واده کـې مـي يـو د ځـوانۍ ملګـری وليـدی پـه بانـډار کـې يـې وويـل چـي د زوی د پـاره پـه يـو ښـه انجلـۍ پسـي ګرځـو مـا ورتـه وويـل چـي راسـئ زمـا لـور وګـورۍ زه هـم د لـور

ketabton.com - The Digital Library

لپاره په یو ښه هلک پسي گرځم نو هغه ویل سمده نمبر یي راځخه واخیستی ویل یي چي درځم بیابه زنگ در ووهم خدای مهربانه دی شاید زموږ د لور نصیب د دوی په کور کي سوی وي زما ملگری هم ډیر نیک او ښه انسان دی کورنۍ به یي هم داغسي نیکه او ښه وي.

میرمني یي د خپگان ساه واخیستل بیا یي وویل: خدای دي وکړي چي همداسي وسي.

د سهار اذان شروع سو اُمید چي کله لمونځ وکړ نو د کاریگرو د اطاق گروف یي ولگوی وې ویل: هلئ ولاړ سئ لمونځونه مو وکړئ بیا مو خپل کار شروع کړئ تر څو نن یي کار خلاص سي!

وروسته اُمید د مکتب بام ته پورته سو تر څو نیټ او تلیفون یي انتن پیدا کړي شاوخوا پر بام گرځیدی خو نیټ یي کار نکوی چي بیا د بام پر سر یو بلي لوړي ته وختی هلته یي تلیفون شاوخوا گرځوئ چي یو دم یي نظر پر حسیني ولگیدی چي پر بام پر مسله ناسته وه نیمایي معلومیدل هغې سترگې پټي کړي وې دعا یي کول. اُمید د هغې په لیدو حیران سو تر څو شیبو یي حسیني ته کتل د هغې دینداری او عاجزی خوند ورکړ اُمید لا هم حسیني ته کتل چي په دا وخت کي حسیني دعا پای ته ورسول لاسونه یي چي پر مخ راتیر کړل نو د لاسونو د لیري کولو سره سم یي سترگې پر اُمید ولگیدې چي دې ته یي کتل. اُمید چي ولیدل چي د حسیني ورته پام سو نو یي خپل سر او نظر بلي خوا ته واړوی او داسي تمثل یي وکړ چي حسیني ته وښیي چي دی د نیټ لپاره لوړ ختلی دی.

ketabton.com - The Digital Library

څو ورځې وروسته د حسينې د اکا د لور کوزده وه کله چې ټول مېلمانه راغله او مراسم شروع سول نو حسينې د مېلمنو د خدمت لپاره چای وړلې او راوړلې د ډېر خدمت او ښو اخلاقو په سبب د زوم د مور تر څنګ يوې ناستي ښځې چې د زوم د مور ملګرې وه حسينې ته اشاره وکړه بيا يي د زوم مور ته وويل: دا انجلۍ څوک ده؟

د زوم مور حسينې ته په بې خونده نظر وکتل وې ويل: دا زما د مېړور د اکا لور ده دا يي راکول خو ما ونه غوښته.

حسينه هم د دوی د خبرو په جريان کي هغو ته نږدي د چايو په اچولو ورسيدل بيا هغې ښځې وويل: ولي؟

د زوم مور وويل: ته يي نه وينې چې په عمر ډېره ده مخ يي د ډېره عمره توري لکې اچولي دي دا خو زما د زوی د مور پر ځای ده.

حسينې د هغو خبرې واوريدې په مايوسه ډول يي د هغو خواته وکتل څه يي ونه ويل تر څو شېبو وروسته چې ور ورسېدل نو هغو ته يي وويل: خاله چای در واچوم.

د زوم مور وويل: يا يا مه يي را اچوه.

کله چې حسينه د هغو څخه څه ليري سوه نو د زوم د مور ملګري وويل: يا مخ يي توري لکې نه دي کړي بلکي ستا مېړور فېشن او ارايش کړيدی د مخ سپين کريمان يي استعمال کړيدي او دا همداسي بيله ارايشه او فېشنه راغلې ده نو ځکه ستا تر مېړور څه توره درته معلومېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د زوم مور وویل: ته زما دوسته یي که دوښمنه چي زما د مړور بې عزتي کوې.

ملګري یي وویل: یا خدای دي نکوي چي زه به ستا د مړور بې عزتي کوم ما خو صرف حقیقت وویل.

د زوم مور وویل: بس بس سمده.

مراسم ماښام ته پای ته ورسیدل مېلمانه ټول ولاړل په کور کي پاته د مراسمو سامانونه ټول حسینې یوازي پاک او جارو کړل ډیره ستړې سوه خو هیچا مننه هم ځني ونکړه.

څو ورځې وروسته د حسینې د پلار د ملګري زنګ راغلی کله چي یي تلیفون اوکې کړ نو تر روغبړ او څه بانډار وروسته یي ملګري وویل چي نن د حسینې لپاره په مرکه درځو. ددې خبرې په اوریدو د حسینې پلار ډیر خوشحاله سو او هغه ته یي ښه راغلاست ووایه بیا یي خپل میرمنه خبره کړل او د میلمنو د راتلو تیاری یي ونیوی کله چي میلمانه راغله د حسینې مور د ښځو سره کښېنستل او د حسینې پلار او ملګری یي په مېلمستون کي کښېنستل تر څه بانډار وروسته حسینې چای راوړي او ټولو ته یي سلام ووایه. د هلک مور حسینې ته په ډیره موسکا او مینه کتل چي د حسینې د مور پکښي فکر وو او زړه یي خوشحاله وو چي حسینه د هغو خوښه سول. تر څه بانډار وروسته د هلک مور خپل خاوند ته زنګ ووهلی او د هغه څخه یي غوښتنه وکړه چي یو وار ور سره ووینې. تر څو شېبو وروسته د هلک مور دبانډي ور ووتل او د خپل خاوند سره یي ولیدل او هغه ته یي د حسینې د خوښیدو وویل د

ketabton.com - The Digital Library

هلک پلار خوشحاله سو کله چې کوټې ته بیرته ولاړې نو د حسینې پلار ته یې وویل: نعیم جانه زما د میرمنې ستاسو لور زمونږ د زوی د پاره ډېره خوښه سوېده نو که ستاسو خوښه وي ته دي د میرمنې سره خبره وکړه که د هغې خوښه وه نو شیریني راکړئ.

د حسینې پلار نعیم وویل: داسي ژر؟

ملګري یې وویل: هو نو د دوستۍ په کار کي باید بیړه وسي.

د حسینې پلار د هلک د لیدو غوښتنه وکړه ملګري یې ډېر ټینګار کاوه چې اوس شیریني راکړه خو د حسینې پلار پر خپله خبره ولاړ وو چې یا یو وار به ستاسو کور او هلک وینم کله چې د حسینې مور ددې موضوع خبره سوه نو خپل خاوند ته یې وویل: شیریني به ورکړو ښه لویه کورنۍ ده ته یې نه وینې چې په دومره ښایسته موټر کي راغلي دي.

نعیم وویل: یا زه یې یو وار کورنۍ او هلک وینم.

د حسینې مور وویل: مخکي به مرکې نه راتلې اوس چې راغله او حسینه یې خوښه سول اوس بیا ته نخرې کوې؟

نعیم وویل: ښځې بې عقلي مکوه چې هلک وینو نو په دې کي څه بده خبره ده که ښه روغ او سالم هلک وو خو هلته به شیریني ورکړم که نه وو نو لور ولي اور ته وغورځوم.

تر ډېر خبرو وروسته د حسینې مور د خپل خاوند څخه خوابدې روانه سول او د حسینې پلار خپل ملګري ته وویل چې زه ستاسو کورنۍ او

ketabton.com - The Digital Library

هلــک ویــنم بیــا دوســتي کــوم ملګــري یــي پــه بــې خونــده خولــه وویــل: ســمده چي ستا خوښه وي.

د حســـینې پـــلار ماپښـــین تـــه د ورتـــګ وویـــل بیـــا یـــي هغـــوی رخصـــت کـــړل خپلــه راغلــی کــور تــه میــرمن یــي ځنــي خوابــدې وه خبــرې یــي نــه ور ســره کــولې خاونــد یــي ورتــه وویــل: ښــځې تــه ښــځه یــي تــه د ښــو او بــدو تــوپیر ژر نســې کــولای کــه ســبا خــدای نکــړه هلــک چرســي، روینــي یــا بــل څــه عیــب یــي درلودی خو د لور ټول ژوند به مو تباه سي......

کلــه چــي ماپښــین ســو نــو د حســینې پــلار د ملګــري کــور تــه ور روان ســو تــر څـــه مـــزل وروســـته ور ورســـیدی تـــر روغبـــړ وروســـته د حســـینې پـــلار او ملګـــری یـــي کـــوټې تـــه ولاړه تـــر څـــه بانـــډار وروســـته دوه ځوانـــان کـــوټې تـــه راغلــه چــي یــو یــي پکښــي معیــوب شــل وو هغــه بــل ځــوان ور ســره پــه راتــګ کــي کمــک کــاوه. د معیــوب ځــوان پــه لیــدو د حســینې پــلار نعــیم پــه حیرانتیــا ملګري ته وویل: دا دي زوی دی؟

ملګري یي وویل: هو.

نعیم وویل: دا څه په سویدي؟

ملګري یي وویل: د کوچنیوالي څخه همداسي دی.....

تــر څـــه بانـــډار وروســـته روغ ځـــوان د کـــوټې ووتـــی د هغـــه پـــه تلـــو نعـــیم پـــه موســـکا د هغـــه خواتـــه وکتـــل بیـــا یـــي وویـــل: دا زمـــوږ زوم دی وو؟ دی بیـــا چیــري ولاړی مــا بــه یــو څــه بانــډار ور ســره کــړی وای دده بیــا ولــي داســي تلوار وو؟

ketabton.com - The Digital Library

ملګري يي وويل: يا هغه مي کشر زوی وو کوزده ده ته کوم.

د نعيم ملګري خپل معيوب زوی ته اشاره وکړه چي ده ته کوزده کوم ددې مسخره خبرې په اوريدو نعيم موسکی سو بيا يي د مسخرو په ډول وويل: دی به واده نکوي.

نعيم د خپل ملګري خبره ټوکه بلل نو ځکه يي داسي وويل خو ملګري يي چي د نعيم موسکا وليدل نو پوه سو چي دی يي نه مني نو ځکه يي په جدې ډول وويل: يا ده ته واده کوم.

نعيم بيا هم د خپل ملګري خبره ټوکه بلل نو ځکه يي په موسکا د ملګري معيوب زوی ته کتل خو ملګری يي ډير جدې سو بيا يي په جدې ډول وويل: همدا زوی مي دی.

نعيم چي کله د هغه جديت وليدی نو موسکا يي ماته سوه بيا يي په حيرانتيا وويل: ته جدې يي؟

ملګري يي وويل: نو زه تاته درواغ وايم؟

نعيم چي د هغه د خولې دا واوريدل نو ډير په غوسه سو نور يي څه ونه ويل ولاړ سو خپل څادر يي واخيستی وې ويل: پر ما ناوختـه دی کور ته يو څه سودا هم وړم زه ځم د خدای په امان.

نعيم دا وويل او بيا د دروازې پر طرف روان سو کله چي تر دروازې نيمايي ووتی نو ملګري يي د پيغور په ډول ور پسي ږغ کړل: نو د هغه بل زوی د پاره به زه ستا لور ته په مرکه درځم ليونی خو نه يم.

ketabton.com - The Digital Library

ددې خبــرې پــه اوريــدو نعــيم ســخت پــه غوســه او زړه مــاتى ســو خــو داســي چلنــد يــي وکــړ لکــه هــيڅ چــي يــي نــه وي اوريــدلي بيــا يــي موټرســيکل چالانــده کــړ ولاړی. نعــيم پــر ټولــه لار پــه فکــرو کــي وو او ســخت انديښــمن وو موټرســيکل يــي چلــوی، خــو فکــر يــي ټولــه د ملگــري پــه پيغــور کــي وو دا چــي ميرمنــي، لــور او نــوري کــورنی، تــه ځــان انديښــمن ونــه ښــيې نــو ځکــه يــي يــو څــه ســودا واخيســتل او بيــا کــور تــه ولاړی کــور تــه د ننوتلــو ســره حســينه مخته ورغله ورته وې ويل: سلام بابا.

پــلار يــي د ســلام جــواب پــه نرمــه موســکا ورکــړ بيــا يــي حســينې د لاســه ســودا واخيســتل دننــه يــي وې وړه خــو د پــلار پــه وضــعيت پــوه ســوه چــي ښــه نــه دی کومــه خبــره او پيښــه ســويده. نعــيم پــه مــات زړه خپــل اطــاق تــه ولاړی خپــل کــوټ يــي وکښــی، پــر کوټبنــد يــي بنــدوی، چــي پــه دا وخــت کــي يــي ميــرمن راغلــه او د خوابــدتيا پــه ډول يــي وويــل: څنگــه ســو ورغلــې زړه دي مطمين سو...

د حســينې مــور نــوري خبــرې هــم کــولې چــي پــه دې وخــت کــي نعــيم چپلاخــه ورکړه ورته وې ويل: چپ سه چي بله خبره ونکړې!

د پــلار د غوســې اواز حســينې هــم واوريــدی غــوږ يــي ورتــه ونيــوی پــلار يــي مــور تــه ټولــه کيســه وکــړل او بيــا پــه غوســه تشــناب تــه د اوداســه لپــاره ولاړی حســينې غوښــتل چــي د مــور حالــت ځانتــه معلــوم کــړي نــو ځکــه يــي گيلاســونه واخيســتل او د پــلار اطــاق تــه ننوتــل کلــه چــي هلتــه ورغلــه نــو وې ليــدل چــي مــور يــي پريشــانه او حيرانــه ناســته ده. حســينه د هغــې پــه ليــدو او د پلار د کيسې په کولو سخته پريشانه سول خو څه يي ونه ويل.

ketabton.com - The Digital Library

د سهار اذانو ته څه وخت پاته وو اُمید د تهُجد د لمانځه څخه فارغه سو مسله یې بنده کړل تلیفون یې د جیبه راوکښی، چې وې کتل پر واتساف ورته د پلار زنګونه راغلي وه ده چې کله وکتل نو نیټ سم کار نکوی، بیا د مکتب بام ته وختی، هلته نیټ فعال سو بیا یې پلار ته زنګ وکړ کله چې هغه اوکې کړ تر روغبړ وروسته یې پلار وویل: واتساف دي ولې بند وو؟

اُمید وویل: مکتب ته راغلی یم بابا د ښار څخه څه لیري دی دلته نیټ سم کار نکوي نو ځکه مي ونه لیدل.

بیا اُمید وویل: د امریکا کارونه دي پای ته ورسول بابا او کله راځې د خیره؟

پلار یي وویل: هو په دا یو څو ورځو کي درځم ان شاءالله.

اُمید د پلار سره په خبرو بوخت وو چې یو دم یې لاندي وکتل په لار کي یې یو څوک روان ولیدی، دده دا فکر سو چې دومره ناوخته څوک روان دی او چیري ځي بیا د پلار سره په خبرو بوخت سو چې بیا یې هغه نفر ته ور پام سول او شک یې باندي وسو چې ښځینه ده. اُمید ډیر دقیق هغه ته کتل او شک یې په یقین بدل سو چې ښځینه ده بیا یې فکر سو چې دا نو چیري روانه ده په دا نیمه شپه. اُمید هغې ته کتل چې هغه د یو لوی ځاه تر څنګ ودریدل او بیا یې تر څو شېبو وروسته ځان ور واچوی، اُمید ډیر حیران سو بیا یې پلار ته وویل: بابا زه تاته بیا وروسته زنګ در وهم.

ketabton.com - The Digital Library

اُمید په بېره د بامه راکښته سو لاندي یې شاوخوا وکتل بیا یې یو رسۍ راواخیستل او د څاه پر خوا یې ور وځغستل هلته چې ور ورسیدی رسۍ یې پر یو درخته وتړل بیا د رسۍ سره یو ځای څاه ته ور ولویدۍ په اوبو کي تر څو شېبو کتلو وروسته یې هغه ښځه محسوس کړل او بیا یې د اوبو سر ته راپورته کړل تاریکه وه دواړو نه سره لیدل هغې اُمید د ځانه لیري کوۍ زورونه یې وهل او د ایله کړه ما! ایله کړه ما! څوک یې ته؟ ناري یې وهلې. اُمید تر ډیر فشار لاندي وو او سخت وارخطا وو چې څنگه به دا ژغوري د هغې نارو او ښوریدو هم په تکلیف کړ چې په دي وخت کي اُمید هغې ته پر مخ ټینگه چپلاخه ورکړه بیا یې ورته وویل: چپ سه بله خبره ونکړې او ونیسه دا رسۍ او لوړه در پورته سه.

هغې ښځې رسۍ ونیول او څه لوړه پورته سول اُمید پوه سو چې دا نسي ختلای نو د هغې پښې یې خپل په اوږو کي ونیولې بیا یې رسۍ ونیول او دواړه لوړ پورته سول کله چې لوړ وختل نو دواړو سږو ته د اوبو ننوتلو په سبب ټوخل کله چې یې ټوخی ارام سو اُمید چې خپل جیب ته لاس ننایستۍ نو وې لیدل چې تلیفون او بټوه یې دواړه په اوبو لانده سوي او خراب سویدي اُمید په غوسه هغې ته وویل: دا ټول ستا د لاسه.

هغې په ژړا وویل: چا درته وویل چې ته ما وژغوره ښه دی چې مړه سوې وای.

ketabton.com - The Digital Library

اُمید چې کله هغې ته دقیق وکتل نو وې ویل: هې ته هغه انجلۍ نه یې چې هره ورځ پر هغه بام باندي لمونځ او تلاوت کوې.

هو دا هغه دیندوست او باحیاء انجلۍ وه چې د خلکو د پیغورو او ژونده سترې سوې وه غوښتل یې چې د تل لپاره د خلکو د خبرو او پیغورو ځان خلاص کړي ... حسینې هم اُمید وپیژندی چې هغه ځوان دی چې دې ته یې د مکتب پر بام کتل. حسینې څه ونه ویل بیا اُمید وویل: خو تا ولي داسي کول؟

حسینې ژړل خو څه یې نه ویل بیا اُمید ورته وویل: ته راځه زما سره!

بیا یې تر لاس ونیول او مکتب ته ولاړل هلته یې د بدن وچولو لپاره آټوال ورکړ ورته وې ویل: واخله په دې ځان وچ کړه!

حسینه چې کله څه ارامه سول ځان یې وچ کړ بیا یې آټوال پر ځان واچوی تر څو شېبو وروسته چې اُمید راغلی نو د حسینې مخته یې چای کښېښولي ورته وې ویل: واخله دا وڅښه!

حسینې په ژړغوني اواز وویل: زړه ته مي نه کیږي.

بیا اُمید گیلاس واخیستی او د حسینې په لاس کي یې کښېښوی بیا یې ورته وویل: واخله وې څینبه هله!

حسینې په ریږدیدلي لاسو د چایو گیلاس خولې ته وې وړی څو غړپه یې وڅیښلې او گیلاس یې بیرته پر میز کښېښوی.

اُمید وویل: څه وسول خوند یې درنکړ؟

حسینې وویل: یا داسي خبره نه ده زړه مي نه ورته کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

اُمیـد چــي دبانــدي وکتــل او بیــا یــي ســاعت تــه وکتــل نــو د لمانځــه وخــت وو بیــا یــي حســینۍ تــه وویــل: اوس دلتــه پاتــه ســه چــي لمــر راوختــې بیابــه کــور ته ولاړه سې اوس که چا ولیدي نو رنګ بدی به وي.

حسینۍ وویل: خو بابا؟

اُمیـد وویــل: چــي دومــره د بابــا غــم در ســره دی نــو بیــا دي ولــي داســي کــار کوئ؟

حســینۍ وویــل: تــه د چــا د غمونــو او بدقســمتیه څــه خبــر یــي هغــه مځکــه سوځي چي اور پر بل وي.

اُمیــد پــه نرمــه موســکا او بیــا پــه غمګــین ډول وویــل: ربښــتیا هــم مځکــه هغــه ســوځي چــي اور پــر بــل وي کــاش تاتــه هــم زمــا د دردو درک معلومیــدلای خو خیر ته دا راته ووایه چي تا ولي ځان وژنه کول څه سبب یي وو؟

حسینۍ وویل: پرېږده یي.

اُمید وویل: ایا عاشق دي دوکه در سره کړیده؟

حسینۍ تر څو شیبو وروسته وویل: یا.

اُمید وویل: نو بیا څه خبره ده؟

حســینۍ وویــل: دومــره خبــره ده چــي زه بــد قســمته یــم بدبختــه یــم بدرنګــه یــم ....

اُمیــد موســکی ســو بیــا یــي وویــل: ښــه ښــه پــوه ســوم یعنــي مرکــه نــه درتــه راځــي ها.

ketabton.com - The Digital Library

حسـينې ددې خبـرې پــه اوريــدو ســر کښــته کــړ څــه يــي ونــه ويــل بيــا اُميــد وويل: څوک وايي چې ته بدرنګه يې؟

د حسينې تر سترګو اوښکې رواني سوې په ژړا يي وويل..... :

حسـينې خپلـه ټولـه کيسـه اُميـد تـه وکـړل کلـه چـي کيسـه خلاصـه سـول نـو اُميـد حسـينې تـه څـو شـېبې حيـران حيـران کتـل بيـا يـي وويـل: تـا ولـي څـوک وغـواړي؟ ولـي مرکـه درتـه وکـړي؟ تـه څـه شـي يـې؟ سـتا ارزښـت څـه دی؟ ته څه حيثيت لرې؟

بيـا اُميـد وويـل: اغلـې ۲۰۲۴ تـم کـال او يوويشـتمه پيـړۍ ده اوسـني زيـاتره انسـانان مطلـب پرسـتان دي چـي مطلـب در سـره ونـه وينـي پـه کيسـه کـي دي هـم نـه وي نـه دي پـروا لـري کـه يـو سـاده انجلـۍ هـر څـومره نېکـه، صـالحه، باحجابـه ان تـر داسـي حـده چـي پـه پرهيزګـارۍ کـي يـي نـوم تللـی وي خـو بيـا يـي هـم ننني هلکـوان د واده لپـاره نـه خوښـوي کـه څـه هـم هـيڅ عيـب ونلـري خـو کـه يـو مشـهوره، يـو نـوم او مقـام ولا او يـا هـم تعليميافتـه انجلـۍ هـر څـومره عيبونـه ولـري خـو بيـا يـي هـم خوښـوي او پـر عيبـو يـي سـترګې پوټـوي او بيـا دا اوسـني هلکـوان دا د ځـان ويـاړ بـولي چـي د يـوې فلمـي اداکـارې، ټيکټـاکرې، تجـارې يـا د يـوې ليکـوالې،ډاکټرې يـا يـو بلـي مشـهورې څيهـرې ولا پيژنـدل سـوې انجلـۍ سـره واده وکـي چـي سـبا بيـا دی د نـورو ومختـه پـه وويـاړي خـو پـه سـاده او کـوم خـاص مقـام نـه لرونکـي ميرمنـي بيـا شـرميږي زه تاتـه دا نـه وايـم چـي د ځانـه فلمـي سـتورې جـوړه کـړه يـا ټيکټـاکره سـه د ښـتنې ټـولنې سـره سـم دا خـو کـولای سـې درتـه اجـازه ده چـي يـو ښـه ډاکټـره يـا ليکوالـه يـا تجـاره يـا داسـي بـل څـه د ځانـه

ketabton.com - The Digital Library

جوړه کړې بیابه وګورې مرکې او ریښتې به په کتار کې درته ودریږي ارزښت به پیدا کړي اوس تا خپله خپل ارزښت د لاسه ورکړیدی که نه ستا پخیر پرهیزګاره انجلۍ به بلـه نه وي خو که ددې پرهیزګارۍ سره سره یو بل څه هم د ځانه جوړه کړې نو بیابه وګورې چې د ریښتو ولا به دربانديي جنګ سي.

حسینې وویل: اوس وخت تیر دی غټه مینا خبرې نسي زده کولای.

اُمید وویل: افف خدایه یو خو دا متل ډیر خلک خراب او د پرمختګه راوګرځول نه پوهیږم موږ ښتانه ولې د شاتګ لپاره بهانې او متلونه لټوو ولې د پرمختګ لپاره ځانته مثبتې نظریې او تشویق نه ورکوو ما لیسانس په امریکا کې کړیدی ما چې د هغو سره نږدي ژوند وکړ نو هیڅکله مې د هغو څخه د ځان په اړه منفي فکر ونه لیدی هر یوه به د ځان په اړه مثبت فکر کاوه هغوی یو متل هم لري چې پښتو معنا یې ده "چې هر څه ممکین دي کولای یې سې خو که ته په ځان باور ولرې" نو ته هم ځانته تشویق ورکړه پر ځان باور ولره بیابه ووینې چې څنګه یې نسې کولای انسان ته خپلې وړتیاوي هغه وخت معلومیږي چې کله میدان ته داخل سي چې کله د یو څه کولو نیت وکړي.

حسینې بیا وویل: هغوی خاریجان دي او موږ موږ یو زموږ او د هغو ډیر فرق دی.

اُمید په حیرانتیا وویل: ولې هغه دوه دماغه،څلور ښې، څلور سترګې لري خو هغوی هم زموږ پخیر انسانان دي خو فکر یې صرف د ځان په

ketabton.com - The Digital Library

اړه مثبت دی تــه یــي کــولای ســې او یــوازي تــه نــه بلکــي هــره انجلــۍ یــي کولای سي چي صرف لږ کوښښ وکړي.

حسینې وویل: زه په ځان پوهیږم زه یي نسم کولای.

اُمیــد پــه غوســه وویــل: بــس نــو وای د خــوار دا یــا ژړا وي یــا ښــیرا انــو ورســه ځــان مــړ کــړه د هــره غمــه بــه خلاصــه ســې خــو دا ومنــه تــه بــه مــړه ســې د شــرمه او بــې عزتیــه بــه ځــان خــلاص کــړې خــو مــور، پــلار، ورونــه او خپلــوان بــه دي د ژونــد تــر پایــه د بــې عزتیــو، پیغــورو او شــرمیندګیو ســره بــه مــخ وي او ژونــد بــه ور ســره کــوي او کــه یــو څــه وکــړې ځــان یــو ځــای تــه ورســوې حوصــله وکړې نو هغوی به دربانديي وویاړي فیصله ته وکړه......

نعــیم اوداس وکــړ د ســهار د جماعــت لپــاره د مســجد پــه نیــت روان ســو کلــه چــي دروازې تــه ورســیدی ګــوري چــي دروازه خلاصــه ده خــو د نعــیم فکــر ورتــه ونــه ســو مســجد تــه ولاړی کلــه چــي جماعــت ودریــدی یــو رکعــت وســو پــه دوهــم رکعــت کــي یــي ذهــن تــه راغلــه چــي بیلــه مــا ماســیوا خــو ســهار دومــره وختــي بــل څــوک د کــوره نــه وځــي فکــر یــي خــراب ســو چــي دا دروازه بــه چــا خلاصــه کــړې وي؟ خیــر لمــونځ چــي وســو نــو پــه بېــړه کــور تــه ولاړی دروازې تــه یــي وکتــل داســي معلومیــدل هــم نــه چــي غــل دي خلاصــه کــړې وي هغــه چاتــه څــه ونــه ویــل پــه کــور کــي یــي شــاوخوا وکتــل هــر څــه پــر ځــای وه بیــا یــي خپــل پــه اطــاقو کــي وکتــل خــو څــوک نــه وه بیــا بــام تــه وختــی هلتــه چــي یــي وکتــل وریرېګــانې یــي بیــدې وې خــو حســینه هلتــه نــه وه. نعــیم ډیــر وارخطــا ســو بیــا پــه بېــړه لانــدي کښــته ســو د حســینې او خپــل پــه اطــاق کــي

ketabton.com - The Digital Library

يــي وكتــل خــو هلتــه هــم نــه وه بيــا يــي ميرمنــي تــه پــه حيرانتيــا وويــل: حســينه چيري ده؟

ميرمني يي وويل: پر بام به وي ولي خير دی؟

نعيم وويل: پر بام نسته او دروازه هم سهار چي زه وتلم خلاصه وه.

ددې پــه اوريــدو يــي د ميرمنــي بــدن پــه ريږديــدو ســو ډيــره وارخطــا ســول بيــا دواړه ولاړه ټــول كــور كــي يــي وكتــل خــو حســينه هــيڅ چيــري نــه وه د دواړو پــه فكــر كــي ډول ډول خبــرې راتلــې پــه ځــان نــه پوهيــدل حــواس يــي د لاســه وركــړې وه د نعــيم ميرمنــي ژړل او نعــيم پــه فكــرو كــي غــرق وو چــي لمــر راوختــی تــر نــيم ســاعت وروســته د كــور دروازه وټكيــدل د دروازې پــه ږغ ســره نعــيم او ميرمنــي يــي ټكــان وخــوړ ژر يــي د دروازې خواتــه وكتــل. نعــيم پــه بــې صــبری ســره د دروازې خواتــه ور وځغســتل خــو وې ليــدل چــي ورور يــي دده تــر مخــه دروازې تــه ور روان دی. نعــيم او ورور يــي دواړه يــو ځــای ور ووتــل كلــه چــي يــي دروازه خلاصــه كــړل گــوري چــي اُميــد ولاړ دی پــه موســكا يــي دواړو تــه ســلام ووايــه تــر روغبــړ وروســته اُميــد پــه موســكا وويل: په تاسو كي نعيم كاكا څوک دی؟

د نعيم ورور نعيم ته اشاره وكړه بيا يي وويل: دی دی ولي خير وو؟

اُميــد وويــل: هــو خيــر دی زه د هغــه مكتــب مســؤل يــم نــن د مكتــب لــومړی ورځ ده زه غــواړم د كلــي د مشــرانو ســره د مكتــب پــه اړونــد ووينــم او نظريات يي واخلم.

ketabton.com - The Digital Library

ددې په اوريدو د نعيم زړه بيا ناقراره سو چي بله موضوع ده د حسينې په اړه نه ده نو ځکه يې وويل: زه يو څه مصروفه يم زويه بيابه بله ورځ درسم.

اُميد د سترګو په اشاره نعيم پوه کړ ورته وې ويل: کاکا وايم ولاړ سئ راسره هيله کوم.

نعيم پوه سو چي يو موضوع ده تر څو شېبو وروسته يې وويل: سمده زويه زه به مي څادر راواخلم.

اُميد وويل: مننه کاکا زه درته انتظار يم.

تر څو شېبو وروسته نعيم په غمګين مخ د کوره راووتی د اُميد سره يو ځای سو او بيا د مکتب پر خوا روان سول پر لاري اُميد د نعيم مختته وکتل پوه سو چي نعيم خبر سويدی چي حسينه په کور کي نسته بيا يې په موسکا ورته وويل: کاکا بې غمه اوسه هر څه سم دي هيڅ خبره نه ده.

نعيم په درواغجنه موسکا او ريږديدلي ږغ وويل: يا يا کومه خبره نه ده زويه زه ښه يم.

کله چي مکتب ته ورسيدل اُميد وويل: کاکا دا زما مکتب دی دا مکتب مي ددې لپاره فعاله کړ چي ددې کلي کوچنيان داسي وروزم چي لويان سي د ستونزو سره مقابله وکولای سي پر کوچنيو کوچنيو ستونزو او د بې علمۍ په سبب بيا د ځان وزني هڅې ونکړي او لويان داسي وروزم چي خپل اولادونه د جهل په تاريکو کي ونه وساتي.

ketabton.com - The Digital Library

نعیم په حیرانتیا وویل: زه پوه نسوم زویه؟

اُمید د تیري شپې ټوله کیسه ورته وکړه د کیسې په اوریدو نعیم یو وار سخت حیران بیا پریشانه او چې د حسینې د ژغورل کیدو یې واوریدل خوشحاله سو تر کیسې او نصیحت وروسته اُمید وویل: کاکا زه غواړم چي حسینه دلته مکتب ووایي او د ځانه یو څه جوړه کړي.

نعیم چي د لور کیسې نرم کړی وو وویل: زویه دا کلی به څه وایي پر تا خو زه باور لرم خو ددې کلي د خلکو د پیغورو بیریږم.

اُمید وویل: کاکا ما ستاسو کلی درک کړیدی نو ځکه مي ښځینه استاذانې د ښځو لپاره مقرري کړیدي ښځې به درس ورکوي او بل دا چي کاکا د چا د پیغورو او خبرو پروا مکوه موږ ژوند د ځان لپاره کوو چي ځنګه مو خوښه وي هغسي ژوند کوو آزاد یو بل دا چي خبرې او پیغورونه هغه خلک وایي چي د یو څه سره نا اشنا وي کله چي دوی د تعلیم سره اشنا او ګټې ووینې نو بیابه دوی هیڅکله چاته پیغور ورنکړي.

نعیم وویل: ښه خبره ده زویه زه در سره موافق یم افرین دي پر مور او پلار سه چي داسي ښه روزنه یي درکړې ده.

اُمید په موسکا وویل: مننه کاکا.

نعیم وویل: حسینه چیري ده زویه؟

اُمید ساعت ته وکتل بیا یي وویل: کاکا اوس د هغې صنف شروع کیږي پر یولس بجو رخصتیږي او د یو ښه پلار په ډول به تاسو دا خپله مکتب

ketabton.com - The Digital Library

تــه راولــئ او هــم بــه يــې خپلــه بيايســت پــه داســي کړنــه بــه ځــوک دا جــرأت هــم ونــه کــولای ســي چــي د چــا د لــور يــا خــور خواتــه پــه بــد نظــر وګــوري او هــم بــه د خلکــو د پيغــورو ځــوک خــلاص وي دا بــه نــه وايــي چــي فلانکــي خپلــه لور يا خور يوازي پريښي وي مکتب ته ځي.

نعيم وويل: ښه خبره ده داغسي به وکړم.

کلــه چــي دواړو خــدای پــه امــانی کــوی نعــيم پــه زهيــره لهجــه وويــل: اغــه زويه کولای سم چي يو وار مي حسينه لور ووينم.

اُميــد پــه موســکا وويــل: هــو ولــي نــه کاکــا خــو هــو پــه کلکــين کــي ځکــه د هغــو درس شروع دی.

نعيم وويل: هو زويه د ليري يي وينم.

اُميــد نعــيم د حســينې د صــنف خواتــه ور وســتی نعــيم پــه کلکــين کــي ورتــه وکتــل حســينه يــي وليــدل تــر ځــو شــېبو يــي هغــې تــه کتــل تــر ســترګو يــي اوښــکې وبهيــدلې بيــا يــي اُميــد تــه وکتــل هغــه يــي پــه غيــږ کــي ونيــوی پــر تنــدې يــي ښــکُل کــړ بيــا ولاړی. کلــه چــي کــور تــه ورســيدی نــو ميرمنــي يــي پــه بــې صبرۍ د حسينې پوښتنه ځني وکړه نعيم ورته وويل: زموږ لور ښه ده.

ميرمني يي وويل: درواغ وايي راته ووايه چي څه په سويدي په هغې.

نعــيم ټولــه کيســه ورتــه وکــړه بيــا يــي د اُميــد سپارښــتنې هــم ورتــه وويلــې. ددې پــه اوريــدو يــي ميــرمن هــم خوشــحاله ســول بيــا نعــيم وويــل: ښــځې دا زمــوږ غلطــې وه مــوږ خپلــه لــور ډيــره پــه تيــارو کــي ســاتلې وه پــه دې بيــرې چــې خــدای نکــړه بــدلارې نســي ځکــه پښــتني او اســلامي ټولنــه مــو ده د لونــو او

ketabton.com - The Digital Library

خوینـدو عـزت راتـه هـر څـه دی ډیـر ارزښـت راتـه لـري خـو کـه داسـي وکـړو چـي کـه هـر څـوک خپلـه لـور او خـور تـر مکتبـه او پوهنتونـه خپلـه بـوځي او راولـي نـو د مـدیر صـاحب خبـره بیابـه هیڅـوک دا جـرأت ونلـري چـي لـور او خور مو را بدلارې کړي....

کلـه چـي یـوولس بجـې سـوې او کوچنیـان ټـول د مکتبـه راووتـل تـر څـو شـېبو وروسـته د انجونـو د رخصـتۍ وخـت سـو تـر څـو انجونـو راوتلـو وروسـته حسـینه هـم د مکتـب پـه حجـاب کـي راووتـل پـلار یـي ډیـر وختـي راغلـی وو د مکتـب مختـه ور تـه ناسـت وو حسـینې چـي کلـه هغـه ولیـدی نـو وبیریـدل بیـا نـږدې ورغلـه مختـه یـي ودریـدل د هغـې پـه لیـدو یـي پـلار ولاړ سـو هغـې تـه یـي وکتـل. حسـینې خپلـي سـترګې د پـلار د سـترګو کښـته کـړې تـر څـو شـېبو کتلـو وروسـته یـي پـلار پـه موسـکا پـر مـخ پـه مینـه کـرار ووهـل بیا یي وویل: درځه چي ځو کور ته زه تاته انتظار وم.

حسـینه ور سـره روانـه سـول پـلار یـي پـر لاري ورتـه وویـل: مـا تـل دا فکـر کـاوه چـي زمـا لـور مـا خپـل ښـه ملګـری ګڼـې خـو زه غلـط وم ځکـه زمـا لـور بیلـه دې چـي زمـا سـره خپـل غـم شـریک کـړي د ځـان وژنـي هڅـه یـي وکـړل دا فکـر دي هـم ونکـړ چـي تـر مـرګ وروسـته بـه دې د پـلار حالـت څنګـه وي.....

د خبـرو پـه جریـان کـي حسـینه د پـلار څنـګ تـه ور نـږدې سـوه د هغـه پـر اوږه یـي سـر کښېښـوی پـه ژړا یـي وویـل: مـا وبخښـه بابـا زمـا څخـه غلطـي وسول.

ketabton.com - The Digital Library

پلار یي پر سر د میني لاس ور کښېښوی بیا یي وویل: خیر کومه خبره نه ده اوس به هر څه په ګډه سره سم کړو خدای جل جلاله او مدیر صاحب هم زموږ سره دي.

کله چي کور ته ورسیدل ټول ډیر ورته حیران وه بیا یي د اکا لور د ځان سره وویل: دا پخه چیري تللې وه چي داسي په ستایل کي راغله کومه خبره خو ده.

د حسینې مور د هغې په راتلو ډیره خوشحاله سول تر روغبړ وروسته یي وویل: ورسه لوري اطاق ته دي ولاړه سه.

حسینه چي کله اطاق ته ولاړه نو د لمبیدو لپاره حمام ته ولاړه کله چي یي هلته په هنداره کي خپل مخ ته وکتل نو د خپلي کړنې او غمو په سبب په ژړا سول تر څه ژړا وروسته د اُمید یو خبره ور پیاد سول: حسینې اغلې دومره قوي اوسه چي غم د درتلو کوښښ ونکړي ژړا، ځان وژنه او د ژونده ګیلې کول دا هر څه کمزوري او بې غیرته انجونې کوي....

نعیم خپل میرمني ته وویل: ښځې فکر کوم مدیر صاحب ټوله ورځ په مکتب کي وي د هغه احسان دی پر موږ نو ښه خبره دا ده چي د سهار، غرمې او ماښام ډوډۍ موږ ور وړو.

میرمني یي وویل: ښه خبره ده.

اُمید په پخلنځی کي اشپزي کول چي د ودانۍ دروازه وټکیدل کله چي اُمید ورغلی نو نعیم یي ولیدی په موسکا یي ورته وویل: اوه کاکا تاسو؟

ketabton.com - The Digital Library

نعیم وویل: زه درتلای سم زویه؟

اُمید وویل: هو کاکا ولي نه.

نعـیم نـږدي ورغلـی پـه یـو بنـد لوښـي کـي یـي خـواړه ورتـه ونیـول بیـا یـي وویـل: زویـه تاسـو دلتـه ټولـه ورځ تیـروی او د مکتـب پـه کـارو بوخـت یاست نو خواړه ما درته راوړل.

اُمیـد وویـل: اوه کاکـا تاسـو ولـي تکلیـف کـوی زه همـدا اوس پـه پخلنځـی کي په اشپزی مصروف وم.

نعـیم وویـل: یـا زویـه سـتا پـر مـوږ بانـدي ډیـر لـوی احسـان دی او زمـوږ دا کـوچنی زحمـت چـي ستاسـو لپـاره یـي کـوو هـیڅ هـم نـه دی زمـا او د میرمنـي فیصـله پـر دې وسـول چـي نـور تـه د اشـپزیه خـلاص یـي سـتا خـواړه نـور پـر موږ دي.

اُمیـد پـه موسـکا وویـل: اول خـو کاکـا کـه تـا بیـا د احسـان خبـره وکـړه نـو بیـا زه هیڅکلـه خبـرې نـه در سـره کـوم او بـل دا چـي دا خـواړه چـي تاسـو راوړیـدي زه پـه یـوه شـرط در څخـه قبلـوم چـي بیابـه تاسـو تکلیـف نکـوی که مي څه ته اړتیا کیدل زه بیله شرمیدلو درته وایم.

نعـیم ډیـر کوښـښ وکـړ چـي اُمیـد پـه دي راضـي کـړي خـو و یـي نسـوای کـولای څکـه اُمیـد نـه غوښـتل چـي دوی پـه تکلیـف سـي او د یـو لـږ همکـاری او کمـک بدلـه څنـي واخلـي. کلـه چـي د تهجـد د لمانځـه وخـت سـو حسـینه د تهجـد لمـونځ تـه ولاړه سـوه د عـادت سـره سـم چـي یـي د سـهار لمـونځ وکـړ نـو تـلاوت تـه کښېنسـتل کلـه چـي یـي تـلاوت خـلاص کـړ نـو دعـا تـه یـي لاسـونه پورتـه کـړل تـر څـو شـېبو وروسـته حسـینې تـه الهـام

ketabton.com - The Digital Library

وسو چې اُمید هغې ته گوري کله چې یې سترگې خلاصې کړې او د مکتب خواته یې وکتل نو ربنتیا هم اُمید هغې ته په موسکا کتل. حسینه هم موسکۍ سوه بیا اُمید ورته په اشاره وویل چې ما هم دعا کي یاد کړه حسینې هم سر ورته وښوروی چې سمه ده ولې نه بیا یې اُمید ته ډیري دعاوي وکړې.

ورځې او شپې تیریدې نعیم به هر سهار حسینه تر مکتبه رسول او بیرته به یې غرمه مهال کور ته راوستل حسینه په خپلو درسو کې ډیره لایقه وه په لږ وخت کې یې ډیر څه زده کړل د هغې سره به د اکا لور هم تلل یوه ورځ اُمید حسینې ته وویل: حسینې اوس کرار کرار د ځانه د یو څه جوړولو کوښښ هم کوه ځکه اوس دي لیک او لوست ښه زده سویدي خو یوازي لیک او لوست گټه نکوي.

حسینې وویل: نو زه خو تر اوسه د مکتبه لا نه یم فارغه سوې نو څه به وکړم؟

اُمید وویل: چې کوښښ وکړې او ارتقاء ورکړې ژر به فارغه سې تر څو چې فارغه کیږې د درس په جریان کې لیکوالي هم ور سره شروع کړه یو ښه لیکواله د ځانه جوړه کړه.

حسینې په حیرانتیا وویل: لیکوالي او زه؟

اُمید وویل: نو ولې ته په ځان باور نلري چې لیکوالي نسې کولای تا خو ویل زه زده کړې هم نسم کولای اوس وگوره تر ټولو لوړي نمرې ستا دي زه هم نه درته وایم چې په اول وار ته د ادم خان او دُرخانۍ کیسه ولیکه په شروع کې اول وار یو څو لنډې لنډې کیسې ولیکه مثال:

ketabton.com - The Digital Library

دوه ملگـــري وه دواړه ډيـــر ســـره گـــران وه هغـــوی يـــو ورځ ځنگلـــه تـــه ولاړه هلتـه تـر يـو درختـې لانـدي بيـده سـول چـي پـه دا وخـت کـي يـو زمـری پـر راغلـــی يـــو ملگـــری چـــي وينښ وو ژر د درختـــې ســـر تـــه وختـــی هغـــه بـــل ملگـری يـي پرينښـوی، کلـه چـي زمـری بيـده کـس تـه نـږدي سـو نـو هغـه هـم د خوبـه راکښينسـتی، زمـری يـي وليـدی خـو ځـان يـي پـر مـړه واچـوی، ځکـه ده اوريـدلي وه چـي زمـری مـړ انسـان او حيـوان نـه خـوري زمـری تـر څـو شـېبو هلتـه ولاړ وو بيـا د زمـري پـه فکـر مـړ شـخص تـه نـږدي سـو يـو بږغ يـي وکـړ بيـا ولاړی، د زمـري پـه تلـو درختـي تـه ختلـی کـس راکښـته سـو خپـل ملگـري تـه يـي د مسـخرو پـه ډول وويـل چـي پـه پـای کـي زمـري سـتا پـه غـوږ کـي يـو څـه وويـل دا يـي څـه درتـه وويـل؟ ملگـري يـي ورتـه وويـل چـي زمـري ويـل چـي نـور ددې بـې ننگـه ملگـري ملگرتيـا پريـږده دوسـت هغـه دی چـي پـه سخته کي پکار سي .... داسي يو کيسه وليکه.

حسينې وويل: سمده کوښښ به يي وکړم.

اُميـد ورتـه وويـل: او هـو کلـه چـي کيسـه ليکـې نـو يـو ارام ځـای يـوازي کښينه بيا يي ليکه ځکه په ارام ځای کي ښه فکر او الهام کولای سې.

ماښـام چـي کلـه حسـينه د کـور د کـارونو څخـه فارغـه سـوه خپـل اطـاق تـه ولاړه دروازه يـي بنـده کـړل قلـم او کتابچـه يـي واخيسـتل د کيسـې ليکلـو تـه کښېنسـتل قلـم يـې پـلاس کـي کتـابچې تـه نيـولی دی انتظـار ده د کيسـې الهـام نـه ورتـه کيـږي تـر ډيـر فکـر کولـو وروسـته يـي قلـم پـر کتابچـه کـش کـړ څـو جملـې يـي وليکلـې بيـا ناوختـه يـي کتابچـه بنـده کـړه څـراغ يـي بنـد کـړ بيـا بيـده سـول کلـه چـي سـهار مکتـب تـه ولاړه  تـر درس ويلـو وروسـته اُميـد د

ketabton.com - The Digital Library

کیسې لیکلو پوښتنه ځنې وکړه چې ودي لیکل؟ حسینې په سر اشاره ورته وکړل چې هو. بیا اُمید کتابچه ځنې واخیستل خلاصه یې کړل کله چې یې اوله صفحه وویل بیا یې وویل: دا خو دي هغه زما د پرونـد کیسه لیکلې ده هغه دي هم سرچپه لیکلې ده.

حسینه موسکۍ سوه بیا یې وویل: ما یې کوښښ وکړ خو سخته وه نه مي سوای لیکلای.

اُمید وویل: گوره زما د تمبلیه او لټیه سخت بد کیږي لټې به نکوې سبا ته یې حتماً درځخه غواړم.

حسینې وویل: سمده.

کله چې مکتب رخصت سو نو د حسینې د اکا لور چې کله حسینه د اُمید سره په خبرو او موسکا ولیدل نو په حسد او عناد سره یې د ځان سره وویل: دا پخه نن سبا د مدیر سره بیخي ډیره پورته کښته کیږي دا چي وایي میړه به یې کړم.

کله چې ماښام سو او حسینه د کور د کارونو فارغه سول نو بیا یې قلم او کتابچه راواخیستل د کیسې لیکلو په نیت کښېنستل خو بیا یې کومه کیسه ذهن ته نه ورتله تر څو شپېو وروسته یې سر پر بالښت کښېښوی په تصور کې یې اُمید راوستی د هغه خبرې د هغه کارونه د کوچنیانو سره د اُمید مینه دې ته نصیحتونه ...بیا د ځان سره موسکۍ سوه قلم یې واخیستی په لیکنه یې پیل وکړ....

سبا ته حسینه اداري ته ورغله کتابچه یې اُمید ته کښېښوول. هغه چې کتابچه ځني واخیسته بیا یې وویل: ښه ښه کیسه دي ولیکل؟

ketabton.com - The Digital Library

حسينې وويل: هو.

اُميد چې کله کتابچه خلاصه کړه او د پروند ورقه يې واړول نو په کيسې ويلو يې شروع وکړه چې د کيسې نوم يې (اُميد) ورکړی وو. اُميد ددې په ليدو حيران سو حسينې ته يې وکتل بيا يې د کيسې په ويلو شروع وکړه: زه د يو ساده کلي اوسيدونکې وم د ژوند د ډيرو نعمتونو او اسانتياوو محرومه وم د ژوند لوی مقصد مې صرف دا وو چې مرکه راته وسي زه واده سم د خلکو د پيغورو ځان خلاص کړم د ژوند انتخاب خو ليري خبره د هره رکم او هر ډول انسان مرکو راتلو ته مې سترګې ختلي وې خو د هغو درک به هم نه وو خو بيا چې به هم کومه مرکه راغله نو زما د اکا لونې به يې خوښې سوې ما به يې صرف پيغورونه اوريدل چې دا پخه ده، زما تر زوی مشره ده دا ده و ها ده زه د ژوندده ډيره سترې سوم بيا مې يو ورځ وغوښتل چې دا هر څه ته د پای ټکی کښيږدم نو ځکه مې نيت وکړ چې ځان ووژنم چې په همدې خاطر د کوره ووتم او ځان مې ښاه ته ور واچاوه تر څو مړه سم خو په دا وخت کې ناڅاپه مې يو چا لاس ونيوی او زه يې د اوبو سر ته را پورته کړم .......... لکه څنګه چې د هغه نوم اُميد دی همداسې يې ماته د ژوند اُميدونه هم راکړل زما ژوند ته هيلې پيدا سوې اوس زه ژوند کول غواړم.

کيسه همدومره وه نيمګړې پاته وه بيا اُميد کتابچه بنده کړل په حيرانتيا يې د حسينې خواته وکتل بيا يې وويل: دا تا وليکل؟

حسينې وويل: هو نو چا ليکلې ده؟

ketabton.com - The Digital Library

اُمیــد وویــل: بــاور مــي نــه کیــږي چــي دومــره پــه زړه پــوري کیســه دې تــا لیکلې وي هغه هم د لیکوالۍ په اولو ورځو کي.

حســینې وویــل: تــا پرونــد ماتــه پیغــور راکــړ چــي لټــه یــي نــو ځکــه مــي ضــد ونیــوی چــي تــر څــو مــي کیســه نــه وي لیکلــې نــه بیــدیږم دا وو چــي تــر ډیــرو کوښښو وروسته مي دا کیسه ولیکل څنګه وه سمه وه؟

اُمیــد وویــل: بیخــي ډیــره ســمه وه هــیڅ بــاور مــي نکیــږي چــي دا دي تــا لیکلــې وي مــا تاتــه ویلــي وه چــي انســان تــه خپلــي وړتیــاوي هغــه وخــت معلــومیږي چــي کلــه هغــه میــدان تــه ور داخــل ســي کــه ستاســو شخصــیت او کــورنۍ تــه تــاوان نــه وای او کیســه دي پــوره وای نــو تــه بــاور وکــړه چــي مــا بــه د کتــاب پــه شــکل چــاپ کــړې وای ډیــر زیــات مینــوال بــه یــي پیــدا کــړي وای.

حســینې وویــل: زه بــه یــي پــوره کــړم خــو کــه تاســو کــولای ســی نــو چــاپ یــي هــم کــړی هــیڅ خبــره نــه ده ښــه دی زمــا پخیــر پــه تیــارو کــي د بنــدو خوینــدو لپــاره بــه عبــرت او تشــویق ســي د هغــو بــه هــم ژونــد تــه زمــا پخیــر اُمیدونــه پیــدا ســي تــا خــو زه وژغــورلم خــو شــاید د هــرې حســینې د ژغورلــو لپــاره اُمیــد نــه وي موجود دا کتاب به د هغو د ژغورلو سبب سي.

اُمیــد وویــل: ســمده خــو د کیســې ښــې تــه یــو څــه تغیــر ورکــړه ځکــه نغــواړم ستاسو شخصیت او عزت ته تاوان ورسیږي.

حســینې ور ســره ومنــل کیســه یــي څــه تغیــر کــړل او د څــو اوونیــو پــه جریــان کــي یــي ټولــه پــوره هــم کــړل اُمیــد هــم پــه امــلاء او ګرامــر کــي کمــک ور ســره کــاوه. کلــه چــي کیســه پــوره او کتــاب تــه امــاده ســول نــو دا موضــوع اُمیــد د

ketabton.com - The Digital Library

حسینې د پلار سره هم شریکه کړل هغه ورته خوښي وښودل او اجازه یي ورته ورکړه چي چاپ او خپور سي.

اُمید خپل ورور ته تلیفون وکړ تر روغبړ وروسته یي وویل: لالا ما درته یو کتاب استولی دی هغه چاپځای ته ورکړه چي ښایسته یي ډیزاین او بیا چاپ کړي.

ورور یي وویل: سمده.

د اُمید ورور کتاب د چاپ د پاره چاپځای ته ورکړ او د یو څو ورځو په جریان کي ناول چاپ سو لومړی کاپي یي اُمید ته ور ورسیدل هغه د کتاب په لیدو ډیر خوشحاله سو کله چي حسینه د صنفه راووتل نو اُمید کتاب شاته نیولی وو کله چي حسینې ته نږدي سو نو کتاب یي د حسینې مختِه ونیوی کله چي حسینې ورته وکتل د کتاب نوم یي ووایه نو په حیرانتیا او موسکا یي وویل: چاپ سو!؟

اُمید وویل: هو نن په بازار کي خپور سو.

حسینې وویل: ډیر ښه دا زه واخلم در سره؟

اُمید وویل: هو ولي نه.

کله چي حسینه دباندي ووتل نو پلار ته یي په موسکا او خوشحالی وویل: بابا زما کتاب چاپ سو.

پلار یي هم ددې په اوریدو ډیر خوشحاله سو کله چي کورته ولاړه نو په لوړ اواز یي مور ته وویل: مور زما کتاب چاپ سو.

ketabton.com - The Digital Library

ددې پـه اوريـدو يـې مـور هـم ډيـر خوشـحاله سـول د اکـا لـور يـې خپـل خـور ته وويل: دا پخه ولې داسې خوشحاله ده د څه شي کتاب چاپ سو؟

هغــې وويــل: نــه پــوهيږم دا څــو ورځــې د مــدير سـره نــږدې نـږدې گرځيــدل چې څه موضوع وه.

کلـه چـې حسـينې خپـل خوښـې د مـور سـره شـريکې کـړې بيـا يـې کتـاب پـر ميــز کنښېښــوی دا ولاړه حمـام کولــو تــه. د اکـا لـونې يـې پـه پټـه اطـاق تـه ور ننـوتې پـر ميـز پـروت کتـاب يـې راواخيسـتی وې وايـه کلـه چـې يـې وکتـی نـو ډيــرې حيرانــې ســوې ځکــه پــر کتــاب ليکلــې وه چــې ليکوالــه حســينه دواړو کتــاب ژر ژر وکتــی کيســه يــې څــه ناڅــه وويــل بيــا يــې کتــاب کنښېښــوی او د اطاقـه ووتلـې. بيـا يـې پـه خپـل اطـاق کـې مجلـس پـر جـوړ کـړ يـوې وويـل: ددې پخې بخت لکه چې راکنښېنستی.

بلې وويل: دا ټول هغه مدير دی دا هر څه هغه وکړل.......

کتــاب پــه بــازار کــې ډيــر خپــور ســو ډيــرو خلکــو او انجونــو واخيســتی تــر داســې حــده چــې پــه يــوه اوونــی کــې ټــول چــاپ پــه بــازار کــې خــرڅ ســو خــو نــوره بــه يــې هــم غوښــتنه کيــدل بيـا يــو ورځ اُميــد تــه تليفـون راغلـی کلـه چـې اُميد وليدی نو ورور يې وو تليفون يې اوکې کړ وې ويل: ها لالا؟

ورور يې تر روغبړ وروسته وويل: اُميده په دا کتاب خو دې ليونی کړم.

اُميد په موسکا وويل: ولې لالا څه خبره ده؟

ورور يـې وويـل: پــه بـازار کــې ټــول خــرڅ ســويدی اوس چاپخــای ولا وايــې چــې تاســو اجــازه راکــړی چــې زه نــور چــاپ کــړم او تــر څنــگ يــې د کتــاب

ketabton.com - The Digital Library

گټــل ســوي پيســـې هــم را اســتولې وې چــي مــا د خــدمتګار پــه لاس مکتــب تــه در ولیږلې ته خو هغسي دلته نه راځې.

اُميــد وويــل: مصــروف يــم لالا او دلتــه مــي د کوچنيــانو ســره وخــت ډيــر ښــه تيريږي او لالا اجازه ورکړه کتاب ته چي هر څومره چاپوي.

ورور يـــي وويـــل: ســـمده پـــر ځـــان دي پـــام کـــوه او ګـــوره درمـــل دي خـــوره ليونيه.

اُميد وويل: خورم يي لالا.

ورور يي وويل: انو ښه وخت الله دي مل سه.

کلــه چــي مکتــب رخصــت ســو حســينه او پــلار يــي روان ســول نــو اُميــد د شــا د خوا بږغ پسي وکړ وې ويل: کاکا؟

کلــه چــي د حســينې پــلار ورتــه وکتــل نــو اُميــد ورتــه وويــل: تاســو او حســينه مي دواړه پکار ياست د يو څو شيبو د پاره.

کلـــه چـــي حســـينه او پـــلار يـــي ور ســـره ولاړل نـــو اُميـــد پـــه اداره کـــي ورتـــه وويل: کاکا زه ستاسو دواړو د پاره يو زيرى لرم.

د حسينې پلار وويل: څنګه زيرى زويه؟

اُميد وويل: تاسو يو لږ صبر وکړئ چي موټروان راورسيږي.

تـــر څـــو شـــيبو وروســـته مـــوټروان راورســـيدی. مـــوټروان د ورتلـــو اجـــازه وغوښتل اُميد اجازه ورکړه بيا يي ورته وويل: را و دي رسولې.

خدمتګار د اُميد مخته يو کڅوړه کښېښول بيا يي وويل: هو صاحبه.

ketabton.com - The Digital Library

اُمید یو څه پیسې ورکړې بیا یې ورته وویل: تاته نوره اجازه ده.

اُمید د کڅوړې څخه خپل ټولې پیسې راوکښلې د حسینې د پلار مخته یې کښېښولې. حسینه او پلار یې ډیر حیران سول بیا د حسینې پلار وویل: دا څه دي زویه؟

اُمید وویل: کاکا دا هغه پیسې دي چې د حسینې کتاب وګټلې.

حسینې او پلار یې دواړو په حیرانتیا وویل: څه؟

اُمید وویل: هو کاکا دا هغه پیسې دي چې د حسینې کتاب ګټلې دي او د دوهم وار چاپ غوښتنه یې هم کړیده ځکه په بازار کې یې لومړی چاپ خرڅ سویدی په دوهم چاپ سره به تر دې ډیري پیسې وګټې ان شاءالله.

حسینه او پلار یې ډیر خوشحاله سول بیا د حسینې پلار وویل: یا زویه دا ستاسو حق کیږي دا تاسو واخلی، ستاسو له برکته خو دا هر څه وسول او کیږي.

اُمید وویل: کاکا زه پیسو ته هیڅ ضرورت نلرم دا ستاسو پیسې دي تاسو به یې اخلئ!

د حسینې پلار وویل: ته خو ټوله ورځ دلته یې بل کاروبار به هم نکوې نو ځکه دي پیسو ته ضرورت کیږي که ټولي نه وي یو څه خو به حتماً اخلې.

حسینې اُمید ته وویل: بابا ښه وایي دا ټولي ستا حق کیږي که ټولي نه اخلې نو د ضرورت په اندازه دي یې څني واخله.

ketabton.com - The Digital Library

اُمید په موسکا وویل: بابا زه دا مکتب ته د شوقه راځم د کوچنیانو سره مې طبعیت ښه او خوشحاله وي روحي سکون ور سره کوم زه پیسو ته ضرورت نلرم.

د حسینې پلار وویل: کورنۍ خو به دي ضرورت ورته لري د هغو د پاره یي واخله.

اُمید ورته وویل: سردار خان پیژنې کاکا؟

د حسینې پلار وویل: هغه ښار کي چي لویې لویې فابریکې لري؟

اُمید وویل: هو.

نعیم وویل: هو پیژنم یي ولي؟

اُمید وویل: هغه زما پلار دی.

نعیم وویل: څه؟ ته د سردار خان زوی یي؟

اُمید وویل: هو هغه زما پلار دی.

نعیم وویل: د هغه زوی او د ښاره لیري په دا ساده کلي کي؟ باور مې نکیږي.

اُمید په موسکا ورته وویل: ولي کاکا موږ نو څه د آسمان ملایکې خو نه یو.

نعیم وویل: اوس پوه سوم چي الله تعالٰی دا هر څه ستاسو د مهربانۍ په سبب درکړیدي همداسي یي ښایسته زړونه هم درکړیدي تل کامیاب اوسې زویه.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې نوی ناول چاپ سو هغه هم په بازار کې ډېر ژر خرخ سو په زيات خرڅلاو سره د حسينې ناول ډېر مشهوره سو او ډېره ګټه يي هم وکړه بيا چې کله اُميد ته د ناول د دريم چاپ وويل سول نو اُميد وويل: يا نور بس دی نور بايد انلاين خپور سي تر څو تر ټولو هيوادوالو ته ورسيږي.

دده د سپارښتنې مطابق ناول انلاين خپور سو چې په زياته اندازه ليدونکي يې پيدا کړل بيا يوه ورځ اُميد ته تليفون راغلی کله چې اُميد اوکې کړ نو تر څه خبرو وروسته يې وويل: سمده تاسو کولای سی چې راسی زه به درته خپل موقعيت واستوم يا به مو زما ورور چې راورسيدلاست تر موږ پوري راولي.

اُميد تليفون بند کړ بيا يې حسينه او د هغې پلار راوغوښتل ورته وې ويل: د مرکز څخه د کتاب د غوره کولو د کميټې مشر راځي د حسينې سره وينې چې په هغه وخت کې به کاکا تاسو هم د حسينې سره ياست.

نعيم وويل: زه؟

اُميد وويل: هو کاکا ځکه زما مصروفيتونه زيات دي نو ځکه به تاسو د حسينې سره ياست.

دوې ورځې وروسته د مرکز څخه د کتاب د غوره کولو د کميټې مشر راغلی کله چې هغه د موټره راکښته سو نو يو کم سينه ځوان وو. اُميد د هغه لپاره خدمتګاران مقرر کړي وه او هغه ته يې خپله ښه راغلاست ووايه او ښه ميلمه پالنه يې وکړه بيا تر څو شېبو وروسته حسينه او پلار

يــي راغلــل تــر روغبــړ وروســته اُميــد وويــل: تاســو خپــل مجلــس وکــړئ زه ځــم په اداره کې مي څه کارونه دي.

دوی د مکتــب پــه پــارک کــي مجلــس ســره کــاوه اُميــد اداري تــه ولاړی خــو مجلــس يــي د اداري څخــه ننــداره کــاوه. د کميټــې مشــر حســينې تــه وويــل: زه چــي کلــه د اُميــد صــاحب د خــولې خبــر ســوم چــي تاســو موبايــل نلــری نــو تاســو تــه مــو پــه تحفــه کــي يــو موبايــل راوړ بــده يــي مــه گڼــی ددې لپــاره چــي مــوږ ستاســو کتــاب تــر نظــارت لانــدي نيــولی دی او د څــو نــورو کتــابونو ســره مــو د کــال لپــاره د غــوره کتــاب پــه ســيالۍ کــي انتخــاب کړيــدی چــي بيــا مــوږ معلومــات درکــړو يــا کــومي پوښــتنې يــا معلومــات چــي زمــوږ د کميټــې لخــوا کيږي چي بيا هغو ته اساني وي چي ستاسو سره تماس ونيسي.

کلــه چــي د کميټــې مشــر حســينې تــه تليفــون ورکــړ نــو اُميــد پــه حيرانتيــا هغــو تــه کتــل. حســينې چــي کلــه تليفــون د کميټــې د مشــر څخــه واخيســتی نــو د اُميــد خواتــه يــي وکتــل وې ليــدل چــي اُميــد دې تــه گــوري او يــو څــه پريشــانه غونــدي ورتــه ښــکاره ســو. اُميــد چــي هــم وليــدل چــي حســينه ورتــه گــوري نــو يــي مــخ واړوی پــه کمپيــوټر مصــروفه ســو. بيــا تــر څــو شــېبو مجلــس وروســته د کميټــې مشــر ولاړ ســو او د تلــو نيــت يــي وکــړ اُميــد هغــه تــه ور ووتــی هغــه ورڅخــه خــدای پــه امــانی اخيســتی اُميــد ورتــه د پاتــه کيــدو وويــل خــو هغــه د تلــو ټينگــار کــاوه بيــا اُميــد ورتــه اجــازه ورکــړه او مخــه ښــه يــي ور ســره وکــړه بيــا يــي د حســينې د پــلار او هغــې ســره هــم مخــه ښــه وکــړه هغــوی ولاړل او اُميــد بيرتــه مکتــب تــه راغلــی کلــه چــي يــي د مجلــس ځــای تــه وکتــل نــو وې ليــدل هغــه تليفــون چــي د کميټــې مشــر حســينې تــه ورکــړی وو پــر ميــز پــروت وو اُميــد حيــران ســو خــو بيــا پــوه ســو چــي حســينې پــه دا ســبب تليفــون پريښــی

ketabton.com - The Digital Library

دی چې ما ورته څه بل ډول وکتل اُمید د ځان سره موسکی سو تلیفون یي واخیستی، اداري ته یي یوړ.

د زده کړو په کولو، د کتاب په مشهوره کیدو او د هغه د زیات خرڅلاو په سبب د حسیني ټول دوستان خبر سول د هغو کور ته به تله راتله او د حسیني صفتونه به یې کول چې دا هر څه یي د اکا لوښو ته یو سرخوږی وو او دا هر څه یي نسواي ځغملای خو حسیني د هغو هیڅ پروا نکول تمرکز به یي پر درسو او ځان جوړونه وو هغې نور هم څو کیسې او ناولونه ولیکل چې هغه یي هم زیات مشهوره سول په راډیوګانو کي به نشریدل او خبرې به پر کیدلې. یو ورځ اُمید د هغې پلار ته وویل: کاکا اوس دا دی موټر هم لرې نو نوره حسینه شخصي پوهنتون ته بیایه دلته به استاذي هم را سره کوي مکتب کي او د ماپښین له طرفه دي پوهنتون ته ځي زه به د هغې نوملیکنه وکړم په یو څو ورځو کي یي امتحانونه دي چي کامیابه سول بیابه یي تاسو بیایست او بیرته به یي راولې، خدمتګاران سته چي دا بوځي او رایي ولي خو تر هغو تاسو بهتره یاست چي دا کار وکړی.

د حسیني د پلار ور سره خوښه سول او وعده یي وکړل چي همداسي به کوي بیا تر څو ورځو وروسته حسیني امتحان ورکړ او په ښو نمرو د اقتصاد پوهنځۍ ته کامیابه سول ټول ډیر خوشحاله وه او تر څو ورځو وروسته یي پوهنتون شروع کړ ښه درسونه یي زده کیدل په پوهنتون کي هم ډیره مشهوره سول او د لیکوالي په نامه به ور ږغ کیدل.

ketabton.com - The Digital Library

یــو ورځ د حســـینې یــوې د اکــا لــور پخپــل اطــاق کــې پــلان نیــوی چــې اُمیــد پــه خپلــه مینــه کـــې راښــکیل کــړي تــر څــو ددې پــه فکــر د حســـینې پــه ډول مشــهوره ســې نــو خــور تــه یــې وویــل: زه بــه ورتــه خــط ولــیکم بیابــه یــې یــو کــوچنې تــه ورکــړم چــې اُمیــد تــه یــې ور وړي او د مینــې د خبــرو تــر څنــګ بــه دا هــم ورتــه ولــیکم چــې ســتا د جــواب پــه تمــه یــم چــې هغــه کــوم عکــس العمل ښیي.

د دوی د خبـــرو پـــه جریـــان کـــې حســـینې د دوی خبـــرې واوریـــدې او غـــوږ یــې ورتــه ونیــوی کلــه چــې د هغــو موافقــه وســول او خــط یــې ورتــه ولیکــی نــو بــام تــه د پورتــه کیــدلو نیــت یــې وکــړ تــر څــو یــو کــوچنی پیــدا کــړي او دا خــط ورکـــړي خـــو کلـــه چـــې بـــام تـــه پورتـــه کیـــدلې نـــو حســـینې دواړې تـــر لاس ټینګــې ونیــولې لاســونه یــې شــاته ورتــه واړول بیــا یــې وویــل: پــام چــې داســې غلطــې ونکــړئ کــه نــه لاســونه بــه مــو در مــات کــړم بــس ده ډیــري خبــرې مــو ستاسو دا واوریدې نوره مې حوصله درته ختمه سول.

د اکـــا لوڼـــو یـــې زور ور ســـره کـــاوه خـــو حســـینې هغـــوی ټینګـــې نیـــولې وې د لاســه یــې خــط څنــې واخیســتی هغــوی یــې پریښــولې خــط یــې ور خیــرې کــړ هغــوی پــه غوســه ســوې بیــا هغــې وویــل چــا چــې خــط لیکلــی وو: ســتا یــې پــه څه پخې ستا ولې زړه دردیږي؟

حســـینې ورتـــه وویـــل: ځکـــه چـــې هغـــه یـــوازې زمـــا دی او زمـــا بـــه وي او د هغــه د لاســته راوړلــو د پــاره زه د ټــولې نــړۍ ســره جنګیــږم نــو تاســو د هــډوکو دوکان څه یاست.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې حسینې هغو ته د هډوکو په دوکان وویل نو هغوی په غوسه سوې غوښتل یې چې ور حمله کړي چې په دا وخت کې د هغوی پلار کور ته راغلی بیا دوی سره ارامې سوې یوې وویل: در سره گورو به.

حسینې وویل: ورځه ورځه د هډوکو دوکانه.

کله چې سباته حسینه مکتب ته ولاړه نو ادارې ته ورغله اُمید ته یې وویل: د دریم صنف معلمه نن نه ده راغلې زه به صنف ته ورسم که ستا خوښه وي زما صنف ته مي درس ورکړ؟

اُمید ورته وویل: هو هغې ماته زنګ راوهلی وو چې د څو ورځو د پاره نه درځم ویل یې چې کوزده یې ده ښه خبره ده ته ورسه او هو چې مکتب رخصت سو بیا یو وار راسره ووینه یو خبره درته کوم.

حسینې وویل: سمده.

کله چې حسینه د ادارې ووتل نو فکر یې کاوه چې اُمید به څه ورته وایې هغې ته خو به اظهار نکوي یا به وایې چې مرکه به درته واستوم ټوله ورځ یې په ذهن کې ډول ډول خبرې تلې راتلې ورځ وربانـدي ډیره اوږده سول اُمید یې د صنف تر مخ تیریدی چې ورته وې کتل نو حسینې پر دیوال سر لګولی وو او په فکرو کې غرقه وه اُمید تر څو شیبو ورته کتل بیا ولاړی. کله چې مکتب رخصت سو کوچنیان ووتل نو حسینه ادارې ته ورغله او ډیره یې تلوسه وه چې اُمید ورته ژر هغه خبره وکړي. حسینه چې کله اُمید ته نږدي ورغله اُمید درمل خوړل د حسینې په لیدو یې پر میز پراته درمل ژر تر میز لاندي کنښېښول بیا یې حسینې

ketabton.com - The Digital Library

تــه د کښېنســتو وويــل حســينه کښېنســته بيــا اُميــد ورتــه وويــل: حســينې هغــه ما يو خبره درته کول خو نه پوهيږم څنګه يې ووايم.

حســينه پــه زړه کــې خوشــحاله ســول او مطمئنــه ســوه چــې د اظهــار خبــره ده بيا يې وويل: ووايه چې څه خبره ده.

اُميــد زړه نــازړه وويــل: هغــه ماښــام هغــه د کتــابو د کميټــې مشــر زنــګ راوهلی وو تاته درکړی تليفون بند وو نو ځکه يې ماته دا خبره وکړه.

حســينه لکــه پــر اور چــې اوبــه واچــوې مايوســه ســوه ځکــه دې چــې د کــومې خبــرې توقــع درلــوده هغــه خبــره دا نــه ســوه بيــا يــې پــه بــې خونــده خولــه وويــل: ښه څه يې ويل.

اُميد وويل: د هغه ته خوښه سوې يې غواړي مرکه درته راواستوي.

ددې خبـــرې پـــه اوريـــدو د حســـينې ســـترګي د غوســـې غټـــې ســـوې د چوکيـــه ولاړه سوه په خپګان يې ويل: زه ځم پلار به مې انتظار وي.

اُميد هم د ځايه ولاړ سو وې ويل: څه وسوه؟

حسينې وويل: هيڅ نه دي سوي زه ځم.

کلــه چــې حســينه روانــه ســوه نــو اُميــد ورپســې ورغلــی ورتــه وې ويــل: حسينې ودريږه! ودريږه!

خــو حســينه روانــه وه چــې بيــا اُميــد تــر لاس ونيــول وې درول بيــا يــې ورتــه وويل: څه خبره ده وام؟

حســـينې خپـــل لاس پـــه غوســـه ځنـــې کـــش کـــړ بيـــا يـــې پـــه ژړا پـــه لـــوړ ږغ وويــل: زه د ډيــره وخــت پــه دې تمــه يــم چــې نــن بــه د واده راتــه وايــې ســبابه

ketabton.com - The Digital Library

راته وايي خو نن چي مي څه تمه پيدا سول چي راته وايې به هغه ته وايي چي د بل چا سره واده وکړه؟

اُميد په حيرانتيا وويل: څه؟

حسينې په ژړا وويل: زه ستا سره مينه کوم.

اُميد وويل: نو ما خو هيڅکله دا احساس نه دی درکړی چي زه دي مينه در سره کوم.

حسينې وويل: درواغ مه وايه هغه ورځ چي د کميټې مشر ماته تليفون را کاوه نو ماته وليدلې چي ډير په غوسه سوې هره ورځ زمونږ کور ته تلونکي او راتلونکي کسان شارې چي ماته مرکه خو به نه وي راغلې او اوس بيا وايي چي ما داسي احساس نه دی درکړی؟

اُميد وويل: ته ناسمه پوهه سوې يي ما داسي نه دي کړي.

حسينې وويل: رښتيا ستا د سترگو معلوميږي.

اُميد وويل: زه رښتيا وايم ما تاته هيڅکله د مينې د احساس درکولو لپاره څه نه دي کړي.

حسينې وويل: ښه؟ اوه رښتيا هم ما خو دا هير کړي وه چي زمونږ حيثيت تر تاسو کښته دی.

اُميد وويل: ولي داسي وايي آيا ما تاته کله داسي يو احساس درکړيدی چي زه تر تا په حيثيت کي لوړ يم؟

حسينې وويل: هو دا دی را دي کړ.

ketabton.com - The Digital Library

اُمیــد وویــل: حســینې داســي خبــره نــه ده تــه ډیــره ښــه انجلــۍ یــي خــو زمــا څخــه یــوه غلطــي دا ســویده چــي بایــد مــا اول تاتــه ویلــي وای چــي زمــا واده سویدی.

حسینې په حیرانتیا د اُمید خواته وکتل وې ویل: څه؟

اُمید وویل: هو زه ښځه لرم د واده مي تقریباً ۳ کاله کیږي.

حســینه څــه ارامــه ســول خــو زړه یــي ســخت مــات ســو تــر څــه خبــرو وروســته اُمیــد قناعــت ورکــړ بیــا حســینې د ســترګو څخــه اوښــکې پــاکي کــړې او د کــور پــر طــرف روانــه ســول د هغــې تــر تلــو څــو شــیبې وروســته د اُمیــد لاســونه او بــدن پــه ریږدیــدو ســوه پــه ډیــري ســختۍ یــي ځــان تــر خپــل میــزه پــوري ورســاوه او پــه ســخت حالــت کــي یــي خپــل درمــل راواخیســتل او ژر یــي وخــوړل. د هغــو پــه خوړلــو اُمیــد څــه ارام ســو ســر یــي پــر مځکــه کنبېښــوی بیــا هــم هلتــه پریــوتی تــر پریوتــو څــو شــیبې وروســته یــي تــر ســترګو اوښــکې رواني سوې....

ســباته چــي کلــه د مکتــب وخــت ســو نــو د حســینې پــلار د اطاقــه راووتــی ســاعت تــه یــي وکتــل ګــوري چــي ډیــر ناوختــه دی بیــا یــي د حســینې اطــاق تــه وکتــل چــي دروازه یــي بنــده وه بیــا نــږدي ورغلــی ور ږغ یــي کــړل: حســینې؟ حسینې؟

حســینه پــر کــټ پــه فکــرو کــي غرقــه پرتــه وه د پــلار تــر څــو نــارو وروســته یــي د هغــه ږغ واوریــدی ژر یــي د ســترګو اوښــکې پــاکي کــړې بیــا یــي وویــل: هــا بابا؟

پلار یي وویل: مکتب ته نه ځې ناوخته دی؟

ketabton.com - The Digital Library

حسينې وويل: يا نن نه ځم بابا څه ناڅه مي پر سر درد دي.

پلار يي وويل: خو راځه ډاکټر ته به دي بوځم.

حسينې وويل: يا بابا دوا مي وخوړل چي بيده سم سميږم ان شاءالله.

پلار يي وويل: اسمده لوري.

اُميد په مکتب کي حسينې ته انتظار وو سترګې يي د مکتب په دروازې لګولي وې چي حسينه به راسي خو ډير ناوخته سو لا هم د هغې درک معلوم نسو. اُميد ډير پريشانه و بيا يي د حسينې پلار ته تليفون وکړ کله چي هغه اوکې کړ تر روغبړ وروسته اُميد وويل: کاکا حسينه چيري ده مکتب ته نه ده راغلې ښه خو به وي؟

د حسينې پلار وويل: نه پوهيږم د اطاق دروازه يي بنده کړيده ويل يي پر سر مي درد دي نه يي ماښام خواړه خوړلي دي نه يي سهار څه خوړلي دي.

اُميد وويل: ډاکټر ته يي بوځه کاکا.

د حسينې پلار وويل: ورته ومي ويل چي راځه ډاکټر ته به دي بوځم ويل يي يا سميږم د کور دوا مي خوړلې ده.

کله چي د شپې د حسينې د تهجد او بيا د تلاوت وخت سو نو د هغه وخت مطابق حسينه د خپل اطاقه راووتل تر اوداسه وروسته يي پټ سر ديوال ته پورته کړ د مکتب خواته يي وکتل ګوري چي اُميد لوړه د اوبو د ټانکۍ سره ولاړ دی د دوی د کور طرف ته ګوري بيا کښيني بيا وګوري ډير بې صبره معلوميدی. حسينه د اُميد په دا کړنه فکر کي سوه

ketabton.com - The Digital Library

چې اُمید ولي ددې د لیدو لپاره داسي بې صبره دی تر څه فکر وروسته بیرته خپل لمانځه ته وګرځیده سهار بیا ناوخته وو خو حسینه لا هم د اطاقه نه وه راوتلې کله چې یې پلار اطاق ته ورغلی نو وې لیدل چې حسینه په فکرو کي غرقه پر کټ ناسته ده. پلار یې تر څنګ کښېنستی ورته وې ویل: نن بیا نه ځې مکتب ته؟

حسینې د پلاره مخ وګرځوی بیا یې وویل: زړه مي نغواړي بابا چې ولاړه سم.

پلار یې وویل: څه خبره ده لوري دا دوې ورځي کیږي ستا حالت راته سم نه معلومیږي.

حسینې وویل: هیڅ خبره نه ده بابا.

پلار یې وویل: لوري! زما څخه یې مه پټوه زه دي پلار هم یم او ښه ملګری دي هم یم.

حسینې وویل: یا بابا داسي کومه خبره نسته چې زه دي یې ستا څخه پټه کړم.

پلار یي سترګو ته وکتل بیا یي وویل: د اُمید سره مینه کوې؟

حسینې پزه کش کړه تر سترګو یې اوښکې وبهیدلې څه یې ونه ویل خو پلار یې پوه سو چې همدا خبره ده بیا یې ورته وویل: لوري شاید ته پر دا خبره خوابدې یې چې اُمید به ستا د مینې جواب نه وي درکړی یا به یې ستا مینه نه وي منلې خو لوري موږ باید د خپلې کمبلې سره پښې

ketabton.com - The Digital Library

وغځـــوو هغــه د ډېــري غټــې کــورنۍ څخــه دی او مــوږ د يـــو متوســـطي طبقـــې کورنيو څخه يو....

حســينه چــي تــر ســترگو يــي اوښــکې بهيــدلې وويــل: يــا بابــا هغــه خبــره نــه ده اُميد واده کړيدی نو ځکه يي ماته منفي جواب راکړ.

تــر څــه خبــرو وروســته د حســينې پــلار وويــل: لــوري نــو دا خــو پــه دې معنــا نــه چــي اُميــد واده کړيــدی نــو تــه ژونــد کــول پريــږدې دا خــو ســتا قســمت دی چـــي هغـــه دي نصـــيب کـــي نـــه ســـو دا خـــو غلطـــه خبـــره ده چـــي تـــه ددې موضــوع پــه ســبب مکتــب تــه نــه ځــې ولاړه ســه ځــان تيــار کــړه کوچنيــان بــه تاته په تمه وي اُميد هم شايد دا فکر کوي چي ته تر مطلبه ور سره وې.

حســينې ځــان تيــار کــړ بيــا تــر څــو شــېبو وروســته د مکتــب پــر خــوا دا او پــلار روان ســول کلــه چــي مکتــب تــه ورســيدل اُميــد پريشــانه پــه اداره کــي ناســت وو چـــي يـــو دم يـــي ســـترگې د مکتـــب پـــر دروازه ولگيـــدې چـــي حســـينه پـــر را ننوتــل د هغــې پــه ليــدو اُميــد ډيــر خوشــحاله ســو بيــا د هغــې راتلــو تــه پــه تمــه ســو کلــه چــي حســينه اداري تــه ولاړه نــو تــر ســوړ ســلام وروســته يــي نــور څــه ونــه ويــل د کوچنيــانو حاضــرې يــي واخيســتل صــنف تــه ولاړه. تــر څــو ســاعتو وروســـته تفـــريح ســـوه کوچنيـــان ټـــول دبانـــدي ووتـــل اُميـــد هـــم دبانـــدي د کوچنيــانو ســره ســاعتيری کــاوه د هغــو ســره يــي خنــدل گــين يــي ور ســره کــاوه حســينې ورتــه د صــنف څخــه پــه فکــرو کــي ډوبــه اُميــد تــه کتــل بيــا يــي مــخ ځنــي واړوی څــو شــيبې وروســته د اُميــد پــه ذهــن کــي حســينه راوگرځيــدل پــه همــدې خــاطر د هغــې د صــنف خواتــه ورغلــی تــر څــو پوښــتنه بانــدي وکــړي. کلــه چــي صــنف تــه ورغلــی نــو وې ليــدل چــي حســينه پــر چــوکۍ ناســته ده

ketabton.com - The Digital Library

سترګې یې کښته نیولي دي په فکرو کې غرقه ده. اُمید د صنف په دروازه کې ورته ودریدی بیا یې وویل: ستا مریضي څنګه ده کاکا ویل مریضه یې؟

حسینې تر څو شېبو وروسته وویل: اوس ښه یم.

اُمید وویل: که نه یې روغه سوې خو ډاکټر ته به دې بوځم.

حسینې وویل: یا مننه ښه یم اړتیا یې نسته.

حسینه څو ورځې همداسې خپه تله او راتله څکه کومي هیلې او اُمیدونه چې یې اُمید ته درلودل هغه ټول یې په اور کې ایره کیدل لیدل خو یوه ورځ چې کله حسینه پوهنتون ته تله نو د پوهنتون د وخت څه مخکې یې د مکتب مخته د اُمید د کمپنۍ یو موټروان ولیدی چې د څه کار لپاره مکتب ته راغلی وو حسینې خپل پلار ته وویل: بابا زه نن د موټروان سره ځم هغه د مکتب استاذانې تر ښاره رسوي زه هم ور سره ځم موټروان بیرته مکتب ته راځي نو تاته تکلیف دی چې راسره ځې.

پلار یې وویل: سمده لوري.

حسینې ځان اماده کړ بیا د تلو لپاره مکتب ته ولاړه کله چې هلته ورسیدل نو وې لیدل چې استاذانې اماده دي نور روانیږي حسینې اُمید ته وویل: بابا مریض دی زه به نن د موټروان سره ولاړه سم پوهنتون ته.

اُمید وویل: سمده ولاړه سه.

بیا اُمید موټروان ته وویل: حسینه تر پوهنتونه ورسوه بیرته یې تر کوره راوله.

ketabton.com - The Digital Library

موټروان وویل: سمده صاحبه.

کله چې ټولي استاذانې موټر ته وختلې او موټر روان سو نو تر څه مزل وروسته چې کله استاذانې د موټره کښته سوې نو حسینې موټروان ته وویل: وبخښه زما څخه موبایل کور کې پاته سو ته ستا تلیفون راکړه پلار ته مي تلیفون کوم یو څه مي پکار سو....

اُمید چې کله فارغه سو نو د حسینې د پلار د ناروغۍ پوښتنې ته ورغلی خو کله چې یې دروازه ور وټکول او د حسینې پلار راووتی نو اُمید پوښتنه ځنې وکړه: کاکا حسینې ویل چې مریض یې نو ما وغوښتل چې پوښتنه هم درباندي وکړم او ډاکټر ته مو هم بوځم.

د حسینې پلار حیران سو بیا یې وویل: څه حسینې وویل چې مریض یم؟

اُمید وویل: هو کاکا.

د حسینې پلار وویل: یا زویه زه خو سم یم هیڅ نه دي راسوي خو هغې ویل چې نن د موټروان سره ځم ته مه راسره ځه.

اُمید هم حیران سو چې حسینې ولې داسې وکړه بیا یې وویل: نو سمده کاکا ما فکر کوی چې مریض یاست نو ځکه راغلم د خدای شکر دی چې تاسو روغ او جوړ یاست نو زه به ولاړ سم مکتب ته.

د حسینې پلار وویل: خو راځه زویه چای راسره وڅښه بیا ولاړ سه.

اُمید وویل: یا کاکا مکتب کې مي کارونه زیات دي هغه باید وکړم.

ketabton.com - The Digital Library

بیا اُمید د حسینې د پلاره خدای په امانی واخیستی د مکتب پر طرف روان سو پر لاري یې هم دا فکرونه کول چې حسینې ولې ده ته درواغ وويل بیا یې یو دم د ځان سره وویل: اوه اوه اوه زما خدایه...!

اُمید ژر تلیفون د جیبه راوکښی او موټروان ته یې تلیفون وکړ تلیفون د حسینې په لاس کې وو زنګ یې ور بند کړی وو کله چې زنګ ورته راغلی نو حسینې نمبر ته وکتل موسکی سوه بیا یې همداسې پریښوی موټروان ته یې وویل: د اُمید صاحب کوچنیان به هم ته مکتب ته بیایې که څنګه؟

موټروان موسکی سو بیا یې وویل: د اُمید صاحب کوچنیان؟ اُمید صاحب خو واده نه دی کړی.

حسینه ددې خبرې په اوریدو سخته په غوسه سول په دا وخت کې د موټروان تلیفون ته بیا زنګ راغلی حسینې ورته وکتل خو بیا یې همداسې پریښوی خو تر څو شیبو وروسته یې اوکې کړ چې اُمید وویل: اوري احمده احمده؟

حسینې تلیفون موټروان ته ورکړ وې ویل: واخله تاته زنګ دی.

کله چې موټروان تلیفون ته وکتل نو وې لیدل چې اُمید پر لیکه دی بیا یې وویل: اورې صاحبه؟

اُمید په غوسه وویل: دا تلیفون دي ولي نه پورته کاوه؟

موټروان وویل: صاحبه هغه تلیفون د حسینې اغلې سره وو ویل یې چې زه پلار ته زنګ وهم.

ketabton.com - The Digital Library

اُمیــد پــه بیــړه وویــل: گــوره ماتــه غــوږ ونیســه کــه حســینې اغلــې زمــا د واده پــه اړه درته وویل ورته ووایه چي ده واده کړیدی سمده؟

موټروان په کمزورې لهجه وویل: صاحبه؟

اُمید وویل: څه؟

موټروان په هنداره کي حسینې ته وکتل بیا یي وویل: هغه خبره سول!

اُمید وویل: اوففف تاته چا وویل چي ورته ووایه.

حسینې موټروان ته په غوسه وویل: موټر بیرته د کور خواته در وگرځوه!

اُمیــد د حســینې دا خبــره واوریــدل مــوټروان بیرتــه د کــور خواتــه وگرځیــدی، خــو کلــه چــي مکتــب تــه ورســیدل حســینې غوښــتل چــي مکتــب تــه ورســي او د اُمیــد ســره خبــرې وکــړي خــو چــي هلتــه ولاړه وې لیــدل چــي اُمیــد د څــو کلیوالــو ســره پــه بانــډار مصــروفه دی نــو غوســه یــي ســره ســول تــر څــو شــېبو یــي هلتــه اُمیــد تــه پــه غوســه کتــل وروســته د کــور پــر طــرف روانــه ســول اُمیــد هغــې تــه وکتــل بیــا د ځــان ســره موســکی ســو بیــا دبانــدي مــوټروان تــه ور ووتــی ور تــه وې ویــل: بــې عقلــه تاتــه چــا وویــل چــي تــه زمــا د واده پــه اړه ورته ووایه؟

مــوټروان ورتــه ټولــه کیســه وکــړه بیــا اُمیــد پــه موســکا وویــل: هــو نــو اغلــې خــو لیکواله سول نو ځکه خو به بیداري او چلونه کوي.

ســبا ســهار چــي کلــه مکتــب شــروع ســو نــو اُمیــد پــه اداره کــي پــه کلکــین کــي د مکتــب دروازې تــه کتــل کلــه چــي حســینه پــر رانتوتــل نــو اُمیــد ژر ولاړ ســو د لمانځــه مســله یــي اواره کــړه پــر لمــونځ ودریــدی. حســینه اداري تــه پــه

ketabton.com - The Digital Library

غوسه نوتل چي اوس يي څه ويل خو هغه يي وليدل چي اُميد پر لمانځه ولاړ دی تر څو شېبو هلته انتظار وه بيا يي حاضرې واخيستل داسي کړنه يي وکړه چي د صنف پر خوا ولاړه خو په اداره کي دننه ودريدل دروازه يي د دننه خوا بنده کړل چي ګواکي زه نو ووتم. اُميد فکر وکړ چي حسينه د اداري ووتل نو ځکه يي اوږده ساه واخيستل زړه يي په ارامه سو خو کله چي ولاړ سو شاته يي وکتل نو حسينه يي وليدل په دې سره يي بدن وريږديدی او سخت يي د شرم احساس وکړ سترګې يي لاندي ونيولې.

حسينې تر څو شېبو هغه ته کتل بيا يي وويل: ما دا فکر کاوه چي ته د نورو هلکوانو جلا يي د يوې انجلۍ احساسات درته قدر لري خو تا دا ثابته کړه چي ټول هلکوان يو ډول ياست صرف دا ورته ارزښت لري چي د لوی خاندان او مقام ولا او د يوې لويې کورنۍ د انجلۍ سره واده وکړي.

اُميد وويل: هو يم نو څه دي وسي.

د اُميد په دا خبره حسينه سخته مايوسه سوه په حيرانتيا او مايوسۍ يي د هغه خواته کتل بيا اُميد په سپک ډول وويل: دوه درې ناولونه دي وليکل يو څه مشهوره سوې اوس ځان زموږ د کورنۍ سره برابروې ته پوهيږې چي زه څوک يم د يو لوی تجار زوی يم او ته د يو کوچنۍ کورنۍ او يو کوچني کلي اوسيدونکې.

ketabton.com - The Digital Library

حسینه د اُمید په دې خبرو نوره هم حیرانه او مایوسه سوه تر سترګو یې اوښکې وبهېدلې د اُمید څخه یې سخت نفرت وسو بیا یې په مایوسه ډول وویل: زما ستا څخه دا توقع نه وه.

اُمید وویل: اوښکې تویول او ګیلې کول د کمزور او کم غیرتو انجونو خاصیت دی او زه غواړم چې د یو داسې انجلۍ سره واده وکړم چې قوي وي، مغروره وي غیرتمنه وي تر ما په زده کړو، مقام، او لوی نوم او حیثیت کې لوړه وي چې سبا زه د ملګرو ومختته په وویاړم په تا خو زه شرمیږم.

حسینې په ژړا وویل: بس بس همدومره سپکاوی او پیغور بسنه کوي او مننه چې ماته دې زما حیثیت راوښوی ډېره مننه او ته هم زما یو خبره واوره زه به دا هر څه تر لاسه کړم ځان به ورته ورسوم وبه مې وینې چې تر تا په هر څه کې لوړه سم هغه وخت به بیا هیڅ اهمیت درنکړم ځکه ته د میرمنې سره نه بلکې د هغې د مقامه سره مینه کوې د هغې مقام غواړې هغه نه.

حسینې اوښکې پاکې کړې بیا د ادارې ووتل ولاړه. اُمید هغې ته تر شا کتل بیا یې په نرمه موسکا وویل: لیونۍ زه خو هم داغه غواړم چې ته تر ما په هر څه کي لوړه سې او تر ما د یو ښه هلک په نصیب سې.

بیا تر څو شیبو وروسته د اُمید تر سترګو اوښکې وبهېدې په ژړا یې وویل: زه کمبخته خو ستا سره د مینې او ژوند بخت نلرم چې و یې کړم ما وبخښه.

ketabton.com - The Digital Library

حسینه خپل په اطاق کې په فکرو کې غرقه ناسته وه د اُمید خبرې یې په دماغ کې گرځیدلې مرې مرې اوښکې یې تر سترگو بهیدلې بیا یې یو دم پر مخ لاس تیر کړ اوښکې یې پاکې کړې تر څو شیبو وروسته دباندې ووتل د پلار اطاق ته ورغله هغه ته یې وویل: بابا زما د پیسو څخه څو در سره پاته دي؟

پلار یې وویل: ۲۰۰۰۰۰ راسره پاته دي ولې لورې؟

حسینې وویل: بابا زه غواړم د پوهنتون سره یو کوچنی کاروبار هم شروع کړم.

پلار یې په حیرانتیا وویل: کاروبار او ته؟

حسینې وویل: هو بابا ته او محمود لالا به هم راسره مصروف یاست مدیریت به یې زه کوم نور کاروبار تاسو مخته وړئ.

پلار یې وویل: صحي دی لورې خو څنگه کاروبار؟

حسینې وویل: زه پلان ورته جوړوم بیا به یې ستا سره شریک کړم سبا ته به یو وار بازار ته ولاړ سو بازار به وگورو چې د ښځو اړوند کوم کاروبار ښه گټه کوي.

پلار یې وویل: سمده لورې.

سباته حسینه او پلار یې بازار ته ولاړه په بازار کې تر ډیره وگرځیدل بیا یې پلار وویل: لورې زه ستړی سوم نور لا څومره گرځو نور یې بس ده ته به هم ستړې سوې یې.

ketabton.com - The Digital Library

حسـينې وويـل: بابـا تـه همدلتـه كنبـېنه زه بـه وگـرځم زمـا وخـت د هوسـايۍ نه دی بلکي د يو څه کولو دی.

پـلار يـي تـر څـو شـېبو حسـينې تـه کتـل بيـا يـي وويـل: نـو در ځـه زه هـم در سره ځم چي تا دومره قوي اراده کړيده نو زه دي هم نه مايوسه کوم.

بيـا دواړه سـره روان سـول او تـر ډيـر پـه بـازار کـي وگرځيـدل چـي وربانـدي ماپښـين سـو تـر څـه گـرځلاو وروسـته حسـينې پـلار تـه وويـل: نـور در ځـه بابا چي ځو.

پلار يي وويل: څنگه سو لوري مقصد دي حاصل سو؟

حسينې وويل: هو بابا تر توقع زيات.

پلار يي وويل: اځه شکر دی.

تـر پوهنتـون وروسـته حسـينه او پـلار يـي کـور تـه ولاړه کلـه چـي ماښـام سـو حسـينې پـلار تـه وويـل: بابـا زمـا د اوس او شـروع لپـاره يـو کاروبـار تـه فکـر سـو چـي د يـو کـوچني ځايـه بـه يـي راپيـل کـړو او زمـوږ د ټـولني سـره سـر هـم خـوري هغـه دا دی چـي يـو کـوچنی ځـای بـه فعالـه کـړو اعـلان بـه وکـړو هغـه خوينـدې بـه راټـولي کـړو چـي خيـاطي يـي زده وي څـو نـوري خوينـدې بـه بيـا د انـدازې اخيسـتلو لپـاره مقـررې کـړم بيابـه انلايـن بـازار مندنـه ورتـه وکـړم چـي اوس خوينـدې ضـرورت نلـري چـي تکليـف وکـړي چـي خيـاط يـا خيـاطې تـه کـالي ور وړي مـوږ تـه خبـر راکـړی مـوږ همکـارانې کـورو تـه در اسـتوو ستاسـو انـدازه اخلـي ډيزاينونـه در ښـکاره کـوي بيـا کـالي در جـوړوو او تاسو ته يي در رسوو.......

ketabton.com - The Digital Library

کله چې حسینې خپل پلان پلار ته ووایه پلار یې وویل: دا خو ښه کار دی خو لوري یواري به د اُمید سره پر دې کار مشوره وکړو.

حسینې په گونجي تندې وویل: زه د چا مشورې ته اړتیا نلرم خپله عقل فکر خدای راکړیدی ښځه یم دا خو په دې معنا نه چې زه کمزورې یم هیڅ نسم کولای ښځه د ټولنې خبرو کمزورې کړیده که د رښتیا کمزورې وای نه رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم به د خپلو میرمنو سره مشوره نکولای.

پلار یې وویل: سمده لوري چې ستا خوښه وي.

حسینې وویل: سبا به ولاړ سو د یو ځای معلومات به وکړو.

سباته حسینه او پلار یې ښار ته ولاړل تر څه گرځیدو وروسته یې ځای پیدا کړ بیا یې پلار د ځای د خاوند سره خبره وکړل ځای یې ونیوی بیا حسینې ورور ته تلیفون وکړ ورته وې ویل چې راسه ځای را سره سم کړه بیا یې د ځای ستایل څه نن او څه یې سباته ور برابر کړ لوحه یې ورته جوړه کړه بیا یې د خیاطۍ د ماشینانو ترتیب ورته برابر کړ په همدې ورځ یو ښځه ورته راغله وې ویل: خیاطې ته به مو ضرورت نه وي زه د ښځو د خیاطۍ څو رنگه کارونه کولای سم.

حسینه خوشحاله سول بیا یې تر څه بحث او شرایطو وروسته مقرره کړه د څو نورو خیاطانو یې هم ورته وویل چې در سره یې راوله د څو ورځو په جریان کې د حسینې کار شروع سو مشتریان یې کرار کرار زیاتیدل او ښه گټه ورته پاتیدل بیا حسینې د ځان سره فکر وکړ چې زه باید پر همدې یوه کار بسنه ونکړم باید یو تولیدي کار هم ور سره شروع کړم په

ketabton.com - The Digital Library

يتهوب او نيت کي تر معلومات راټولولو وروسته يي د ښکلا لپاره د يو کريم جوړولو ته نيت سو خو کله چي يي دا موضوع د پلار سره شريکه کړل نو هغه ورته وويل: لوري ددې کار لپاره ډيري سرمايې ته ضرورت دی څه چي مو درلودل هغه مو پر دا ځای مصرف کړلې.

حسينې وويل: خير زه به تر يو څه وخته نور هم ددې کار په اړه معلومات راټول کړم تر هغه وخته به پيسې هم پيدا سي.

حسينې د کريم په اړه لا نور معلومات هم راټول خو فکر به يي په پيسو کي هم وو چي د کومه به يي کوم دا په همدې فکر کي وه چي يو ورځ يي پلار کور ته په موسکا راغلی پيسې يې په لاس کي وې حسينې ته يي وويل: حسينې لوري د کريم لپاره د پيسو بندوبست وسو اوس ته په ډاډه زړه پر کريم کار شروع کولای سې.

حسينه هم ډير خوشحاله خو حيرانه هم سول بيا يي پلار ته وويل: بابا دا پيسې دي د کومه کړې؟

پلار يي وويل: د يو ملګري څخه مي په پور واخيستې ما ويل زه مي په لور باور لرم دا کار به يي هم کاميابيږي نو ځکه به دې پيسې بيرته ژر درکړم.

حسينه يو څو شيبې خاموشه وه بيا يي وويل: بابا د چا چي درواغ عادت نه وي هغه چي درواغ وايي نو درواغ يي ډير ژر نيول کيږي.

پلار يي وويل: کم عقلې دا پلار ته وايې چي درواغ وايې؟

حسينې وويل: بابا راته ووايه چي دا پيسې دي د کومه کړې؟

ketabton.com - The Digital Library

پلار يي كرار په خپگان وويل: اُميد راكړې.

حسينې وويل: زه پوهيدم چي هغه دركړيدي خو ورسه دا پيسې بيرته ور وړه ور ته ووايه چي زه ستا پيسو ته ضرورت نلرم.

پلار يي وويل: لوري مشران وايي چي په تياره كي د څراغ رڼا ته ځه دې ته مه گوره چي څراغ د چا په لاس كي دی بيا اُميد خو پر موږ ډير احسانونه كړيدي دا احسان به يي هم ومنو.

حسينې وويل: زه يي د تيرو احسانو احسانمنده يم خو دومره احسان به هم د چا دا پر ځان نه اچوو چي هغه په سپک او د غلام په نظر راته وگوري.

پلار يي وويل: حسينې دا اوس ته څه وايې؟

حسينې وويل: هيڅ نه پلاره خو ته به دا پيسې بيرته ور وړې زه په دا پيسو كاروبار نه شروع كوم.

پلار يي وويل: خو لوري.....

حسينې د پلار د لاس څخه پيسې واخيستې حجاب يي وكړ بيا د مكتب پر طرف روانه سول كله چي هلته ور ورسيدل نو وې ليدل چي اُميد د مكتب په پارک كي ناست دی حسينه ورغله پر ميز يي پيسې ورته كنبينبولې بيا يي وويل: واخله دا دي پيسې دي زه ضرورت نه ورته لرم د تيرو احسانو په بدل كي خو دي سپكې سپوري راته وكړې چي ددې احسان په بدل كي به څه راسره وكړې د هغو حوصله نو نلرم.

ketabton.com - The Digital Library

اُمیـــد وویـــل: احســـان مـــي نـــه دی دربانـــدي کـــړی بیرتـــه مـــي در څخـــه اخیسـتلې پـر مـا خـو څـه پیسـې د اسـمانه نـه اوري چـي بیرتـه یـي درڅخـه نـه واخلم.

حسـینې ورتـه وویـل: چـا درتـه وویـل چـي رایـي کـړه زمـا کـار دی زه یـي خپلـه پـلان او ترتیـب جـوړوم تاتـه ضـرورت نسـته چـي لاسـوهنه پکښـي وکـړې نـه دي هـم مرسـتې تـه ضـرورت لـرم نـو نـور هیلـه کـوم پـه ژونـد او کاروبـار کـي مي لاسوهنه مکوه.

حسـینې دا وویـل او ولاړل د هغـې تـر تلـو وروسـته اُمیـد هغـې تـه کتـل او موسـکی کیـدی بیـا یـي وویـل: کـه مسـتقیم نـه وي پـه غیـري مسـتقیم ډول بـه دي هیڅکله لاسنیوی او کمک پري نه ږدم.

ځان به هم قربان کړم تر تا یاره

ته نفرت رانه کوه زه به دي ستایم

حسـینې څـه مـواد د تجربـې لپـاره واخیسـتل او تجربـې یـي پـر شـروع کـړې ډیـري تجربـې یـي وکـړې خـو نتیجـه بـه یـي نـه ورکـول تـر زیـاتو کوښښـو وروسـته یـي د صـحي کـریم لپـاره تجربـه کامیابـه سـول او وروسـته یـي د بـازار لپـاره پـه لـږه انـدازه د کـریم نمونـه جـوړه کـړل بیـا یـي ورور تـه ورکـړل چـي بـازار تـه یـي وړانـدي کـړي تـر څـو دوکانـداران یـي تجربـه کـړي. د حسـینې ورور د کـریم نمـونې بـازار تـه وې وړې او پـه رښـتني ډول یـي پـر دوکانـدارانو وګرځـولې هغـه یـي پـه خبـرو قـانع کـول چـي دا کـریم ښـه نتیجـه ورکـوي تاسـو یـي تجربـه کـړئ..... هـر دوکانـدار تـه یـي څـو څـو نمـونې او د

ketabton.com - The Digital Library

دفتـر کـارډ ورکـړ تـر څـو بيـا د غوښـتلو لپـاره ور سـره پـه تمـاس کـي سـي. تـر څـو ورځـو پـوري حسـينه د دوکانـدارانو پېشـنهاد تـه منتظـره وه کلـه کلـه بـه ډېـره مايوسـه سـوه چـي ولـي څـوک ورتـه پېشـنهاد نکـوي تـر څـو ورځـو پـوري د هيچـا د پېشـنهاد درک نـه وو بيـا يـو ورځ يـو تليفـون راغلـی کلـه چـي د حسـينې ورور ور سـره خبـره وکـړه نـو ډېـر خوشـحاله سـو بيـا يـي هغـه ته وويل: سمده زه لړ وروسته خبر درکوم.

کلـه چـي د حسـينې ورور تليفـون بنـد کـړ نـو حسـينې تـه يـي پـه موسـکا وويل: يو دوکاندار وو ويل يي چي د کريم يو شل کارټنه مي پکار دي.

حسـينه هـم ډېـره خوشـحاله سـول بيـا يـي خپلـه سـرمايه وکتـل ورور تـه يـي وويـل: لالا پيسـې را سـره کمـې دي کـه د شـلو کـارټنو لپـاره خـام مـواد واخلـم نـو پـه پرچـون ډول بـه يـي اخلـم او پـه پرچـون ډول مـواد پـه لـوړ قيمـت راتـه تمـامېږي چـي د کـريم تـر خـرڅ وروسـته بـه صـرف د خـامو موادو پيسې راته پاته سي.

ورور يـي وويـل: حسـينې کاروبـار خـو داسـي نـه کيـږي چـي د شـروع سـره سـم دي يـي تاتـه گټـه پـلاس در سـي زمـوږ د کاروبـار شـروع ده خـو بيـا هـم دا دی خپـل مصـرف پـه پـوره کـولای سـو زيـاتره کاروباريـان تـر څـو کلونـو پـوري صـرف مصـرف کـوي تـر څـو دوی خپـل کاروبـار پـر کاروبـاري لـين ودروي بيـا چـي د دوی اجنـاس مشـهوره سـي بيـا يـي نـو دوی گټـه وړي تـه بايد حوصله ولرې.

ketabton.com - The Digital Library

حسینې د ورور په خبرو توان پیدا کړ بیا یې د شلو کارټنو لپاره خام مواد راوغوښتل او کریم یې ورته جوړ کړ تر څو ورځو پوري حسینې همداسي کریم جوړوی خو ګټه به یي نه وه.

یوه ورځ د حسینې پلار د اُمید سره د مکتب په پارک کي باندار کوی وې ویل: کریم جوړ کړي ځان ستړی کړي خو صرف ورته مصرف جوړوي ځکه مواد په پرچون ډول اخلي.

اُمید وویل: د کریم یو نمونه به یي نه وي در سره کاکا؟

د حسینې پلار په جېب کي وکتل یو کریم یي د جېبه راوکښی وې ویل: ها دا واخله دا ما یو دوکاندار ته د نمونې لپاره ور وړل خو هغه ته به بیا زه بل راواخلم.

اُمید کریم وکتی بیا یي وویل: زه به یې نتیجه وګورم چي څنګه کار کوي.

سهار حسینه دفتر ته تلل مور یي ورته وویل: لورې نن پاته سه مرکې ولا چي راسي وای انجلۍ ګورو هغه ته نه یي پر کور زما یو پخوانۍ ملګرې ده دا ځوومه ورځ ده چي راځي خو ته نه یي پر کور ما پرونده وعده ورکړل چي زه مي لور سباته درته راګرځوم نو نن پاته سه.

حسینې وویل: مور کارونه مي دفتر کي ډیر دي چي زه ور نسم نو ډیره بې نظمي به رامنځته سي او بل دا چي مور زما واده ته اوس هیڅ اراده نه ده نو که غواړې چي ځوک درڅخه خپه نسي نو وعدې مه ورکوه.

ketabton.com - The Digital Library

حسـينې دا وويـل او بيـا د ورور سـره د کـار ځـای پـر طـرف روانـه سـول کلـه چـي دفتـر تـه ورسـيدل نـو پـه کـار يـي شـروع وکـړل بيـا تـر څـو شپېو وروسـته دفتـر تـه ننوتـل چـي لـږ وروسـته د دفتـر دروازه خلاصـه سـول اُميـد پـه راننـوتی پـه شـوخ ډول يـي سـلام ووايـه بيـا د حسـينې د ميـز مختـه پـر پرتـې چـوکۍ کښېنسـتی پـر بلـي يـي دواړې پښـې کښېښـولې. حسـينې هغـه تـه پـه گونجې تندې بد بد کتل بيا يي وويل: ته دلته څه شي کوې؟

اُميـد دفتـر تـه شـاوخوا وکتـل بيـا يـي وويـل: ماشـاءالله دا دی ښـه ځـای دي جوړ کړيدی زما پيغور خو دا دی ښه کار وکړ.

حسـينې وويـل: زه د دا بـې ځايـه خبـرو اوريـدو حوصـله نـه لـرم کـار دي وايـه چـي د څـه لپـاره راغلـی يـې کـه نـه ولاړ سـه ددې ځايـه کـه نـه نـو چوکيدار ته وايم چي ددې ځايه دي په زور وباسي.

اُميـد پـه ټـوکيز ډول وويـل: ښـه؟! چوکيـدار خـو دي صـرف مـازي لاس راوړي چـي زه يـي پـر څـه حـال کـوم اغسـي هـم زه سـتا د دا بـد مـخ ليـدو تـه نه يم راغلی يو پېشنهاد مي درته راوړی دی.

حسينې وويل: زه ستا پېشنهاد ته ضرورت نلرم.

اُميـد وويـل: پېشـنهاد خـو يـو وار واوره او دا فکـر مکـوه چـي دا پېشـنهاد نـو زه سـتا سـره د کمـک يـا بلـي همکـارۍ پـه سـبب کـوم بلکـي زه ځانتـه هـم گټـه پکښي وينم که نه زه بې گټې کار نکوم.

حسينې تر څه سوچ وروسته وويل: ښه وايه څه پېشنهاد دی؟

ketabton.com - The Digital Library

اُمیـد وویـل: مـا سـتا جـوړ سـوی کـریم وکتـی نتیجـه یـي ورکـول تـه د کـریم د خامو موادو لپاره پیسو ته ضرورت لرې هغه زموږ کمپنۍ تاته درکوي.

حسینې د اُمید خبره پرې کړه وې ویل: نو ستاسو ګټه په دې کې څه ده؟

اُمید وویل: پوره خبرې ته خو مي پرېږده!

حسینې وویل: ښه وایه.

اُمید وویل: نو اول دې ولې خبره را پرې کړل؟

حسـینې پـه غوسـه اوففـف وکـړه پـر سـر یـې لاس ونیـوی بیـا یـې وویـل: ښـه وایه.

اُمیـد موسـکی سـو بیـا یـې وویـل: زمـوږ کمپنـۍ تاتـه مخکـې پیسـې درکـوي تـر یـو میلیـون پـوري خـو تـه بـه دا کـریم یـوازې زمـوږ د کمپنـۍ لپـاره جـوړوې پـه ګټـه کـې ٪۵۰ یعنـي نیمـایي سـتا ده پـه دې سـره نـه زه پـر تـا احسـان کـوم نـه تـه پـر مـوږ احسـان کـوې او دا امتیـاز هـم تاتـه درکـوو چـې هـر وخـت دې وغوښـتل قـرار داد لمنځـه وړلای سـې زمـوږ لخـوا بـه هـیڅ ډول فشـار نـه وې درباندې.

حسـینې تـر څـه فکـر وروسـته وویـل: صـحې دی زه بـه فکـر ور بانـدې وکـړم بیا به خبر درکړم ماته تر سبا پوري وخت راکړه.

اُمیـد ولاړ سـو پـه تلـو کـې یـې وویـل: تـر سـبا پـوري نـه چـې هـر وخـت دې خوښه سول راته ویلای سې.

بیـا اُمیـد ولاړې حسـینې ددې موضـوع پـه اړه ټولـه ورځ فکـر کـوی بیـا یـې دا موضـوع د پـلار او ورور سـره هـم شـریکه کـړل هغـو هـم ورتـه وویـل چـې

ketabton.com - The Digital Library

دا خــو ډېــر ښــه پېشــنهاد دی بيــا يــي د شــپې هــم وربانــدي فکــر کــوی اخيــر کــي د اســتخارې د لمانځــه لپــاره ولاړه ســوه دوه رکعتــه د اســتخارې لمــونځ يــي وکــړ بيــا بيــده سوه کلـه چـي سـهار سـو نـو پـه دفتـر کـي يـې اُميـد تـه تليفـون وکــړ هغــه صــنف کــي کوچنيــانو تــه درس وايــه تليفــون چــي يــي وکتــی نمبــر يــې ونــه پيژنــدی نــو ځکــه يــي وربانــدي پورتــه نکــړ خــو حســيني بيــا زنــګ ورتــه وکــړ تــر ځــو زنګــو وروســته اُميــد تليفــون اوکــې کــړ کلــه چــي يــي ږغ واوريدی نه پوه سو چي حسينه ده بيا يي وويل: اوه دا ته يې؟

حسينې وويل: زه غواړم در سره ووينم.

اُميد وويل: د څه په اړه؟

حسينې وويل: د پروند د موضوع په اړه.

اُميد وويل: ښه داسي ژر دي بيا پريکړه وکړه؟

حسينې وويل: هو راسه دفتر ته زه په دفتر کي يم.

اُميد وويل: کوچنيانو ته درس وايم چي رخصت مي کړل بيابه درسم.

حسينې وويل: سمده.

کلــه چــي مکتــب رخصــت ســو نــو اُميــد د حســينې دفتــر تــه ورغلــی اُميــد پــه دروازه کــي چوکيــدار وليــدی چــي ډېــر ټوخېــدی اُميــد ورتــه وويــل: څــه در سويدي چي داسي ټوخيږې؟

چوکيدار وويل: مريض يم صاحبه.

اُميد وويل: ډاکټر ته تللی يې؟

ketabton.com - The Digital Library

چوکیدار وویل: یا صاحبه جوړیږم.

حسینه چوکیدار او اُمید ته له کلکین څخه گوري چي څه خبري سره کوي بیا اُمید د جېب څخه پیسې راوکښې چوکیدار ته یې ورکړې ورته وې ویل: ورسه ډاکټر ته ولاړ سه.

چوکیدار چي پیسو ته وکتل نو وې ویل: صاحبه دا خو ډیري زیاتي پیسې دي.

اُمید ورته وویل: په پاته بیا کور ته سودا یوسه اوس ور سه ولاړ سه ډاکټر ته.

چوکیدار وویل: اوس ځای یوازي کیږي بیا وروسته ځم اغلې هم غوسه کیږي.

اُمید وویل: ته ورسه ولاړ سه اغلې ماته پریږده.

چوکیدار وویل: خو...

اُمید وویل: خو خو پریږده ورسه.

چوکیدار وویل: سمده صاحبه پر ځوانی دي برکت سه.

بیا اُمید د حسیني دفتر ته ولاړی هلته تر سلام ویلو وروسته بیا پر یوه چوکۍ کښېنستی پر بله چوکۍ یې پښې کښېښولې حسیني د هغه پښو ته وکتل بیا یې وویل: لاندې یې نسې ایښولای؟

اُمید وویل: ولي داسي ښایسته چوکیاني دي دي چي خیرني نسې؟

ketabton.com - The Digital Library

حسينې په غوسه ورته وکتل څه يي ونه ويل بيا يي وروسته وويل: ما پريکړه وکړه ښه زه قرارداد در سره کوم خو په يو څو شرطو.

اُميد وويل: لکه کوم؟

حسينې وويل: اول دا چي څوک به دا کوښښ نکوي چي زما څخه دا کريم زده کړي.

اُميد په ټوکيز ډول وويل: نورو ته خو اجازه نه ورکوم خو زه به يي در څخه زده کوم.

حسينې وويل: ته يي بيا زده کړه اوس بل شرط ته غوږ ونيسه.

اُميد وويل: ښه ووايه!

حسينې وويل: دوهم شرط دا دی چي د کاريگرو معاش به نيمايي زه ورکوم نيمايي به ستاسو کمپنۍ ورکوي.

اُميد وويل: ښه نور.

حسينې وويل: دريم شرط دا دی چي زما سره کاريگر زه ښځينه گمارم ستاسو کمپنۍ به زما سره د کاريگرو په گمارنه کي څه نه وايي.

اُميد وويل: ښه نور.

حسينې وويل: بس داغه شرطونه وه که ستاسو دا قبول وي نو زه دا قرارداد منم.

اُميد وويل: شرطونه خو دي يو څه سخت او ډير دي خو خير در سره وبه يي منم سبابه د بابا دفتر ته ورسو قرارداد به امضاء کړي.

ketabton.com - The Digital Library

حسينې وويل: سمده.

سبا ته اُميد په مکتب کې کوچنيانو ته تر څه درس ورکولو وروسته وويل: زما خوږو شاگردانو نن زه يو ځای ته ځم کار لرم نو تاسو نن وختې رخصتوم هو بيا په کورو کې شوخي ونه کړئ.

ټولو وويل: سمده استاذه.

اُميد چې کله شاگردان رخصت کړل موټر يې چالانده کړ د حسينې د کور مخته ورغلی بيا يې هغې ته تليفون وکړ چې زه د کور مخته ولاړ يم راځئ چې ځو.

حسينې ورته وويل: سمده په يو څو شيبو کې در وځو.

تر څو شيبو وروسته حسينه او ورور يې راووتل بيا د دفتر پر طرف روان سول تر څو شيبو وروسته دفتر ته ورسيدل کله چې د موټره راکښته سول بيا دننه د دفتر ودانۍ ته داخل سول بيا يو بل صالون ته ننوتل کله چې اُميد هلته ورغلی نو مشر ورور يې صالون کې ناست وو هغه ته يې سلام ووايه هغه ورته ولاړ سو په غيږ کې يې ونيوه بيا يې وويل: اوه معلم صاحب ته او دفتر څنگه؟

اُميد وويل: چې کار مي سي راځم لالا.

بيا د اُميد مشر ورور حسينې او د هغې ورور ته هم ښه راغلاست ووايه. اُميد حسينې او د هغې ورور ته اشاره وکړل بيا يې وويل: لالا دا حسينه ده چې په اړه مي يې درته ويلي وه او دا يې ورور دی.

د اُميـــد ورور د حســـــينې او د هغـــــې د ورور ســــره روغبــــړ وكـــړ بيـــا يـــې خدمتګار ته وويل: د مېلمنو لپاره د څښاک شی راوړه.

د اُميـد ورور اُميـد تـه پـه موسـكا وويـل: ښـه معلـم صـاحب مكتـب دي ښګـه دی کوچنيان دي خنګه دي؟

اُميد وويل: ښه دی لالا سات مي ور سره تير دی.

بيا اُميد وويل: بابا چيري دی ما پروند ورته وهم ويل چي زه راځم.

ورور يـي وويـل: را روان دی د يـو څـو شـريكانو سـره يـي ليـدل تليفـون يـي راتـه كـړی وو ويـل يـي چـي اُميـد تـه ووايـه چـي يـو څـه انتظـار سـي زه ژر درځم.

د اُميـد ورور د حسـينې د ورور سـره پـه خبـرو مصـروفه سـو اُميـد حسـينې تـه كتـل چـي د هغـې هـم ورتـه فكـر سـو هغـې پـه ګـونجې تنـدې اُميـد تـه وكتـل بيـا يـې مـخ ور څخـه واړوی اُميـد تـر ميـز لانـدي خپـل پښـه د حسـينې د پښـې سـره ومښـلول خـو حسـينې پـه غوسـه د اُميـد پښـه ور پـوري وهـل او خپـل پښـې يـي راټـولي كـړې تـر څـو شـېبو وروسـته د صـالون دبانـدي د كومي انجلی بږغ سو اُميد خپل ورور ته وويل: روبينه راغلې ده؟

ورور يي وويل: هو.

اُميـد ولاړ سـو او دبانـدي ور ووتـی د روبينـې غرفـې تـه ورغلـی حسـينه پـوه سـوه چـي اُميـد د انجلـی سـره د ليـدو لپـاره ولاړی بيـا يـې تـر څـو شـېبو وروسـته قصـداً پـر خپـل حجـاب څـه انرجـي تـوی كـړل بيـا يـې د اُميـد ورور ته وويل: وبخښی تشناب چيري دی زه به دا حجاب پريولم.

ketabton.com - The Digital Library

د اُمیـد ورور وویـل: چـي دبانـدې ووتـې چپـه طـرف تـه وګرځـه پـه زینـو کـي لوړه پورته سه تشنابونه به ووینې.

حســینه ژر دبانــدې ووتــل د اُمیــد د صــالون دروازې تــه شــا وه مــخ یــې د روبینــې د غرفــې طــرف تــه وو کلــه چــي اُمیــد د دروازې د خلاصــیدو بږغ واوریدۍ نو روبینې ته یې وویل: راووتل هغه؟

روبینې پټ ورته وکتل بیا یي وویل: هو.

بیــا اُمیــد پــه څــه لــوړ اواز وویــل: زه داســي د هــر چــا ســره واده نکــوم بیــا کلیوالو انجونو سره خو بیخي نه.

حسـینه د یـو دیـوال تـر شـا ودریـدل د اُمیـد خبـرو تـه یـي غـوږ ونیـوی بیـا اُمیـد وویــل: زه د یــو څــو ورځــو لپــاره ســاتیری ور ســره وکــړم دوی چــي وایــې مینــه راسره کوي نو ځکه د واده وړاندیز راته وکړي.

حســینې د اُمیــد خبــرې اوریــدې ســخته ورتــه پــه غوســه کیــدل تــر څــه نــورو خبــرو وروســته ډیــره مایوســه او خپــه ســوه نــوري خبــرې یــې نســوای زغمــلای نو ځکه ولاړه اُمید ته یې نفرت نور هم په زړه کي زیات سو.

کلــه چــي حســینه ولاړه نــو اُمیــد تــر شــا ورتــه وکتــل بیــا موســکی ســو روبینــې ورته وویل: ته ولي داسي کوې زړه به یي مات سي؟

اُمید وویل: ته نه پوهیږې.

اُمیــد دا وویــل بیــا صــالون تــه ولاړی تــر څــو شــېبو وروســته حســینه هــم راغلــه کنبېنســتل چــي پــه دې وخــت کــي د اُمیــد پــلار هــم د څــو نــورو کســانو ســره

ketabton.com - The Digital Library

صالون ته راننوتی د اُمید په لیدو موسکی سو هغه یي په غیږ کي ونیوی بیا یي ورته وویل: ډیر وبخښنه زویه راباندي ناوخته سو.

اُمید وویل: یا بابا هیڅ خبره نه ده د دوی سره ووینه حسینه او ورور یي.

د اُمید پلار د هغو سره هم ښه روغبړ وکړ بیا یې د هغو څخه هم بخښنه وغوښتل چي په انتظار مي کړاست تر روغبړ او ښه راغلاست وروسته اُمید وویل: بابا حسینه زموږ سره موافقه ده غواړي چي قرارداد راسره امضاء کړي.

د اُمید پلار حسینې ته وویل: ښه حسینې لوري تا ښه سم فکر پکښي وکړ که د فکر لپاره وخت ته ضرورت لرې هیڅ خبره نه ده چي هر وخت دي فکر پکښي وکړ بیا راسه.

حسینه څه ناڅه تر سام لاندي وه خبرې یې سمي نسوای کولای بیا اُمید د پلار منشیانو او مرستیالانو ته وویل: که خپه کیږی نه تاسو د یو څو شیبو لپاره دباندي وتلای سئ؟

هغوی ټول ووتل بیا حسینه څه بیداره سول په خبرو کي یې جرأت پیدا کړ تر څو خبرو وروسته د اُمید پلار خپل مشر زوی ته وویل: د قرارداد ورقه ورکړه چي امضاء یې کړي.

بیا یې حسینې ته وویل: که څه هم ته زما د لور پځیر یې او دا قرارداد او امضاء ته هیڅ ضرورت نسته خو بیا هم یو قانوني شی دی ستا لپاره هم ګټور تمامیدای سي داسي نه خدای نکړه زموږ فیصله واوړي او ستا

ketabton.com - The Digital Library

کوښښــونه او زحمتونــه بــې ځایــه ولاړ ســي کومــه گټــه تــر لاســه نکــړې نــو ښــه خبره دا ده چي دا ورقه لاسلیک سي.

حسینې وویل: هو کاکا ښه خبره ده.

بیــا حســـینې قـــرارداد امضـــاء کــړ او د اُمیـــد پـــلار تــه یـــي ورکـــړ د اُمیـــد پـــلار ورتــه وویـــل: نـــور معلومـــات بـــه اُمیـــد درکـــړي چـــي بایـــد د کومـــه ځایـــه شـــروع په وکړې دی به کمک هم در سره کوي.

حسینې وویل: سمده کاکا.

بیــا حســـینې او ورور یـــې د اُمیـــد د پـــلاره خـــدای پـــه امـــانی واخیســـتی د اُمیـــد ســـره ولاړه کلـــه چـــي مـــوټر تـــه پورتـــه ســـول نـــو پـــر لاري اُمیـــد د مـــوټر پـــه هنـــداره کـــي حســـینې تـــه وکتـــل بیـــا یـــې د حســـینې ورور تـــه وویـــل: دا ځنـــي انســـانان هـــم عجبـــه دي د یـــو چـــا ومختـــه یـــي خبـــرې دریـــږي نـــه دومـــره زیـــاتي خبـــرې او نخـــرې کـــوي خـــو د نـــورو پـــه مخکـــي بیـــا هـــیڅ نســـي ویـــلای داســـي تـــر ســـام لانـــدي ســـي لکـــه مختـــه چـــي یـــې انســـانان نـــه زمریـــان ولاړ وي تـــه پـــوهیږې داسي انسانان ډیر کمزوري وي.

د حسینې ورور وویل: څوک یادوې وروره؟

حســـینه پـــوه ســـول چـــي مـــا یـــادوي خـــو د ورور پـــه شـــتون کـــي یـــې څـــه نســـوای ویـــلای بیـــا اُمیـــد وویـــل: هیڅـــوک نـــه یـــادوم داغســـي مـــي یـــو خبـــره وکـــړل وایـــم داسي خلک نن سبا زیات سویدي.

د حســـینې ورور وویـــل: هـــو ربښـــتیا هـــم داســـي خلـــک ډیـــر لـــټ او کمـــزوري وي....

ketabton.com - The Digital Library

حسینه په غوسه سول ورور ته یې وویل: لالا دا بې ځایه او بې معنا خبرې دې بس کړه!

اُمید او د حسینې ورور یو او بل ته سره وکتل بیا اُمید وویل: په دې بیا څه وسول دا ولي په غوسه سول؟

د حسینې ورور وویل: ولاکه چي څه په وسول.

د څو ورځو په جریان کي د اُمید ورور د حسینې لپاره هغه ماشینونه او خام مواد اماده کړل چيددې د فابریکې لپاره ورته ضرورت وو بیا یې شروع په وکړل او تولیدات یې د هیواد بازارو ته وړاندي کړل. په ښه مارکېټینګ او اعلاناتو د حسینې لخوا جوړ سوی کریم ډېر مشهوره سو او ډېره ګټه یې لاسته راوړل په هرو څو ورځو کي به حسینې د اُمید د پلار سره لیدنه کول او د شراکت حسابونه به یې سره کول بیا تر څه وخت وروسته حسینې د اُمید پلار ته وویل چي زه غواړم ددې کریم تر څنګ نور تولیدات هم جوړ کړم تر څو ګټه مو نوره هم زیاته سي. د اُمید پلار ور سره خوښه کړل او په هغو کي یې هم د حسینې سره شراکت وکړ د وخت په تیریدو حسینې څلور نور تولیدات هم بازار ته وړاندي کړل په دې سره هم دا او هم یې کمپنۍ مشهوره سول ډېري پیسې یې پیدا کړې په ښار کي یې نوی کور جوړ کړ او هلته یې استوګنه پیل کړل. یوه ورځ چي کله حسینه کمپنۍ ته تلل نو د کور په صالون کي یې خپل د اکا لور او د هغې خوښې ولیدل چي ددې د مور سره ناستې دي. حسینې غوښتل ولاړه سي خو مور یې ور باندي ږغ کړل: حسینې لورې؟

ketabton.com - The Digital Library

حسينې وويل: ها مور.

مور يي ورته وويل: لوري يو وار دلته راسه څه کار مي دی در سره.

حسينه ورغله د اکا لور او د هغې خوابنې يي ورته ولاړې سوې روغبړ يي ور سره وکړ بيا د حسينې مور وويل: لوري دوی تاته انتظار وې ستا کمک ته اړتيا لري.

حسينې وويل: څنگه کمک؟

د حسينې د اکا د لور خوابنې وويل: لوري زه ډيره شرمينده يم ددې حق خو نلرم چي تاسو راسره سم چلند وکړی خو لوري د مشري په صفت مي وبخښه.

حسينې وويل: يا کومه خبره نه ده ما بخښلي ياست ووايست څه خبره ده؟

د اکا د لور خوابنې يي وويل: لوري زوی مي دا ډير وخت کيږي چي پر کور بيکاره راته ناست دی سخت مو اقتصادي حالت خراب سويدی که چيري ته په خپل کمپنۍ کي زما زوی او د اکا لور ته دي يو وظيفه ورکړې نو لوی احسان به دي وي پر موږ.

حسينې د هغې د خبرو تر اوريدو وروسته خپل هغې پخوانۍ مغروري د اکا لور ته وکتل چي اوس يي شکل او حالت ډير خراب سوی وو نو زړه يي وربانـدي وسوځيدی بيا يي ورته وويل: سمده دا به زما سره په فابريکه کي کار کوي او خاوند به يي زه کمپنۍ ته معرفي کړم سباته دي دواړه راسي.

ketabton.com - The Digital Library

بیا حسینې وویل: زه ځم پر ما ناوخته کیږي.

د هغوی ښځه یې خدای په امانی واخیستی او روانه سول کله چې تر صالون ووتل نو د اکا لور یې د شا ورپسې راغله ورته وې ویل: حسینې؟

کله چې حسینه ورته ودریدل نو هغه یې څو شیبې مخته ولاړ وه بیا یې حسینه په غیږ کې ونیول په ژړا یې وویل: ماته بخښنه وکه حسینې.

حسینه هم احساساتي سوه هغه یې په غیږ کې ونیول بیا یې ورته وویل: د څه شي بخښه لیونۍ ما پخوانۍ خبرې ټولي هیري کړیدي بخښلې مي يې.

د اکا لور یې وویل: ما فکر کوی چې ته به زموږ سره خبرې لا هم ونکړې خو تا موږ ته ډیر قدر راکړ.

حسینې هغه ارامه کړل بیا تر څو شیبو وروسته کمپنۍ ته ولاړه کله چې هلته ورسیدل نو د اُمید پلار هغې ته وویل: حسینې لوري زموږ تولیداتو د هیواد په سطحه لومړی مقام ګټلی دی نو په همدې خاطر درې ورځې وروسته غونډه ده هلته اول، دوهم او دریم مقام ولاوو ته جایزې ورکوي نو په همدې خاطر ما د جایزې اخیستلو لپاره ستا نوم ورکړیدی جایزه به ته ځني اخلې.

حسینې په حیرانتیا وویل: زه کاکا؟

د اُمید پلار وویل: هم ولې؟

ketabton.com - The Digital Library

حسـيني وويـل: کاکـا تاسـو بـه خپـل نـوم ورکـړی وای ددې هـر څـه حقـدار خو تاسو یاست.

د اُمیـد پـلار پـه موسـکا وویـل: لـوري زه سـپین ږیـری یـم زمـا سـره خونـد نکـوي تاسـو ځوانـان یاسـت دا جـایزه ستاسـو سـره خونـد کـوي تـر څـو نـوري خوینـدې او ځوانـان هـم کـار کولـو تـه تشـویق سـي او بیـا دا خـو سـتا حـق کیـږي ځکـه زمـوږ صـرف سـرمایه او مارکېټینـګ دی د کامیـابۍ راز خـو تـه یي لوري.

حسـیني وویـل: کاکـا د اُمیـد نـوم بـه دي ورکـړی وای یـا د لالا(د اُمیـد ورور).

د اُمیـد پـلار وویـل: اُمیـد خـو هـیڅ نـه دي در سـره کـړي هغـه خـو ټولـه ورځ د کوچنیانو سره مصروف وي دا هر څه ستا د زحمتونو نتیجه ده.

حسـیني تـر څـه فکـر کولـو وروسـته وویـل: سـمده کاکـا خـو تاسـو بـه هـم هلته راسره ځئ.

د اُمید پلار وویل: سمده که خدای کول.

تـر څـه خبـرو وروسـته حسـینې غوښـتل چـي د فـابریکې پـر طـرف ولاړه سـي خـو کلـه چـي د دفتـر څخـه وتـل نـو اُمیـد یـي ولیـدی چـي د روبینـې سـره ولاړ دی پـه لـوړ اواز او پـه خنـدا وایـې: حسـینه چـي کلـه پـر سـټیج ودریـږي سـخته بـه تـر سـام لانـدي سـي خبـرې بـه داسـي کـوي زه ډیـره خـو خـو خوشاله یم چي دا دا جایزه مي تر لاسه کړل.

ketabton.com - The Digital Library

حســـینه یـــي شـــاته ولاړه وه او د اُمیـــد دا خبـــرې یـــي اوریـــدلې بیـــا ور مختـــه ســـوه روبینـــې تـــه یـــي پـــه غوســـه وویـــل: دده اخـــلاق خـــو صـــفر دي او د بـــدو او ســـپکو خبـــرو عـــادت لـــري تـــه خـــو ډیـــره اخلاقمنـــده معلـــومېږې تـــا یـــي ولـــي خبرو ته غوږ نیولی دی.

روبینې وویل: بخښنه غواړم اغلې.

روبینـــه د دوی دوو څخـــه لیـــري ســـول بیـــا حســـینې اُمیـــد تـــه مـــخ ور واړوی ورتـــه وې ویـــل: نـــه پـــوهیږم مـــا ســـتا پـــه پېژندنـــه کـــي ولـــي دومـــره لویـــه تیروتنـــه وکـــړل چـــي پـــر تـــا مـــي د یـــو ډیـــر ښـــه، اخلاقمنـــد او نېـــک شـــخص فکـــر کـــوی تـــا یـــو وخـــت ماتـــه زمـــا حیثیـــت راوښـــوی چـــي زه څـــه یـــم نـــن بـــه یـــي زه و تاتـــه در وښـــیم چـــي تـــه څـــه شـــي یـــې او څـــه حیثیـــت لـــرې تـــه هغـــه حیـــوان تـــه ورتـــه یـــې چـــي د زمـــري پـــاتي شـــوني خـــوري خپلـــه خـــو هـــیڅ نســـي کـــولای د بـــل پـــه کمـــک چـــي یـــو څـــه ور ورســـیږي نـــو غـــرور یـــې آســـمان تـــه وخېـــږي د پـــلار او ورور پـــه پیســـو مېلـــې کـــوې هـــر څـــه دي د هغـــو پـــه پیســـو اخیســـتې دي اوس تـــه ووایـــه چـــي زمـــا حیثیـــت لـــوړ دی کـــه ســـتا؟ مـــا پـــه خپلـــو زحمتونـــو ځـــان دا ځـــای تـــه راورســـوی چـــي نـــن د هیـــواد پـــه ســـطحه لـــوړې جـــایزې تـــه انتخـــاب ســـوې یـــم زمـــا کـــه پـــر ســـتېج خبـــرې زده وي یـــا نـــه خـــو ځـــان مـــي یـــو ځـــای تـــه ورسوی ستا چي خبرې زده دي تا څه کړیدي؟

د حســـینې پـــه خبـــرو اُمیـــد ډیـــر حیـــران وو هـــیڅ یـــي نـــه ویـــل بیـــا حســـینې وویـــل: ددې وروســـته کـــه دي زمـــا پـــه اړه یـــوه غلطـــه خبـــره هـــم وکـــړل نـــو کاکـــا تـــه دي شکایت کوم.

ketabton.com - The Digital Library

حسـينې دا وويـل او بيـا روانـه سـول کلـه چـې هغـه ولاړه نـو روبينـې اُميـد تـه وويل: څه يې درته ويل؟

اُميد په فکرو کې غرق وو بيا يې تر څو شېبو وروسته وويل: هيڅ نه.

حسـينه پـه مـوټر کـې ناسـته وه فکـر يـې کـاوه چـې تـر څـو شـېبو وروسـته فـابريکې تـه ورسـيدل او د جـايزې خبـر يـې پـلار تـه هـم ووايـه پـلار يـې هـم ډيـر خوشـحاله سـو بيـا يـې پـلار وويـل: اُميـد بـه هـم را سـره بوځـو چـې هغـه راسره وي نو ډير ښه خوند به وکړي.

حسينې په غوسه وويل: ولې بېله اُميده موږ څه نسو کولای؟

پـلار يـې پـوه سـو چـې د حسـينې او اُميـد تـر مـنځ کومـه خبـره ده نـو ځکـه يـې څـه ونـه ويـل بيـا حسـينې وويـل: زه، تـه، لالا او مـور ځـو کاکـا هـم راسـره ځي.

پلار يې وويل: اسمده لوري.

حسـينې پـه دفتـر کـې د اُميـد پـر ضـد پـر سـټېج د ښـه خبـرو کولـو تمـرين شـروع کـړ د ځانـه سـره بـه يـې خبـرې تکرارولـې چـې بايـد داسـې ووايـم و هاسـې ووايـم تـر درو ورځـو تمـرين وروسـته امـاده سـول او د جـايزې پـه ورځ يـې ښـه وينـا وکـړل تـر غونـډې وروسـته يـې د خبريـالانو سـره هـم خبـرې وکـړې پـه کمپنـۍ کـې تـر مېلمسـتيا وروسـته حسـينه خپـل دفتـر تـه ننوتـل خپـل مېـز تـه کښېنسـتل جـايزه يـې پـه لاس کـې وه پـه حيرانتيـا يـې ورتـه کتـل بيـا ولاړه سـوه مـوټروان تـه يـې وويـل چـې مـوټر چالانـده کـړه درځـه. مـوټروان مـوټر چالانـده کـړ بيـا روان سـول تـر څـو شـېبو وروسـته مکتـب تـه ورسـيدل حسـينه د مـوټره کښـته سـول جـايزه يـې پـلاس کـې وه بيـا

ketabton.com - The Digital Library

یې په مکتب کې شاوخوا وکتل کوچنیان ټول وتلي وه بیا اداري ته ولاړه ګوري چې د اداري دروازه څه خلاصه ده حسینه پوه سول چې اُمید اداره کې دی نو ځکه هلته ور روانه سول کله چې دروازې ته ورسیدل نو وې لیدل چې اُمید پر چوکۍ پریشانه ناست دی.

حسینه دننه ورغله دروازه یې خلاصه کړل اُمید د هغې په لیدو مخته پرتې دواوي ژر تر میز لاندې کړې بیا د ځایه ولاړ سو په نرمه موسکا یې وویل: جایزه یې درکړل مبارکې درته وایم.

اُمید څه کتابونه واخیستل الماری ته ودریدی هلته یې اینښول چې حسینې خپل جایزه پر میز کښېښول او د اُمید خواته ورغله د هغه پر اوږه یې خپل سر کښېښوی پر اوږه یې ونیوی په ژړا یې وویل: ماته بخښه وکړه اُمیده ما په غوسه کې ډیر بد و رد درته وویل.

اُمید د حسینې په دې کړنه د درده سترګې پټې کړې په سترګو کې ولاړې اوښکې یې وبهیدلي بیا حسینې وویل: زه کم عقله دومره هم پوهه نسوم چې دا هر څه خو ما ستا په مرسته او تشویق تر لاسه کړل زه په دې هم نسوم پوهه چې ستا هر پیغور پیغور نه بلکې زما لپاره د پرمختګ لار وه چې تا رانښول زه پوه سوم چې ته هم زما سره مینه کوې.

اُمید لا هم هغسې ولاړ وو بیا یې تر څو شیبو وروسته وویل: زه ستا سره مینه نکوم حسینې.

حسینه حیرانه سول د اُمید څخه څه لیري سول په حیرانتیا یې هغه ته کتل بیا اُمید جایزه واخیستل د هغې په لاس کې یې کښېښول ورته وې ویل: واخله جایزه دې او ولاړه سه ددې ځایه.

ketabton.com - The Digital Library

حسـينې چـي تـر سـترګو يـې اوښـکې بهيـدلې وويـل: تـه ولـې زمـا سـره داسـې کـوې سـتا لپـاره مـا ټـولې مرکـې جـواب کـړې او هـره ورځ بـه پـه دې تمـه وم چـي تـه بـه د مينـې او واده راتـه وايـې ځـان مـې هغسـې جـوړ کـړ لکـه څنګـه چـي تـا غوښـتل نـو اوس ولـې مـخ راڅخـه اړوې زه پـوهيږم چـي سـتا پـه ژونـد کـې بلـه انجلـۍ هـم نسـته نـو بيـا مـا ولـې جوابـوې څـه خبـره ده څـه کمې ده په ما کې راته ووايه هغه به هم ليرې کړم؟

اُميـد چـي د حسـينې څخـه يـې مـخ اړولـی وو او د هغـې پـه خبـرو غمګـين وو د ژړا ډکـې سـترګې يـې لـه خپګانـه پټـې کـړې بيـا يـې تـر څـو شـېبو وروسـته سـترګې يـو دم خلاصـې کـړې چـي پـزې تـه يـې ګوتـه ور وړل بيـا يـې وکتـل نـو وې ليـدل چـي تـر پـزې يـې څـه وينـه راغلـې ده. اُميـد پـه پټـه د جېبـه يـو ټـوکر راوکښـی پـزه يـې لـه وينـو پاکـه کـړه بيـا يـې حسـينې تـه وويـل: هيڅ خبره نه ده ما يوازې پريږده هيله کوم!

حسـينې ورتـه وويـل: نـه دې پريـږدم چـي تـر څـو دې زمـا جـواب نـه وي راکړی.

اُميـد پـه غوسـه مـخ پـر را واړوی حسـينه يـې تـر لاس ونيـول او د ادارې څخه يې و ايستل دروازه يې ورته بنده کړه.

حسـينه دروازې تـه ولاړه وه ژړل يـې بيـا ادارې تـه نـږدې پـر يـو چـوکۍ مايوسـه کښېنسـتل هلتـه يـې هـم ډيـر وژړل. اُميـد حسـينه د ادارې د کيمـرې لـه لارې ليـدل تـر څـو سـاعتونو ناسـتې او ژړا وروسـته اُميـد ولاړ سـو او د ادارې دروازه يـې خلاصـه کـړل دبانـدې ور ووتـی. حسـينې هغـه تـه پـه اوښـکو ډکـو سـترګو وکتـل اُميـد هغـې تـه نـږدې سـو د چـوکۍ مختـه لانـدې

ketabton.com - The Digital Library

ور تــه کنبېنســتی خپــل ســر او یــو لاس یــې د حســـینې پــر زنګنونــو کنبېنبــول د ســترګو اونبــکې یــې د حســـینې پــر زنګنونــو ولګیــدې هغــې د اُمیــد ســر پــه خپلــو لاسـونو ونیـوی بیــا یــې پــر ســر نبــکُل کــړ تــر څــو شــېبو وروســته د اُمیــد لاس د حســـــینې د زنګونـــــه بـــې کنټرولـــــه ولویـــدی او د ســـــر زور یـــــې پـــــر زنګنونو زيات سو.

حسینه حیرانه سول بیا یي وویل: اُمیده؟!

اُمیــد څــه ونــه ویــل خــو کلــه چــې حســینې د هغــه ســر لــه زنګونــه پورتــه کــړ نــو وې لیــدل چـــې د اُمیـــد ســـترګې څـــه بـــل رکـــم دي او تـــر پـــزې او خـــولې یـــې وینه روانه ده.

حسینې په حیرانتیا او وارخطایی په لوړ اواز وویل: اُمیده؟!

د حســـینې پـــه لـــوړ اواز د اُمیـــد نـــوم مـــوټروان واوریـــدی ژر د هغـــو پـــر خـــوا ورغلــی کلــه چــې هلتــه ورســیدی نــو وې لیــدل چــې حســینه پــر مځکــه ناســته ده د اُمیــد ســر یــې پــر خپــل زنګــون ایښــی دی هغــه ضــعف ســویدی تــر خــولې او پزې يي وينه راغلې ده.

موټروان وویل: څه وسول اغلې؟

حسینې په چیغو وویل: نه پوهیږم چي څه په وسول.

موټروان وویل: نږدي روغتون سته هلته به يي بوځو.

مــوټروان د اُمیــد تــر مــلا او پښــو لاســونه لانــدي کــړل بیــا یــې مــوټر تــه یــووړ. پــه مــوټر کــې حســینې د اُمیــد ســر خپــل پــر ځنګــون کنبېنبــوی پــر تولــه لار یــې ژړل او د اُمیـــد د پـــر هـــوښ کولـــو لپـــاره یـــې ور بږغ کـــول خـــو اُمیـــد هـــیڅ پـــه

ketabton.com - The Digital Library

هــوښ کــي نــه وو بیــا تــر څــو شــېبو وروســته روغتــون تــه ورســیدل نرســانو اُمیــد پــر تســکیره کښېښــوي بیــا یــي د عــاجلي څــارني اطــاق تــه بــوتلی. حســینه چــي ډیــره وارخطــا او بیریــدلې وه د عــاجلي څــارني د اطــاق مختــه ورتــه منتظــر ســوه بیــا یــي ژر تلیفــون راوکښــی د اُمیــد پــلار تــه یــي تلیفــون وکــړ هغه یي خبر کړ.....

حســینه خپــل دفتــر تــه پــه فکــرو کــي ډوبــه ننوتــل خپــل پــر چــوکۍ کښېنســتل تــر ســترګو یــي اوښــکې روانــي ســوې بیــا یــي پــه لــوړ اواز ژړا پیــل کــړه ډیــر یــي پــه چیغــو چیغــو وژړل تــر څــو شــېبو وروســته یــي د اکــا لــور څنګتــه ورغلــه هغــې ولیــدل چــي حســینې ســر پــر میــز ایښــیدی ژاړي دا یــي بغلتــه کښېنســتل ورته وې ویل: حسینې څه خبره ده؟

حســینې څــه ونــه ویــل همداســي یــي پــه لــوړ اواز ژړل چــي بیــا یــي پــلار او ورور دفتــر تــه ورغلــل پــه حیرانتیــا یــي څنګتــه ورغلــه پــلار یــي پــر ســر لاس ور کښېښوی ورته وې ویل: څه خبره ده لوري؟

حســینې بیــا هــم څــه نــه ویــل همداســي یــي ژړل پــلار یــي بیــا ورتــه وویــل: حسینې لوري څه خبره ده راته ووایه؟

بیــا حســینې پــه ژړا پــر خپــل پــلار لاســونه راوګرځــول وې ویــل: بابــا اُمیــد مــړ کیږي.

پــلار، ورور او د اکــا لــور یــي ډیــر حیــران ســول بیــا یــي پــلار پــه حیرانتیــا وویل: څه؟

حسینې وویل: هو بابا اُمید مړ کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

پلار يي وويل: څنګه لوري پوه نسوم ته څنګه خبره سوې؟

بيا حسينې ورته ټوله کيسه وکړه چي اُميد داسي بې هوښه سو بيا مي روغتون ته يوړ ډاکټر وويل: د اوس لپاره د تشويش کومه خبره نده اوس ښه دی.

حسينې وويل: د اوس لپاره؟

ډاکټر وويل: ولي ته نه يې خبره؟

حسينې وويل: په څه؟

ډاکټر وويل: د اُميد په مريضۍ.

حسينې وويل: کومه او څنګه مريضي.

ډاکټر وويل: اُميد د ويني سرطان دی......

ددې خبر په اوريدو د حسينې پلار، ورور او د اکا لور نور هم سخت پريشانه سول....

ډاکټر اُميد ته وويل: نو زه څه خبر وم چي دا ستا د مريضيه ناخبره ده نو ځکه مي ورته وويل.

اُميد پريشانه د کټ څخه کښته سو بيا په ضعِف حرکت سره د روغتون څخه ووتئ موټر کي کښېنستی بيا د حسينې د دفتر پر طرف ورغلی کله چي هلته ور ورسيدی نو د حسينې دفتر ته دننه ورغلی هلته يي وليدل چي حسينه پر خپل چوکۍ پريشانه او په فکرو کي تللې ناسته ده د اُميد په ليدو يي په خپګان مخ د هغه له طرف واړوه څه يي ونه ويل. اُميد په موسکا د هغې خواته ور نږدي سو پر ميز ورته کښېنستی بيا يې

ketabton.com - The Digital Library

د حسـينې مـخ پـه لاس خپـل طـرف تـه راواړوه ورتـه وې ويـل: څـه خبـره ده اغلې ولي داسي خوابدې ناسته يې؟

حسـينې بيـا خپـل مـخ ځنـي واړوه څـه يـي ونـه ويـل بيـا اُميـد وويـل: راځـه خوابدې يې خبرې نه راسره کوې؟

د حسـينې تـر سـترګو اوښـکې وبهيـدې بيـا اُميـد ورتـه پـه نـاز وويـل: هلـه ګوره لويه انجلۍ ده ژاړې.

حسـينې لا هـم ژړل بيـا اُميـد ورتـه وويـل: ګـوره کـه تـه ژاړې نـو بيـا زه ځـم لـه دې ځايه ځکه زه ستا ژړا نسم ځغملای.

حسـينې پـه ژړا وويـل: تـا زمـا څخـه دا خبـره ولـي پټـه کـړې وه زه دي ولـي په بې ځايه بهانو له ځانه ليري کولم؟

اُميد په موسکا وويل: ښه دا خبره ده؟

بيـا يـي حسـينې تـه تـر څـو شـېبو کتلـو وروسـته وويـل: ويـل يـي څـه فايـده کـول کـه مـي درتـه ويلـي وای نـو نـن چـي تـه پـر کـوم مقـام يـې دا بـه دي نـه وای تر لاسه کړی.

حسينې وويل: داسي زر مقامونه به مي تر تا قربان کړي وای.

اُميـد وويـل: حسـينې درد او غـم کـه زړه تـه داخـل سـول او مـوږ ځـای ورکـړ نـو بيـا مـو د پرمختـګ کچـه صـفر تـه راکمـوي درد او غـم تـه پـه زړه کـي ځـای ورکـول انسـان لـه دنيـا بيـزاره کـوي زه غـواړم تـه تـل قـوي اوسـې چـي هيڅ درد او غم دي ماته نکړي.

ketabton.com - The Digital Library

د اُمیــد د خبــرو پــه جریــان کــي د حســینې پــلار دفتــر تــه را داخــل ســو د هغــه پــه لیــدو اُمیــد لــه میــزه کښــته ســو هغــه تــه یــي ســلام ووایــه. د حســینې پــلار د هغه په لیدو په خوابدتیا وویل: اُمیده زویه دا څه اورم؟

اُمیــد پــه غمناکــه موســکا ویــل: کاکــا د تقــدیر فیصــلې دي شــاید همــدا زمــا په خیر کي وي.....

دوې ورځــې وروســته د حســینې مــوټروان مکتــب تــه ورغلــئ کلــه چــي اداري تــه ورســیدی نــو د اُمیــد څخــه یــي د ورتلــو اجــازه وغوښــتل کلــه چــي اُمیــد اجــازه ورکــړه نــو مــوټروان ورتــه پــر میــز یــو کڅوړــه کښېښــول وې ویــل: صــاحبه دا اغلــې راکــړل چــي تاســو تــه یــي درکــړم چــي یــوه پکښــي انتخــاب کړئ.

اُمیــد حیــران ســو کڅوړــه یــي راواخیســتل چــي وې کتــل نــو د کــوژدې لپــاره د روقو او کارډونو ډیزاینونه وه اُمید په حیرانتیا وویل: دا د چا دي؟

موټروان وویل: اغلې راکړل چي تاسو ته یي درکړم نو ستاسو به وي.

اُمیــد حیــران ســو بیــا یــي تــر څــو شــېبو فکــر کولــو وروســته ویــل: خیــر تــه درځه زه یي بیا ور وړم.

موټروان وویل: سمه ده صاحبه.

کله چي موټروان ولاړی اُمید د ځان سره وویل: دا څه لیونۍ ده!

کلــه چــي اُمیــد فارغــه ســو نــو د حســینې د دفتــر خواتــه ورغلــی کلــه چــي هلتــه ور ورســیدی دروازه یــي خلاصــه کــړل و یــې لیــدل چــي حســینه پــه لمانځــه کــي پــر ســجده ده او ژاړي. اُمیــد یــي تــر څنــګ څــه لیــري کښېنســتی او د

ketabton.com - The Digital Library

حسـينې لمـونځ خلاصـيدو تـه پـه تمـه سـو تـر څـو شـپېو وروسـته حسـينې د سـجدې سـر راپورتـه کـړ تـر پاتـه لمانځـه ويلـو وروسـته چـي يـي اول راسـته او بيـا چپـه خواتـه سـلام وگرځـاوه گـوري چـي څنگتـه يـي اُميـد ناسـت دی هغـي تـر څـو شـپېو د اُميـد پـه سـترگو کـي سـترگې ښـخي کـړي وې بيـا يـي دعـا تـه لاس پورتـه کـړ کلـه چـي يـي دعـا وکـړل لاسـونه يـي پـر مـخ راتيـر کـړل نـو اُميـد ورتـه پـه مـخ کـي د کـوزدې د بلنليکـو کارډونـه کنښـښـول پـه سـترگو يي اشاره ورته وکړل چي دا څه دي؟

حسينې هم د سترگو په اشاره ورته وويل چي څه څه دي؟

اُميد وويل: وايم دا څه دي؟

حسينې وويل: نه يې وينې چي بلنليکونه دي.

اُميد وويل: اوه خو د چا؟

حسينې وويل: ولي ته نه پوهيږې؟

اُميد تر څو شپېو وروسته وويل: حسينې ته ليونۍ يې؟

بيـا اُميـد وويـل: زمـا پـه ژونـد دوې درې اوونـۍ لا بـاور نسـته او تـه د ټـول عمر تړون راسره کوې؟

حسـينه اول اُميـد تـه پـه غوسـه سـوه بيـا يـي پـه ژړا وويـل: دوې درې اوونـۍ څـه چـي يـو سـاعت وخـت دي پاتـه وي لا غـواړم در سـره کـوزده او واده وکړم.

اُميـد وويـل: حسـينې ولـي دي زمـا د يـو څـو ورځـو خوشـحاله سـاتلو لپـاره خپل ټول ژوند خرابوې؟

ketabton.com - The Digital Library

حسـینې وویـل: مـا مـې خپـل فیصـله کـړې ده نـور نصـیحت تـه ضـرورت نسته.

اُمیـد دا موضـوع د حسـینې د پـلار سـره شـریکه کـړل هغـه وویـل: زه څـه ویـلای سـم هغـه خپـل پـه پریکـړو کـې ډیـر ټینګـار کـوي او بیلـه هغـه هـم اُمیـد زویه هغه ستا پر نامه ده ستا لپاره یي ژوند کاوه او کوي به یې.

د ښـو او بـدو تـوپیر او انتخـاب هـر څـوک ښـه کـولای سـي خـو پـه دوو ښـو لارو کـې یـوه انتخـابول ډیـر سـخت وي اُمیـد ډیـر فکـرجن وو چـې څـه وکـړي یـو خـوا یـې خپـل مـرګ پـه سـترګو لیـدی ځکـه یـې د حسـینې سـره کـوزده نسـوای کـولای تـر څـو د هغـې ټـول عمـر برbـاد نسـي بـل خـوا یـې د حسـینې خوښـې لیـدلې چـې دده سـره پـه یـو ځـای کیـدو هغـې تـر لاسـه کـولې اوس اُمیـد پـه دوو ښـو انتخـابو کـې ولاړ وو چـې کـوم یـو بایـد انتخـاب کـړي خـو هغـه خپـل خوښـې شـاته پریښـولې د حسـینې سـره د مینـې او قـدر پـه خـاطر یـې دا غـوره وګڼـل چـې د هغـې ژونـد ور بربـاد نکـړي نـو ځکـه یـې نیـت وکـړ چـې هیـواد پریـږدي او د حسـینې څخـه ډیـر لیـري ولاړ سـي. کلـه چـې اُمیـد د پـلار سـره دا خبـره شـریکه کـړل نـو هغـه وویـل: هغـه لیـونۍ چـې زه تر کومه حده پیژنم تا به داسي په اسانۍ نه پریږدي.

اُمید وویل: بابا زه بله لار نه لرم مجبوره یم چې داسي وکړم.

پلار یي وویل: سمده کوښښ خو یي وکړه.

سـبا تـه اُمیـد د سـفر لپـاره تیـاري پیـل کـړه پـه مکتـب کـې یـې څـه مهـم شـیان بسـتې تـه اچـول چـې پـه دا وخـت کـې حسـینه راغلـه تـر سـلام وروسـته یـې وویل: خبره سوې یم چې هیواد پریږدې ځې.

ketabton.com - The Digital Library

اُمیــد پــه شــیانو راتېرولولــو مصــروف وو تــر څــو شــپېږ وروســته یــي وویــل: هــو هلتــه د بابــا دفتــر یــوازي دی لالا نســې کــولای چــي ورســي نــو مجبــوره یــم زه به ورځم.

حســینې شــونډان ســره کــاږه واږه کــړه ســر یــي وښــوروی، وې ویــل: ســمده ولاړ سه چي خوښه دي وي پرواز دي څه وخت دی؟

اُمید وویل: سبا سهار پر ۱۰ بجې دی.

حسـینې وویـل: ښـه ښـه ښـه صـحي دی سـمده خـو سـبا بیـا بیلـه ملاقاتـه مـه ځه زه تاته یو تحفه درکوم.

اُمید وویل: څنګه تحفه؟

حسینې وویل: بیابه یي سبا ووینې.

اُمید وویل: سمده.

بیــا حســینه بیلــه څــه ویلــو د اداري څخــه ووتــل ولاړل اُمیــد د شــا ورپســي وکتــل وې لیــدل چــي حســینه ډیــره خپــه وه بیــا د ځــان ســره پــه فکــر کــي ســو چي حسینه سباته په تحفه کي څه ورکوي.

کلــه چــي د ســبا لمــر راوختــی، اُمیــد پــه تیــاریو مصــرف وو تــر څــو شــپېږ وروســته یــي تلیفــون وکتــی چــي هســي نــه حســینې ورتــه زنــګ وهلــی وي کلــه چــي یــي تلیفــون وکتــی نــو وې لیــدل چــي کــوم زنــګ نــه وو راغلــی څــو شــیبې پــر کــټ کنښېنســتی بیــا ولاړ ســو څــه شــیان یــي بســتې تــه واچــول چــي بیــا یــي تلیفــون زنــګ ووهلــی. اُمیــد فکــر کــوی چــي حســینه بــه وي خــو چــي تلیفــون

ketabton.com - The Digital Library

یـــي وکتـــی نـــو د حســـینې پـــلار وو اُمیـــد چـــي کلـــه تلیفـــون اوکـــې کـــړ نـــو د حسینې پلار په ژړا وویل: اُمیده زویه!

اُمیـــد د حســـینې د پـــلار د ژړا پـــه اوریـــدو ډیـــر وارخطـــا ســـو پـــه وارخطـــایۍ یـــي وویل: څه پیښه ده بابا خیریت دی؟

د حسینې پلار وویل: حسینه.......

اُمیـد تلیفـون بنـد کـړ پـه پـه بیـړه د اطاقـه ووتـی مـوټر کـي کښېنسـتی روان سـو تـر څـو شـېبو وروسـته روغتـون تـه ورسـیدی گـوري چـي د حسـینې پـلار او ورونــه ډیــر پریشــانه ولاړ دي اُمیــد هغــو تــه نــږدي ورغلــی د اُمیــد پــه لیــدو د حســینې پــلار وویــل: درتــه ومــي ویــل چــي دا بــې عقلــه بــې تــا ژونــد نســي کولای.

د دوی د خبــرو پــه جریــان کــي ډاکټــر د عملیــاتو د اطاقــه راووتــی ورتــه وې ویــل: د پریشــانۍ کومــه خبــره نــه ده د خــوب گــولۍ یــې خــوړلي وې ټــولي مــو څنــي را وایســتلې دوې درې دانــې هضــم ســوي وې چــي د هغــو پــه ســبب بــه تــر نــیم ســاعته پــوري دا پــه هــوښ کــي نــه وي تــر نــیم ســاعت وروســته بــه پــه هــوښ کــي راســي تــر هغــه پــوري تاســو انتظــار ورتــه وکــړئ نرســان بــه د عملیــات اطــاق صــفا کــړي اغلــې بــه د اســتراحت اطــاق تــه بــوځي تاســو هلتــه انتظار ورته کولای سئ.

د اُمیــد او د حســینې د کــورنۍ د غــړو زړونــه څــه پــه کــراره ســول بیــا اُمیــد ســاعت تــه وکتــل چــي د پــرواز وخــت تــه یــي ډیــر کــم وخــت پاتــه وو بیــا یــي لــه جیبــه د طیــارې ټکیــټ را ویســتی څیــرې یــي کــړ او پــه کچــره دانــۍ کــي یــي

ketabton.com - The Digital Library

وغورځوی بیا یې د حسینې پلار ته وویل: بابا تاسو کور ته درځئ زه به حسینه تر استراحت وروسته درولم هیله کوم.

د حسینې د کورنۍ غړو یو و بل ته سره وکتل بیا د حسینې پلار وویل: سمده.

تول ولاړل حسینه یې د استراحت اطاق ته یوړل کله چې نرسانو هغه د استراحت په اطاق کې ځای پر ځای کړل نو بیا دباندې راووتلې. اُمید د نرسانو تر راوتلو وروسته د استراحت اطاق ته ورغلی د حسینې د کټ تر څنګ کښېنستی د هغې په څېهره کې یې سترګې ښخي کړې بیا یې تر سترګو اوښکې روانې سوې. تر نیم ساعت وروسته حسینه هم پر هوښ راغله هغې ولیدل چې اُمید یې تر څنګ ناست دی. اُمید د حسینې لاس په لاس کې ونیوی ښکُل یې کړ بیا یې په اوښکو ډکو سترګو وویل: زما اولنۍ مینه مروا چې کله خبره سوه چې زه سرطان یم نو په یوه او بله بهانه به یې ځان راڅخه لیري کاوه بیا یې یو ورځ تلیفون راوکړ چې ما وبخښه زه مې پلار بل چاته ورکړم ستا سره په دوستۍ نه وو راضي، خو یو ته یې چې پر خبرتیا سربیره هم زما د لاسته راوړلو لپاره بې تابي کوې.

حسینې د اُمید سر خپل خواته رانږدي کړ پر سر یې ښکُل کړ بیا یې وویل: د زرو قدر زرګر ته ور معلومیږي که هغې خپل کړی وای نو نن به ما دا سره زر د کومه کول.......

تر څو ساعتو باندې وروسته اُمید حسینه د روغتون څخه را و ایستل د موټر د مخ په سیټ کې یې کښېنول او خپله یې موټر روان کړ. پر لاري

ketabton.com - The Digital Library

حسـينې اُميـد تـه پـه موسـكا كتـل چـي د اُميـد ورتـه فكـر سـو ورتـه وې ويـل: څه خبره ده ولي داسي ګورې راته؟

حسـينې پـه موسـكا وويـل: د خپـل هغـه ښـه عمـل پـه اړه فكـر كـوم چـي پـه كولو يي خداى ته زما را په نصيب كړې چي دا به كوم عمل وو؟

اُميد وويل: ولي په ما كي څه خاص سته؟

حسـينې وويـل: كـه ځانتـه زمـا پـه نظـر وګـورې نـو بيابـه ونـه وايـې چـي پـه مـا كي خاص څه سته؟

اُميـد وويـل: پريـږده يـي سـتا خبـرې ګـوره د ۸۰۰ ډالـرو ټكيـټ دي رابانـدي څيري كړ.

حسـينه موسـكې سـوه خپـل راسـته لاس يـي د اُميـد تـر چپـه لاس و ايسـتې بيـا يـي سـر پـر اوږه ورتـه كښېښـوى وې ويـل: ولـي دا ۸۰۰ ډالـر تـر مـا او زما تر خوشحالۍ درته مهمي دي؟

اُميد په موسكا وويل: څه وايې! په ۸۰۰ ډالرو ۸ دانې حسينې كيږي.

حسينې اُميد كرار په چپلاخه پر ځيګر ووهلې بيا يي وويل: چپ كه.

بيـا حسـينې پـه موسـكا وويـل: ځـه خيـر دا ۸۰۰ ډالـر بيـا زمـا د مَهـره وګرځوه.

اُميد وويل: ارر مَهر څوک دركوي؟

حسينې وويل: ولي نو مَهر نه راكوې؟

ketabton.com - The Digital Library

اُمید وویل: یا یوه افغانۍ هم نه درکوم دا خو ظلم دی انجلۍ په لکونو او هلک همداسي وړیا؟

حسینې وویل: ولي بیا چي دا ټول عمر انجلۍ د خاوند خدمت کوي کوچنیان يي ورته ساتي دا هیڅ نه دي؟

اُمید وویل: نو کوچنیان خو به یوازي خاوند نغواړي خو میرمن به يي هم غواړي....

اُمید نوري خبرې هم کولې چي حسینې يي خبرې پرې کړې وې ویل: بس بس نوري خبرې دي نه اورم که هر څنگه وي زه مَهر غواړم.

اُمید په موسکا وویل: زه يي نه درکوم که نه تیر یم تر دا واده.

حسینې بیا په چپلاخه پر ځیگر ووهلۍ بیا اُمید وویل: ځني کسان په ژوند کي خاص وي چي د هغو هیڅ قیمت نه وي هغه لکه مور، پلار، خور، ورور او هغه ځوک چي مینه ور سره کوې(میرمن).

حسینې وویل: نو ته خو زما سره مینه نکوې که نه راته ویلي به دي وای.

اُمید وویل: زړه کي مي در سره کول.

حسینې وویل: زړه نو زه څه کوم چي په خوله دي نه راته ویل زه څومره انتظار سوم ستا میني ویلو ته چي نن به وایي سبا به وایي خو یا ښاغلي به په یوه بهانه و بله بهانه ځان راڅخه لیري لیري کاوه.

اُمید وویل: لیونۍ هغه مینه چي په زړه کي کیږي تر هغه میني ډیره زیاته وي چي په خوله ویل کیږي زیاتره وخت د خولې ویل صرف

ketabton.com - The Digital Library

ظاهري وي باطني بیا هغومره مینه نکوي څومره چې په خوله وایي شاید ما ستا له میني مخکي مینه در سره شروع کړې وي....

دوې ورځې وروسته چې کله حسینه څه ناڅه جوړه سول نو د افغاني دود سره سم د اُمید کورنۍ د حسینې د غوښتلو لپاره د هغو کور ته په مرکه ورغلل. کله چې د اُمید پلار د اُمید لپاره د حسینې د غوښتلو وویل نو د حسینې پلار د کور دوهم منزل ته وکتل وې لیدل چې حسینې د دوی خبرو ته غوږ نیولی دی نو په ټوکو یې د اُمید پلار ته وویل: زه به د حسینې سره مشوره وکړم سهار چې مې ولیدل داسې معلومیدل چې په دې دوستۍ نه ده راضي.

د اُمید پلار موسکی سو بیا هغه هم په ټوکو وویل: چې رښتیا سې ما هم چې حسینه په دفتر کې لیدل نو داسې معلومیده لکه د اُمید سره چې یې نه وي جوړه.

د حسینې پلار وویل: زه هم داغه فکر کوم خیر داسې یو میاشت به ورته انتظار سو که چیري د حسینې خوښه سول بیابه دوستي وکړو.

د اُمید پلار ولاړ سو وې ویل: سمده نو موږ به ولاړ سو.

د اُمید د پلار په ولاړیدو حسینه اطاق ته ننوتل دروازه یې په ډیر زور سره بنده کړل په دې سره ټول په خندا سول د حسینې پلار وویل: اوس به نو بیا دا لیونۍ ددې مسخرو په سبب په ژړا ځان ستړی کړي.

بیا د کوزدې مراسم شروع سول د کوزدې نکاح وتړل سول په مراسمو کې وویل سول چې دوې ورځې وروسته به واده وي د کوزدې د مراسمو تر خلاصیدو وروسته د حسینې د اکا لور د هغې اطاق ته ورغله

ketabton.com - The Digital Library

ګوري چې حسینه پر کټ پرته ده ژاړي د اکا لور یې تر څنګ کښېنستل ورته وې ویل: حسینې! لیونۍ هغو مسخرې کولې ته په ربښتیا سوې مبارک دي سه کوزده وسول دوې ورځې وروسته د واده ورځ وټاکل سول اوس خو نو خوشحاله سه.

حسینې وویل: ځه زه یې نکوم دا کوزده او واده.

د اکا لور یې په ټوکو وویل: سمده زه به کښته ورسم ټولو ته به ووایم چې حسینه وایې چې زما دا دوستي نه ده قبوله.

کله چې یې د اکا لور ولاړه سول نو حسینې تر لاس ونیول پر کټ یې وغورځول دواړو ډېر سره وخندل. کله چې د اُمید پلار، ورور او نور دوستان کور ته ورسیدل نو اُمید د هغو مختې راووتی د هغه په لیدو یې ورور او دوستانو باندي ور وځغستل په ګلانو یې وویشتی او په غیږ کې ټولو سره ونیول بیا اُمید د پلار خواته ورغلی پلار یې وویل: مبارک دي سه زویه!

اُمید پلار ته نږدي ورغلی په غیږ کې یې سره ونیول بیا د اُمید پلار تر څو شیبو پوري اُمید ته کتل چې په دا وخت کې یې یو دم د خپګان سولګۍ شروع سوې او په ژړا سو تر سترګو یې اوښکې رواني سوې بدن یې کمزوری سو څنګته پر پرتې چوکۍ کښېنستی ژړل یې. اُمید هم د پلار په لیدو احساساتي سو تر سترګو یې اوښکې رواني سوې بیا خپل د اطاق پر طرف ولاړی. د اُمید ورور او دوستان د هغه د پلار تر څنګ کښېنستل د اُمید اکا وویل: وروره حوصله ولره تا باید هغه ته

ketabton.com - The Digital Library

اُمید ورکړی وای چې هر څه سم دي خو ته خپله د هغه ومخته په ژړا سوې.

د اُمید پلار په ژړا وویل: وروره پر ځان مي وژړل چې زه څومره ناوسه یم چي زوی مي نسم ژغورلای څومره بدبخته پلار یم زه.....

د اُمید تلیفون ته زنگ راغلی کله چي یي وکتی نو وې لیدل چي حسینه ده سترګې یي د اوښکو پاکي کړې بیا یي تلیفون اوکې کړ حسینې وویل: سلام.

اُمید وویل: وعلیکم السلام جوړ پخیر.

حسینې چي کله د اُمید ږغ واوریدی نو وې ویل: ته ژاړې؟

اُمید په ژړغوني ږغ وویل: یا ولي؟

حسینې وویل: درواغ مه وایه ولي دي ژړل ها خیریت خو به وي؟

اُمید وویل: هو خیریت دی هغه د بابا په غمجن لیدو یو څه احساساتي سوم.

حسینې وویل: ولي خدای نکړه په بابا خو به کوم څه نه وي سوي؟

اُمید وویل: یا لیونۍ هغه ښه دی خو زما په لیدو څه غمجن سو.

حسینې وویل: په تا خو به کوم څه نه وي سوي چي بابا غمجن سو؟

اُمید وویل: افففف یا لیونۍ زه سم یم نور هم ټول سم دي اوس ووایه چي ولي دي زنگ را وهلی دی؟

حسینې وویل: ولي زه تاته همداسي زنګ نسم وهلی؟

اُمید وویل: ولي نه خو زما فکر سو چي داسي نه کوم خاص څه وایې.

حسـینې وویـل: خـاص څـه خـو وایـم مبـارک دي سـه وای کـوزده دي وسول.

اُمید وویل: هو مننه ستا دي هم مبارک وي.

حسـینې وویـل: ماتـه ولـي مبـارکي وایـې هغـې انجلـۍ تـه یـي ووایـه چـي تـا ور سره کوزده وکړل.

اُمید وویل: اوه ښه وایې سمده نو وبخښه زه به هغې ته مبارکي ووایم.

حسـینې وویـل: صـحي دی ورتـه وې وایـه هسـي څـوک ده ښایسـته ده کـه بدرنگه ستا خوښه ده که نه؟

اُمیـد وویـل: یـو لیـونۍ ده، یـو کـم عقلـه ده، یـو بدرنگـه ده خـو بـس څـه وکـړم نصـیب مـي ور سـره سـوی وو کـه نـه دا عصـابي چـا څـه کـول بـس زمـا نصـیب خراب دی چي کوزده مي ور سره وسول.

حسینې په غوسه وویل: ښه زه عصابي یم؟ لیونۍ یم؟

اُمید په موسکا وویل: ته چا یاده کړې زه خو خپل میرمن یادوم.

حسینې په غوسه وویل: ځه سمده زه نور خبرې نه در سره کوم.

حسـینې تلیفـون بنـد کـړ اُمیـد موسـکی سـو تلیفـون تـه یـې میسـج راغلـی کلـه چـي اُمیـد وکتـی نـو د حسـینې میسـج وو لیکلـي یـي وه: بابـا نـارې را وهلـې هغه ته ورځم.

ketabton.com - The Digital Library

بیا دوهم میسج راغلی لیکلي یي وه: مینه در سره لرم او هو ته د مینې ونه وایې بیا دي پیسې مصرفیږي.

اُمید موسکی سو بیا ده میسج کي ورته ولیکل: زه یي بیا د واده د شپې ځخه درته وایم اوس که ووایم بیا مي داسي نه تر واده وروسته مینه در سره کمه سي.

اُمید ته په دفتر کي د مبارکۍ میلمستیا نیول سوې وه ټولو اُمید ته مبارکي ورکول چي په دا وخت کي یي تلیفون ته زنګ راغلی ده چي وکتی نو وې لیدل چي حسینه ده کله چي یي تلیفون اوکې کړ تر روغبړ وروسته حسینې وویل: زه، مور او بابا ځو بازار ته سودا کوو ته هم راسره ولاړ سه د واده شیان به د یو او بل په خوښۍ واخلو.

اُمید وویل: ملګرو مي ویل چي زموږ سره ولاړ سه موږ یي درته خوښوو.

حسینې په غوسه وویل: هو ته نو کله زما د خوښي پروا لرې ورسه ځه ور سره ولاړ سه د هغو سره زه نه ځم ګرسره سودا نکوم.

حسینې تلیفون بند کړ اُمید موسکی سو د ځان سره یي وویل: یو خو زه ددې انجلۍ غوسې لیونی کړم پر هر شي او هره خبره غوسه.

حسینې مور او پلار ته وویل: تاسو ورسئ ستاسو په خوښه شیان راته واخلی زه نه ځم.

مور او پلار یي حیران سول پلار یي وویل: ولي لوري تا خو ویل زه هم ځم.

ketabton.com - The Digital Library

په دا وخت کې اُمید د حسینې کور ته را داخل سو وې ویل: دا نازونه کوي بابا راځئ زه در سره ځم دا پریږدئ.

د حسینې مور او پلار د اُمید سره تر روغبړ وروسته وویل: ښه تاسو دوو لکه چې بیا جنګ سره کړیدی.

اُمید وویل: زه یې نه ور سره کوم دا پر هره خبره جنګ ته ځان تیاروي.

حسینې وویل: هو ته خو ملایکه یې تا خو هیڅ نه دي کړي.

اُمید وویل: اوس درځه ناوخته کیږي.

حسینې وویل: زه نه ځم تاسو ورسئ!

اُمید د حسینې مور او پلار ته وویل: تاسو درځئ په موټر کې کښېنئ زه دا پُخلا کوم بیا پسې درځو.

د حسینې مور او پلار د موټر پر طرف روان سول حسینې وویل: زه نه ځم.

اُمید تلیفون غوږ ته ونیوی وې ویل: اورې روبینې ته د واده په سودا پوهیږې؟

د روبینې د نوم په اوریدو سره حسینه په غوسه سول سترګې یې پر اُمید غټې کړې په غوسه یې د هغه د لاسه تلیفون واخیستی پورته یې کړ غوښتل وې غورځوي چې اُمید ورته وویل: هې هې اول یې وګوره همداسې مې غوږ ته نیولی وو هیڅوک نه وه.

ketabton.com - The Digital Library

حسـينې چـې تليفـون وکتـی نـو وې ليـدل چـې ربښـتيا هـم تليفـون بنـد دی کـوم څوک نـه وه پـر ليکـه بيـا يـې وويـل: کـه دي د بلـې انجلـۍ سره خبـرې کـړې وې سترگې دي درڅخه راکاږم.

اُميـد موسـکی کيـدی بيـا يـې وويـل: سـمده نـه يـې کـوم اوس درځـه نـو مـور او پلار دي راته انتظار دي.

حسينې وويل: سمده اول بخښنه وغواړه.

اُميد وويل: پر څه شي بخښنه وغواړم څه مي وکړه؟

حسـينې وويـل: دا ماتـه چـې دي پـه تليفـون کـې منفـي جـواب راکـړ او اوس چي دي په دا تليفون خطايستم زه دي زهيره کړم.

اُميـد وويـل: سـمده زمـا گرانـې خـوږې ميرمنـې زه بخښـنه غـواړم مـا مظلـوم ته بخښه وکه.

حسينې وويل: هو هو ډير مظلوم يې سمده زه به حجاب راواخلم.

بيـا ټـول ولاړل د واده لپـاره يـې سـوداوي وکـړې حسـينې بـه د هـر شـي پـه انتخـاب کـې د اُميـد سره مشـوره کـول کلـه چـې بـه د دواړو يـو څـه خـوښ سـول بيابـه يـې هغـه انتخـابول سـودا وسـول بيـا ټـول کـور تـه ولاړل کلـه چـې اُميـد د حسـينې څخـه رخصـت اخيسـتی نـو هغـه د مـوټر هنـداري تـه ورتـه نـږدې سـول څـو شـيبې يـې ورتـه کتـل بيـا يـې د اُميـد مـخ پـه خپلـو لاس ونيـوی ځانتـه يـې راکـش کـړ پـر تنـدې يـې ښـکُل کـړ بيـا يـې ورتـه وويـل: اوس ولاړ سه.

ketabton.com - The Digital Library

اُمیـد موسـکی سـو بیـا یـې د حسـینې څخـه خـدای پـه امـاني واخیسـتل او روان سـو حسـینې تـر څـو شـېبو پـوري ورتـه کتـل چـي کلـه یـې اُمیـد د سـترګو پـټ سـو بیـا کـور تـه ولاړل. د واده تیـاری شـروع سـو او پـه سـبا کـي یـې مراسـم ونیـول سـول او واده پـه ښـه شـان سـره وسـو. کلـه چـي ټـه میلمانـه ولاړل او نـور د واده مراسـم خـلاص سـول نـو اُمیـد د خپلـي نـاوې اطـاق تـه ورغلـی. پـه اطـاق کـي حسـینه د نـاوې پـه جـامو کـي پـر سـینګار سـوي پالنـګ ناسـته وه اُمیـد بوټونـه وکښـل کـورتۍ یـې و ایسـتل بیـا پالنـګ تـه ورغلـی د حسـینې پـه غیـږ کـي یـې سـر کښېښـوی سـترګې یـې پټـې کـړې څـو شېبې همداسي خاموشه وه بیا حسینې وویل: څه وسول؟

اُمیـد وویـل: هـر څـه مـي درلـودل خـو بیـا هـم تـل بـه داسـي وم لکـه هـیڅ چـي نـه لـرم داسـي احسـاس بـه مـي کـاوه لکـه د کـوم څـه پـه لټـه کـي چـي یـم نـن او پـه همـدا شـېبه مـي هغـه احسـاس لمنځـه ولاړی اوس داسـي احسـاس کـوم چي هغه څه چي زه یې د کلونو راهیسي په لټه کي وم پیدا مي کړل.

حسـینه موسـکۍ سـوه خپـل لاس یـې د هغـه پـه وریښـتیانو کـي نایسـتۍ پـر تنـدې یـې ښـکُل کـړ بیـا اُمیـد وویـل: اوس مـي سـکون تـر لاسـه کـړ اوس هغـه بېـره نلـرم چـي مخکـي بـه مـي کـول چـي ایـا تـر مـرګ مخکـي بـه زه هغـه څه چي په لټه کي یې یم پیدا به یې کړم که نه.

حسـینې وویـل: د مـرګ نـوم بـل وار مـه یـادوه خـدای دي زمـا عمـر لا تاتـه درکړي.

سـهار وختـي حسـینې ټولـو مېلمنـو تـه ناشـته ور تیـارول چـي د اُمیـد پـلار د مسـجد څخـه کـور تـه راغلـی ګـوري چـي حسـینه پـه پخلنځـی کـي د

ketabton.com - The Digital Library

خــدمتګارانو ســره مصــروفه ده ناشــته تيــاروي د هغــې خواتــه ورغلــی تــر سـلام او روغبــړ وروســته يــي ورتــه وويــل: حســينې لــوري! ســتا خــو د واده اولــه ورځ ده ســتړې بــه يــي او بيــا د نــن ســبا ناوېــاني خــو تــر دوو درو ورځــو پوري د اطاقه نه راوځي ته څنګه راوتلې يې؟

حســينې وويــل: يــا کاکــا کومــه خبــره نــه ده زه نــه يــم ســتړې ماتــه ښــه خونــد راکــوي چــي تاســو ټولــو تــه ناشــته تيــاره کــړم بيــا زه خــو يــوازي نــه يــم چــي ستړې مي کړي دا دی دوی(خدمتګاراني) هم راسره دي.

د اُميــد پــلار موســکی ســو بيــا يــي وويــل: زمــا ميــرمن د اُميــد مــور هــم داســي وه د واده پــه اول ســهار کــټ مــټ ســتا پڅيــر وختــي کنبېنســتل او ټولــو تــه يي ناشته تياره کړه.

حســينې وويــل: کاکــا زه بــه هــم کوښــښ وکــړم چــي د خوابنــي جــاني پڅيــر ستاسو او ددې کور خدمت وکړم.

کلــه چــي ناشــته تيــاره ســوه نــو حســينه خپــل اطــاق تــه ولاړه کلــه چــي هلتــه ننوتــل نــو وې ليــدل چــي اُميــد لا هــم بيــده دی د ځــان ســره يــي د ګيلــې پــه ډول وويــل: دی بيــا ګــوره ميرمنــي يــي ټولــو تــه ناشــته لا وذ تيــاره کــړه خــو خاوند لټ يي لا تر اوسه بيده دی.

بيــا نــږدي ورغلــه تــر کــټ لانــدي ورتــه کنبېنســتل پــر مــخ يــي لاس ورتــه کنبېښوی ورته وې ويل: زما خاوند جانه.

اُميد د خوب په اواز وويل: ها!

حسينې وويل: شين سهار دی نور نه ولاړېږې؟

ketabton.com - The Digital Library

اُمید وویل: اوس لا وختي دی.

حسینې په غوسه وویل: هله ولاړ سه که نه اوبه درباندي تویوم.

اُمید وویل: یو څو شېبې مي لا پرېږده.

حسینې یې تر ملا لاس ور لاندي کړ پورته یې کړ وې ویل: هله هله ولاړېږه نور به زما پر قانون ځې زما په خوښه به ژوند کوې.

اُمید ولاړ سو د خوبه یې سترګې سره وموښلې وې ویل: که ولاړ نسم نو؟

حسینې وویل: ډوډۍ درباندي بندوم.

اُمید حسینه تر لاس ونیول پالنګ ته یې راکش کړل لاسونه یې دواړه په خپلو لاسو کې ونیول بیا یې په مینه وویل: ډوډۍ راباندي بنده کړه، ژوند راباندي بند کړه هر څه راباندي بند کړه خو لیدل دي مه راباندي بندوه که نه زما خو به زړه وچوي در پسي.

حسینه موسکۍ سوه بیا یې وویل: اها ښه دی چې خپل دا کمزوري دي راته وویل نور که دي زما په قول نکول نو بیا اطاق ته نه درته راځم.

اُمید وویل: په زوره دي راولم.

حسینې وویل: د پلار کور ته در ځخه ځم د هغه ځایه مي په زور نسې راوستلای.

اُمید وویل: ته خو لا ولاړه سه بیابه یي ګورو.

ketabton.com - The Digital Library

حسـينې وويـل: ايلـه مـي کـه اوس بـه يـو څـوک راسـي د اطـاق دروازه هـم خلاصه ده.

اُميد وويل: نو څه چي راسي خپل ميرمن مي يې.

حسينې وويل: بد کار دی هغوی به وايې چي ښځګه بې شرمه دي.

اُميـد وويـل: نـو و دي وايـي څـه مـا او تـا خـو د نـورو لپـاره ژونـد نکـوو د ځان لپاره يي کوو چي هر ښځګه مو خوښه وي هغسي يي کوو.

د اُميـد د خبـرو پـه جريـان کـي دروازه وټکيـدل او د خـدمتګاري بږغ سـو چـي حسـينې تـه يـي ور بږغ کـړه. پـه دې سـره اُميـد حسـينه پريښـول د پالنـګ څخـه وغورځيـدی ژر ولاړ سـو حسـينې ډيـر پـر وخنـدل بيـا حسـينې خدمتګاري ته ور بږغ کړل: سمده ته درځه زه پسي درځم.

حسـينه اُميـد تـه ور نـږدي سـول پـه موسـکا يـي ورتـه وويـل: زمـا خاونـد جانـه هغه غټي غټي خبرې دي څه سوې؟

اُميـد وويـل: خيـر زه بـه ورسـم حمـام بـه وکـړم تـه ورسـه چـي خـدمتګاره څـه وايي.

کلـه چـي اُميـد حمـام تـه ولاړی د لمبيـدو پـر وخـت يـي احسـاس کـړل چـي لـه پـزې يـي کـوم څـه روان دي کلـه چـي يـي پـه هنـداره کـي وکتـل نـو تـر پـزې يـي وينـې بهيـدلې اُميـد ډيـر پريشـانه سـو پـه دا وخـت کـي د تشـناب دروازه وټکيدل حسينې وويل: بابا لاندي غوښتي يو.

اُميـد ژر د پـزې وينـې پـاکي کـړې بيـا يـي وويـل: سـمده تـه درځـه زه ځـان تياروم پسي درځم.

ketabton.com - The Digital Library

حسـيـنې وويـل: سـمده خـو ژر راځـه زه يـوازې شـرمېږم چـې د مېلمنـو سـره ناسته يم.

اُميد په څه غوسه ناک ډول وويل: وايم سمده درځم.

حسـينه د اُميـد پـه غوسـه نـاک بږغ سـره څـه اندېښـمنه سـوه تـر څـو شـېبو فکـر وروسـته روانـه سـول. اُميـد کوښښ کـاوه چـې د پـزې وېښـه پاکـه کـړي خـو هغـه تـر ډېـره نـه بنديـدلې حسـينه لانـدي د مېلمنـو سـره ناسـته وه خـو فکـر يـې پـه اُميـد کـې وو د اُميـد د پـلار چـې کلـه هغـې تـه فکـر سـو نـو ورتـه وې ويل: حسينې لورې؟

حسينه د فکره راووتل وې ويل: ها کاکا.

د اُميد پلار وويل: څه خبره ده؟

حسينې وويل: هيڅ نه.

د اُميد پلار وويل: اُميد چيرې وو؟

حسينې وويل: ځان يې تياروی ويل درځمه.

تـر څـو شـېبو وروسـته اُميـد د اطاقـه راووتـی ميلمانـه، حسـينه او پـلار يـې ورتـه پـه تمـه وه چـې اُميـد بـه اوس د دوی سـره ناشـتې او بانـډار تـه کښـېني خـو اُميـد بيلـه څـه ويلـو او کتلـو د کـور د صـالونه پـه تلـوار او پريشـانۍ ووتـی ولاړی. د اُميـد پـه دا کړنـه ټـول ډېـر حيـران سـول د اُميـد پـلار د سـترگو پـه اشـاره د اُميـد ورور تـه وويـل چـې پسـې ورسـه هغـه هـم پسـې ورغلـی کلـه چـې اُميـد مـوټر تـه پورتـه کيـدی نـو ورور يـې ور بږغ کـړل: اُميده!

ketabton.com - The Digital Library

اُمیــد چــي پــزې تــه یــي ټــوکر نیــولی وو د ورور پــه ږغ ودریــدی بیــا چــي یــي ورور نږدي ورغلی ورته وې ویل: څه خبره ده؟

اُمید وویل: کومه خاصه خبره نه ده لالا د پزې وینه مي نه دریږي.

ورور یي وویل: لیونیه دا نو اوس خاصه خبره نه ده؟

بیــا چــي یــي ورور پــزه او وینــه وکتــل نــو وې ویــل: تــه هلتــه مختــه کښــېنه موټر زه چلوم.

اُمیــد مــوټر ورور تــه پریښــوی بیــا هغــه روغتــون تــه بــوتلی کلــه چــي یــي ډاکټــر معاینــات وکــړل نــو اُمیــد او ورور یــي ډیــر پریشــانه ســول تــر څــو شــېبو وروســته چــي د اُمیــد د پــزې وینــه ودریــدل بیــا دواړه د کــور پــر طــرف روان ســول پــر لارې د اُمیــد ورور اُمیــد تــه وکتــل بیــا یــي مــخ واړوی تــر ســترګو یــي اوښکې رواني سوې د هغه د اوښکو په لیدو اُمید وویل: څه خبره ده؟

ورور یي وویل: هیڅ نه.

اُمید په ټوکو وویل: نارینه چي ژاړي ډیر بد معلومیږي.

ورور یي وویل: چپ که لیونیه.

بیــا اُمیــد وویــل: پــه کوچنیــوالي بــه دي ډیــر وهلــم او زهیــرولم د بــازۍ شــیان به دي نه راکول اوس دا دی هر څه تاته پریږدم.

ورور یــي ځــان کنټــرول نــه کــړ مــوټر یــي د ســړک څنــګ کــي ودروی د څنــګ پــر هنــداره یــي لاس کښېښــوی ډیــر یــي وژړل اُمیــد یــي لاس پــه لاس کــي ونیــوی ورتــه وې ویــل: کلــه چــي زه پــه امریکــا کــي وم او تــه دلتــه وې نــو ځــان مــي ډیــر کمــزوری احساســوه اوس چــي مــي څنــګ کــي یــي نــو ځــان

ketabton.com - The Digital Library

ډېر قوي احساسوم نو ځان دي کنټرول کړه چې ورور دي د مرگ سره په جگ سر او قوت سره مخ سي چې ته را سره یې لالا د هیڅ شي څخه بیره نلرم.

کله چې اُمید او ورور یې کور ته ورسیدل نو گوري چې د صالون مخته حسینه د اُمید په تمه پریشانه ناسته ده د اُمید ورور د حسینې طرف ته اشاره وکړل اُمید ته یې وویل: وگوره ما فکر کوی چې یوازې به پر ما او بابا ډېر گران یې او فکر به دي راسره یې خو میرمن دي هم اوس زمونږ ډلې ته راغله څه ډول په بې صبرۍ درته انتظار ده.

اُمید موسکی سو بیا دواړه د موټره راکښته سول د هغو په لیدو حسینه مخته ورغله تر سلام وروسته چې کله د اُمید ورور کور ته دننه ولاړی حسینې په غوسه اُمید پر لاس ووهه بیا یې ور ته وویل: ته ماته بیله څه ویلو چیري ولاړې؟

اُمید په موسکا وویل: ښه دا هر خاوند د میرمنې په اجازه ژوند کوي که یې ته یوازې په ما کوې؟

حسینې وویل: په نورو نه یم خبره خو ته به زما بیله اجازې هیڅ کار نکوې.

اُمید وویل: بابا څه سو؟

حسینې وویل: د مېلمنو سره باغچې ته تللی دی.

بیا اُمید دننه کور ته وکتل څوک نه وه بیا یې حسینه په غیږ کې پورته کړل حسینې په حیرانتیا وویل: کښته مې کړه یو څوک به مو ویني.

ketabton.com - The Digital Library

خــو اُميــد ټينگــه نيــولې وه بيــا يــې کورتــه دننــه بوتلــه او خپــل اطــاق تــه ولاړل اُميــد حســينه پــر کــټ کښــېنول بيــا يــې تــر څنــګ کښېنســتی د هغــې پــه ســترګو کــې يــې خپلــې ســترګې ښــخې کــړې بيــا يــې وويــل: کلــه کلــه ســتا پــه ليــدو دا فکــر کــوم چــې دومــره زيــات ســکون او خوشــحالي پــه دنيــا کــې ســتا تــر څنــګ لرم نو په هغه دنيا کې به څومره سکون او خوښي وي.

حسينې وويل: غوړه مالي مکوه زه نه در پُخلا کيږم.

اُميد په حيرانتيا وويل: خو ته خوابدې کله سوې؟

حسينې وويل: اوس خوابدې سوم چې زما بيله اجازې کارونه کوې.

اُميد وويل: اځه سمده بيا يې نکوم اوس را پُخلا سه نو.

حســينې وويــل: پــه يــوه شــرط هغــه دا چــې زمــا ســره بــه پــه پخلنځــی کــې د غرمې لپاره د خوړو په تيارولو کې کمک کوې.

اُميــد وويــل: ريســتورنټ تــه بــه زنــګ ووهــم ټولــو تــه بــه تيــار خــواړه راوړي نــو دومره ستړيا ته څه ضرورت؟

حســينې وويــل: يــا تــه نــه يــې خبــر چــې د کاکــا او ســتا د خالــه د ريســتورنټ خواړه نه خوښيږي درځه هله په دواړو به يې ورته پاخه کړو.

اُميد وويل: خو زما اشپزې نه ده زده.

حســينې وويــل: اشــپزې زه کــوم تــه صــرف هلتــه راســره اوســه چــې تاتــه ګــورم بيا ښه شيان پخولای سم.

اُميد په ستړي ږغ وويل: سمده درځه نو.

ketabton.com - The Digital Library

حسينې وويل: ته درځه زه به کالي بدل کړم بيا به پسي درسم.

اُميد وويل: صحي دی.

کله چې اُميد لاندي ولاړی نو لومړی خپل موټر ته ولاړی د موټر څخه يې د معاينـاتو ورقې راواخيستي بيا يې لاټېر ورته ونيوی هغه ورقې يې وسوځلې په دا وخت کې نابيره حسينه د کلکين خواته ولاړه کله چې يې کښته وکتل نو وې ليدل چې اُميد ورقې سوځي دا حيرانه او فکرجنه سوه چې اُميد ولي دا ورقې سوځلې حتماً هغه ددې څخه څه پټوي بيا تر څو شېبو وروسته حسينه کښته ولاړه کله چې د اُميد سره مخ سوه نو وې ويل: څه دي سوځول؟

اُميد وويل: چيري؟

حسينې وويل: دباندي د موټر سره.

اُميد وويل: هغه داغسي اضافه ورقې وې ما ويل چې غورځوم يې گناه لري سپيني ورقې دي نو ځکه مي وسوځلې.

حسينې د اُميد سترگو ته څو شيبې کتل پوهيده چې هغه يو څه پټوي بيا يې وويل: درواغ مي په زړه کې نفرت درته پيدا کوي نو ځکه يې هيڅکله راته ونه وايې.

اُميد موسکی سو بيا يې وويل: درواغ ولي درته وايم ليونۍ.

حسينې وويل: کوښښ يې هم مکوه.

اُميد په دواړو لاسو حسينه تر بازوگانو ونيول وې ويل: سمده ليونۍ نه يې کوم.

ketabton.com - The Digital Library

تــر یــوې اوونــۍ ژونــد تیرولــو وروســته یــوه ورځ ســهار وختــي چــي کلــه حســینې ســترګې د خوبــه خلاصــي کــړې نــو وې لیــدل چــي تــر څنــګ یــي اُمیــد دې تــه پــه موســکا موســکا ګــوري. حســینه حیرانــه ســول ســاعت تــه یــي وکتــل ګــوري چــي ډېــر وختــي دی بیــا یــي پــه حیرانتیــا اُمیــد تــه وویــل: څــه خبــره ده نــن ولــي دومــره وختــي راکښېنســتلی یــې خیریــت خــو بــه وي مــا خــو بــه پــه خوب کي خرررهارۍ نکوی؟

اُمیــد تــر څــو شــېبو وروســته پــه موســکا وویــل: یــا خرررهــارۍ دي نکــوی نــن مــي خــوب وختــي پــوره ســو نــو راکښېنســتم او خپــل د ګرانــي ښایســتې میرمني څیهرې جزب کړم مخ مي نسوای در څخه اړولای.

حســینې د اُمیــد پــر ســینه ســر کښېښــوی بیــا یــي پــه نــاز وویــل: نــو خــو زه بــه دي هــم راکښــېنولای مــا بــه هــم خپــل ښایســته خاونــد تــه کــتلای زه نــو زړه نلرم؟

اُمید پر حسینې لاس را وګرځوی اوږده ساه یي واخیستل بیا یي وویل:

زه یو دم دا ستا له غمه بې غـــم نه یـــم

بې غمه ستا له ذکره فکره یو دم نه یــــم

هر زیارت لره چه ځمه مـــراد مي نه یـې

زه زائر د میخانې د حـــــــــــــــرم نه یـــم

ستا د در په تورو خاورو باندي خوښ یم

بې تا خوښ په تمـــــــــــاشا د ارم نه یم

ketabton.com - The Digital Library

چې دا ستا په تماشا یم خبر ســــــــوی

نور خبر په تماشا د عالـــــــــــم نه یم

بې دا ستا له زیبا مخه و بل مـــــــــخ ته

منتظر د یوې ستني تر ســــــــپم نه یم

که دا ستا د ښکلي مخ عاشقــــان ډیر دي

زه په واړو کښې اول یم دویـــــم نه یم

زه رحمان د بیلتانه له غـــــــــــمه ژاړم

واقعه ده ډیره گرانه هیڅ گـــــــرم نه یم

حســـینې د شـــعر پـــه اوریـــدو وویـــل: ښـــه ښـــه زمـــا گـــران خاونـــده دا شـــعر دي ځو انجونو ته ویلی دی ربښتیا راته ووایه.

اُمیــد پــه موســکا وویــل: لیــونۍ قســم کــوم چــې تــه لــومړنۍ یــې چــې پــه کتــو دي شعر درته وایم.

حســـینې خپـــل ســـر د لاســـو پـــه فشـــار ســـره د اُمیـــد پـــه ســـینه پـــوري ټینـــگ ونیـــوی بیـــا یـــې وویـــل: همداســـې مـــې پـــه هـــر څـــه کـــې لـــومړنۍ وســـاته ځکـــه دوهـــم مـــې نه خوښیږي ته یوازې زما یې.

اُمیـــد د حســـینې پـــه دې خبـــره چـــې تـــل مـــې لـــومړنۍ وســـاته تـــه یـــوازې زمـــا یـــې د خپگان ساه واخیستل په دې سره حسینې وویل: څه وسوه؟

ketabton.com - The Digital Library

د اُمید په سترگو کې اوښکې راغلې بیا یې تر څو شېبو وروسته وویل: هیڅ نه.

بیا یې لاسونه پر حسینې واړول په سینه پوري یې ونیول د خپگانه یې سترگې پټې کړې حسینې هم د اُمید پر سینه د سکون احساس کوی سترگې یې پټې کړي وې چې بیا تر څو شیبو وروسته یو دم وغورځیدل وې ویل: هله ناوختنه دی باید لمونځ او اودس وکړم بیا ناشته تیاره کړم داسي نه خُسر مي ووایي چي دا څنگه لټه مړور مي ده.

اُمید یي لاس نیولی وو وې ویل: یو څو شیبې لا مه راځخه ځه!

حسینې وویل: ایله مي کړه خو بیرته راځم په کلو خو نه ځم درځخه.

اُمید وویل: صحي دی ایله کوم دي خو اول مي ښکُل کړه.

حسینې اُمید ښکُل کړ بیا په خپل کارو پسي ولاړه حسینه چې کله وتل نو اُمید ور ږغ کړه: حسینې؟

حسینه ودریدل مخ یي ورته راواړوی بیا یي وویل: ها؟

اُمید هغې ته وکتل موسکی سو بیا یې تر څو شیبو وروسته وویل: هیڅ نه.

حسینې هم دروازه بنده کړل او بیا په خپلو کارو مصروفه سول اُمید هم اوداسه ته ولاړ سو تر اوداسه وروسته چې یې لمونځ وکړ نو په دعا کې یې وویل: یا رب ته تل زما میرمن خوشحاله وساته او زما غم ورځخه ډیر ژر هیر کړه د هغې دردونه ټول ماته راکړه او زما دردونه مه په وینه ......

ketabton.com - The Digital Library

تــر لمانځــه وروســته چــي کلــه حســينه پــه پخلنځــی کــي د ناشــتې پــه تيــارولو مصــروفه ســول د کــار پــه جريــان کــي ودريــدل او پــه فکــر کــي يــي وګرځيــدل چــي اُميــد نــن ولــي هغــې تــه دومــره زيــات کتــل ولــي يــي داســي وکــړل ولــي هاســي پــه همــدې فکــرو کــي يــي کــار پريښــوی د خپــل اطــاق پــر طــرف يــي وځغســتل کلــه چــي هلتــه ورســيدل نــو وې ليــدل چــي اُميــد دعــا کــوي د هغــه پــه ليــدو بيرتــه ارامــه ســول د خپګــان ســاه يــي واخيســتل بيــا يــي د ځــان ســره وويل: د خدای شُکر دی.

وروســته بيــا د پخلنځــی پــر طــرف ولاړه کلــه چــي يــي ناشــته تيــاره کــړه او د کــور صــالون تــه يــي وې وړل نــو وې ليــدل چــي هلتــه د نــورو ورځــو پڅيــر د اُميــد پــلار نــه وو نــه يــي هــم ورور وو حســينه حيرانــه ســول چــي دوی نــن چيــري دي بيــا يــي د خــدمتګاري ښځــه پوښــتنه وکــړه: کاکــا ســهار وختــي يــو ځای ولاړی که څنګه؟

هغې وويل: يا هيڅ ځای نه دی تللی شايد خپل اطاق کي وي.

حســـينې غوښــتل چــي د هغــه اطــاق تــه ورســي خــو کلــه چــي هلتــه ورغلــه دروازه يــي وکتــل نــو وې ليــدل چــي د اُميــد پــلار دروازه د دننــه څخــه تړلــې ده تــر څــو شــيبو هلتــه ولاړه وه چــي بيــا پــه فکــرو کــي خپــل اطــاق تــه ولاړه کلــه چــي هلتــه ورســيدل نــو اُميــد د دروازې تــر شــا ورتــه پــټ وو کلــه چــي حســينه اطــاق تــه دننــه کيــدل نــو اُميــد تــر لاس ونيــول او پــر کــټ يــي وغورځول.

حسينې وويل: ليونيه و دي بيرولم.

ketabton.com - The Digital Library

اُمیـد موسـکی سـو بیـا حسـینې وویـل: تـه څـه خبـر سـوې چـې زه را روانـه یـم دا که خدمتګاره وای هغه به دي هم داسي تر لاس نیولې وای؟

اُمیـد وویـل: لیـونۍ زه سـتا خوشـبویي د څـو متـرۍ څخـه محسوسـولای سـم زه باوري وم چي ته يې.

حسینې وویل: ځه زه یي نه منم.

بیـا حسـینې وویـل: اُمیـده د کاکـا دروازه د دننـه څخـه بنـده ده ناشـتې تـه هـم نه دی راغلی ته ورسه مریض خو به نه وي.

اُمیـد پـوه سـو چـي پـلار يـي غمجـن دی نـو ځکـه يـي دروازه پـه ځـان پسـي ترلـې ده خـو حسـینې تـه يـي وویـل: کیـدای سـي انلایـن د امریکـا د دفتـر د کار کونکو سره مجلس لري.

حسـینې وویـل: ښـه دا خبـره ده زمـا اندیښـنه وه چـي خـدای نکـړه مـریض نـه وي.

بیـا حسـینې وویـل: زه بـه ورسـم کـه بابـا راووتـی ناشـته بـه ورتـه تـوده کـړم شاید هغه سړه سوې وي.

اُمیـد ونیـول بیـا يـي وویـل: پریـږده يـي خـدمتګاراني سـته هغـه بـه يـي ورتـه توده کړي یو څه وخت زما سره تیر کړه.

حسـینه بیرتـه کښېنسـتل او د اُمیـد سـره پـه خبـرو مصـروفه سـول د خبـرو پـه جریـان کـي بـه اُمیـد څـه عجبـي عجبـي خبـرې کـولې چـي حسـینه بـه حیرانـه سـول چـي پـه اُمیـد نـن څـه سـویدي بیـا تـر څـه وخـت وروسـته اُمیـد ولاړ سـو

ketabton.com - The Digital Library

وې ويــل: حســينې تــه کښــينه زه بــه تاتــه نــن زمــا د لاس شــيدې در پخــې کړم.

حســينې وويــل: واو خــومره ښــه تــه شــيدې هــم پخــولای ســې مــا فکــر کــوی چې زما خاوند لټ دی اشپزې نسي کولای.

اُميد د نازه د خپګان په ډول وويل: ښه زه لټ يم؟

حسينه موسکۍ سوه بيا يې وويل: ټوکې کوم ليونيه.

بيا حسينې وويل: زه هم در سره ځم چې ته څنګه شيدې پخوې.

اُميد وويل: يا ته دلته کښينه زه يې درته راوړم.

حسينې وويل: يا زه هم در سره ځم.

اُميد وويل: يا مه راسره ځه زه يې درته راوړم.

حسينې بيا وويل: يا ماته ښه خوند راکوي چې در سره يم.

اُميــد پــه غوســه وويــل: حســينې پــه يــوه خبــره ځــان پــوه کــوه چــې څــه مــې وويل هغسې کوه عصاب مې مه راخرابوه.

حســينه حيرانــه ســول چــې اُميــد ولــې پــه غوســه ســو هــيڅ يــې ونــه ويــل لــه اُميــده يــې مــخ پــه خپګــان وګرځــوی. اُميــد د اطاقــه پــه غوســه ووتــی پــر خولــه يــې لاس ونيــوی ټــوخې يــې شــروع ســو بيــا پــه کمــزوري حرکــت تــر پخلنځــی پــوري ولاړی پــه ســخت ټــوخې او پــه ريــږد نيــولې بــدن يــې شــيدې تيــارې کــړې بيــا يــې پــه ګــيلاس کــې واچــولې پــر ميــز يــې کنښښــولې پــه هنــداره کــې يــې وکتــل د پــزې وينــې او اوښــکې يــې پــاکې کــړې مــخ يــې ومنځــی تــر وچولــو وروســته يــې د شــيدو ګــيلاس واخيســتی د اطــاق پــر طــرف ولاړی

ketabton.com - The Digital Library

کله چې هلته ورسیدی نو حسینه هم هغسې خپه ناسته وه مخ یې د دروازې له طرفه اړولی وو. اُمید په موسکا وویل: دا دی شیدې مې درته تیاري کړې واخله.

خو حسینې مخ همداسې ورخخه اړولی وو څه یې ونه ویل نه یې هم شیدې ور څخه واخیستې بیا اُمید وویل: واخله وایم.

خو حسینې نه څه ویل نه یې مخ ور ته را اړوی بیا اُمید د هغې مخ په لاس خپل خواته راواړوی وې لیدل چې حسینه ژاړې په حیرانتیا یې ورته وویل: ته ژاړې؟

اُمید د شیدو ګیلاس پر میز کښېښوی بیا د حسینې تر څنګ کښېنستی وې ویل: څه خبره ده ولې ژاړې؟

حسینې څه نه وویل بیا اُمید وویل: ښه دا زه چې دربانديي په غوسه سوم پر هغه خپه سوې؟

بیا اُمید وویل: لیونۍ ته خو پوهیږې چې زما حالت سم نه دی کله کله زیات غوسه کیږم نو ته ګیله مه راخخه کوه زما په واک کې نه ده که نه نه دربانديي غوسه کیدم دا وار مې وبخښه خیر دی.

اُمید د حسینې په غیږ کې په خپګان او ستړي احساس سر کښېښوی تر څو شیبو وروسته حسینې یې پر مخ لاس تیر کړ پر تندې یې ښکُل کړ بیا اُمید وویل: داسې ژر دې بیا وبخښلم؟

حسینې وویل: ته به زما بې خبرو ګذاره وکړې خو زه به څه کوم زه خو به ستا په خبرو پسې لیونۍ سم.

ketabton.com - The Digital Library

اُمید یي لاس په لاس کې ونیوی ښکُل یې کړ بیا یې په ژړا وویل: کاش ژوند یو څه مُهلت راکړی وای چې هره شېبه مې ستا تر څنګ او تاته په کتو تېره کړې وای او ستا ټول ارمانونه مي در پوره کړي وای.

حسینې د اُمید سر په خپل غیږ کې ونیوی بیا یې وویل: چپ سه لیونیه په تا هیڅ نکیږي خدای دی زما ژوند لا هم تاته درکړي او بل دا چې زما تر ټولو لوی ارمان ته وې چې خدای راکړې زه نور بیله تا هیڅ ارمان نلرم خدای دي تل همداسي په څنګ کي راسره لره.

اُمید وویل: کاش چي داسي کیدای.

د اُمید پلار او ورور په صالون کې په فکرو او غم کې غرق ناست وه چې د پلار تلیفون ته یې زنګ راغلی کله چې یې اوکې کړ او غوږ ته یې ونیوی بیا یې تر څو شیبو وروسته وویل: تاسو امبولانس راواستوی چې کله یې ضرورت سو در به سو.

تر دې خبرې څو شیبې وروسته د اُمید پلار تلیفون بند کړ بیا په فکرو کې ډوب سو حسینې وویل: زما زړه د مځکې پخیر دی او تا ته کاته او ستا خوږې خبرې داسې دي لکه پر همدا مځکه چې نالان او درختې کنبینول کیږي...

بیا حسینې په ژړ غوني ږغ وویل: ته زما سکون یې الله دي هیڅکله زما څخه دا سکون نه اخلي.

د اُمید په سترګو کې ولاړې اوښکې وځخیدلې بیا یې په ژړ غوني ږغ وویل: لیونۍ ما تاته شیدې تیاري کړې وې هغه واخله وخیښه که نه سړې به سي.

ketabton.com - The Digital Library

اُمید حسینې ته شیدې ونیولې خو هغې ورته وویل: ته یې په خپلو لاسو راکړه!

اُمید وویل: ته یې خپله واخله داسې نه تودې وي او زه درته غټ غړپ درکړم خدای نکړه خوله به دې در ته وسوځي.

حسینې شیدې ورځخه واخیستې پر سر یې پورته کړې یو غړپ یې ځنې وکړ څه بل رکم خوند یې محسوس کړ بیا یې دوهم غړپ وکړ هغه هم څه بل ډول وو بیا اُمید ورته وویل: بوره خو به یې نه وي کمه؟

حسینې وویل: یا نه ده کمه.

دا چې د اُمید زړه مات نسي نو ځکه حسینې بد خونده شیدې ټولي وڅیښلې بیا یې گیلاس پر میز کښېښوی څه د سر گرځې احساس یې وکړ خو څه یې ونه ویل بیا اُمید پر پالنگ کښېنول تر اوږو یې ونیول خپل خواته یې وگرځول تر څو شیبو یې په حیرانتیا حسینې ته کتل حسینه پوه سوه چې کومه خبره خو ده هغې یو وار د گیلاس خواته وکتل بیا یې اُمید ته وکتل د اُمید تر سترگو اوښکې روانې سوې بیا یې تر څو شیبو وروسته تر پزې وینه هم راغله په همدا وخت کې دباندې د امبولانس ږغ هم سو حسینې په حیرانتیا یوې خوا و بلې خواته کتل پوه سوه چې اُمید نشه ورکړیده بیا یې د اُمید لاسونه په غوسه د نشې په حالت کې د ځانه لیرې کړل بیا یې پورې وهی تر څو شیبو وروسته یې وویل: ولې دې داسې راسره وکړه؟

اُمید په ژړغونې ږغ وویل: ځکه چې زه مینه در سره کوم.

ketabton.com - The Digital Library

حسـینه ولاړه سـول یـوې خـوا او بلـې خـوا تـه یـې وکتـل بیـا یـې د اوبـو لوښـې تـه ور وځغسـتل اوبـه یـې وڅیښـلې بیـا یـې پـه خولـه ګوتـه ننایسـتل تـر څـو استفراق ووهـي خـو اسـتفراق یـې نـه کیـدی شـاوخوا یـې پـه نـورو حـل لارو پسـې وکتـل خـو څـه نـه ورتـه معلومیـدل د نشـې تـاثیرات یـې وار پـه وار زیاتیـدل بیـا اُمیـد ورغلـی تـر لاس یـې ونیـول تـر څـو پـر مځکـه ونـه غـورځي خـو حسـینې لاس ځنـې لیـري کـاوه چـې پـه همـدا وخـت کـې مکملـه نشـه سـوه او د بـدن حرکـات یـې د لاسـه ورکـړل. اُمیـد حسـینه پـه غیـږ کـې واخیسـتل بیـا یـې پـر پالنـګ پـرې ایسـتل پـه اوښـکو ډکـو سـترګو یـې حسـینه ژر ژر ښـکُل کـړل د هغـې لاس یـې پـه خپـل لاس کـې نیـولی وو پـه ژړا یـې وویل: ما وبخښه حسینې.

بیا یې د حسینې لاس ښکُل کړ وې ویل: زما به یادیږې.

د همـدې خبـرې څـو شـیبې وروسـته یـې تـر خـولې او پـزې وینـه راغلـه پـه ځکیـدلو یـې تـر دروازې ځـان ورسـوی دروازه یـې خلاصـه کـړل پـه مـړاوې بږغ او وینو ډکې خولې یې وویل: بابا!

کلـه چـې یـې پـلار، ورور، د حسـینې پـلار ډاکټرانـو او نـورو خپلوانـو یـې بږغ واوریـدی نـو د هغـه پـر طـرف یـې ور وځغسـتل بیـا یـې راپورتـه کـړ امبـولانس تـه یـې واچـوی روغتـون تـه یـې روان کـړ پـر لارې هـم د اُمیـد ډیـره وینـه تـر خـولې او پـزې ووتـل او سـخت پـه تکلیـف وو بـدن یـې دردونـه کـول او پـه لـوړ اواز یـې نـارې وهلـې کلـه چـې یـې روغتـون تـه یـوړ ډاکټرانـو پیچکـارۍ او سـیرومان ور چالانـه کـړل خـو لا هـم د اُمیـد دردونـه کـرار نسـول ټولـو نرسـانو نیـولی وو دردونـه یـې هـیڅ نـه کراریـدل دوسـتانو ټولـو د دبانـدي

ketabton.com - The Digital Library

ځخه په کلکين کي ليدی ټولو ډير ژړل تر سترګو يې اوښکې بهيدې او د اُميد سخت حالت او دردونو ډير کړول.

د اُميد پلار ډاکټر ته په ژړا وويل: ډاکټر صاحب د اُميد دردونه لا ولي نه په کراريږي.

ډاکټر وويل: موږ د دردونو د ارامولو کمزوري پيچکارۍ ورته ولګولې په دې سره به دده دردونه لږ راکم سي قوي پيچکارۍ که ورته ولګوو نو هغه يې دردونه ارامولي خو د ور لګولو سره سم به اُميد ژوند د لاسه ورکړي په دا کمزورو پيچکاريو به تر يو وخت ژوندی پاته سي.

ټول ډير مايوسه سول بيا ډاکټر نرس ته وويل: دا کمزوري پيچکارۍ درې دانې پر يو ځای ور ولګوه چي يو څه وخت د کورنۍ سره ووينې خبرې ور سره وکړي.

نرسانو کمزوري پيچکارۍ ور ولګولې بيا اُميد څه ارام سو ډاکټر د اُميد کورنۍ ته وويل چي تاسو ور سره ووينی کله چي ټول دننه ورغلل د اُميد پلار د اُميد تر څنګ کښېنستی اُميد هغه ته په کتو ور د غاړې سو بيا يې په ريږديدلي ږغ وويل: بابا دوی ته ووايه چي ماته قوي پيچکارۍ را ولګوي.

بيا اُميد په ژړا وويل: بابا تا خو زه هر وخت له هره درده ليري ساتلی يم ما له دې دردونو هم خلاص کړه هيله کوم بابا.

پلار يې په غيږ کي ونيوی په ژړا يې وويل: زويه پلار دي ډير ناوسه دی ما وبخښه.

ketabton.com - The Digital Library

بیــا یــي اُمیــد پــر کــټ پــرې ایســتی نــورو دوســتانو ور ســره ولیــدل او ډاډګیرنــه یــي ورکــول اُمیــد د حســینې د اکــا لــور تــه اشــاره وکــړه چــي راســه کلــه چــي هغــه ورغلــه اُمیــد د جیبــه پــه ریږدیــدلي لاس یــو خــط را وایســتی هغــې تــه یــي ورکړ ورته وې ویل: دا بیا حسینې ته ورکړه!

هغــې خــط واخیســتی او ځــه لیــري ودریــدل تــر ځــو شــیبو وروســته د اُمیــد دردونــه بیــا زیــات ســول لــویې لــویې چیغــې بــه یــي وهلــې پــلار یــي دبانــدي د کلکــین څخــه ورتــه کتــل پــه ســترګو کــي یــي اوښــکې وچــي ســوي وې تــر ډیــرو ســختو نــارو وهلــو وروســته د اُمیــد پــلار پــه فکــرو کــي ډوب ولاړ ســو د اُمیــد د ځــارني اطــاق تــه ورغلــی د ډاکټــر څخــه یــي قــوي د دردونــو پیچکــارۍ واخیســتل او اُمیــد تــه یــي ور ولګــول ټــول ډیــر حیــران ســول د پیچکــارۍ ســره ســم د اُمیــد دردونــه او نــارې ارامــي ســوې بیــا یــي پــه موســکا په ریږدیدلې بږغ وویل: د الله په امان بابا.

پــه دې ســره د اُمیــد ســاه وختــل او وفــات ســو پــلار یــي ســترګې ور پټــي کــړې بیا یې پر تندې ښکُل کړ وې ویل: پر الله دي سپارم زویه.

حســینه پــر هــوښ راغلــه تــر ځــو شــیبو یــي ځــه نــه پیادیــدل ځــو بیــا یــو دم د پالنګــه کښــته ســول شــاوخوا یــي وکتــل پــه اطــاق کــي وینــې پرتــې وې بیــا ټولــه کیســه ور پیــاد ســول ژر د اطــاق څخــه ووتــل چــي پــه اُمیــد پســي ورســي ځــو کلــه چــي د صــالونه ووتــل پــه دا وخــت کــي امبــولانس کــور تــه را دننــه ســو حســینې د امبــولانس پــه لیــدو د بــدن حرکــات او کنټــرول د لاســه ورکــړل نــږدي و چــي غوځــاره ســي چــي بیــا یــي لاس پــر یــو میــل ونیــوی. کلــه چــي امبــولانس راورســیدی نــو د اُمیــد پــلار اول راکښــته ســو کلــه چــي کــور تــه

ketabton.com - The Digital Library

دننــه تلــی د حســینې پــر ســر یــې پــه ژړا لاس ونیــوی بیــا کــور تــه ولاړی. حسـینه د اُمیـد د پـلار پـه داسـې حرکـت سـره پـوه سـول چـې اُمیـد مـړ سـویدی د هغــې پښــې مــړې ســوې بیــا پــر مځکــه کښېنســتل پــه حیرانتیــا یــې د امبــولانس خواتــه کتــل چــې تــر څــو شــیبو وروســته یــې د اُمیــد جنــازه د امبــولانس څخــه راکښــته کــړل دننــه کــور تــه یــې یــوړل. کلــه چــې یــې د اُمیــد جنــازه کــور تــه دننــه یــوړل او هغــه یــې کښېښــول نــو حســینه ولاړه ســول او کـور تـه دننـه ولاړه تـر یـو څـو شـیبو یـې اُمیـد تـه پـه حیرانتیـا کتـل بیـا خپـل اطــاق تــه ولاړه پــر پالنــګ کښېنســتل تــر څــو شــیبو وروســته یــې د اکــا لــور اطـاق تـه ورغلـه تـر څنـګ یـې کښېنسـتل پـه ژړا یـې وویـل: اُمیـد دا خـط سـتا لپاره راکړ.

حسـینې هغـه خـط تـه وکتـل بیـا یـې پـه غوسـه واخیسـتی او څیـري یـې کـړ بیـا یــې پــر میــز پــروت ددې او اُمیــد یــو ځــایې عکــس تــه وکتــل هغــه یــې راواخیســتی پــه غوســه یــې لیــري وغورځــوی ټــول د اُمیــد ګــلان او تحفــې چــې دې تــه یــې ورکــړي وې ټــول پــه غوســه او پــه ژړا وغورځــول. د اکــا لــور یــې هغه په غیږ کې ټینګه کړل ورته وې ویل: حسینې ارامه سه.

حسینې په ژړا وویل: هغه زما سره چم وکړ زه به یې هیڅکله ونه بخښم.

بیــا یــې پــه لــوړ اواز وویــل: زه نفــرت در څخــه کــوووم اُمیــده نفــرت در څخــه کوووم.

تــر څــو شــیبو ژړا وروســته د اُمیــد ورور د حســینې اطــاق تــه راغلــی پــه ژړغــوني اواز یــې وویــل: حســینې قبــر تیــار ســویدی اُمیــد وړو نــو راســه اخیــر دیدن یې وکړه.

ketabton.com - The Digital Library

کله چي د اُمید ورور ووتی د حسینې د اکا لور وویل: حسینې درځه.

حسینې وویل: زه یي پروا نلرم نه هم غواړم چي دا چمبازه ووینم.

د اکـا لـور یـي وویـل: داسـي مـه وایـه دا هـر څـه هغـه سـتا سـره د مینـې پـه خاطر وکړل.

د اُمید پلار د اُمید ورور ته وویل: حسینې ته دي وویل چي اُمید وړو؟

د اُمید ورور وویل: هو بابا خو حسینه ډیره په غوسه ده.

د اُمیـد پـلار د خپگـان سـاه واخیسـتل بیـا یـي وویـل: خپـه بـه ولـي نـه وي چي د ژوند په اخیري شیبو کي یي ددا لیوني سره ونه لیدل.

تـر څـو شـیبو وروسـته حسـینه پـه داسـي حـال کـي د اطاقـه راووتـل چـي د کمزورتیـا پـه خـاطر یـي د اکـا لـور تـر اوږه لاس اړولـی وو کلـه چـي اُمیـد تـه راورسـیدل نـو د اُمیـد ورور خپلـو دوسـتانو تـه اشـاره وکـړل چـي دبانـدي در ووځـئ بیـا خپلـه هـم دبانـدي ووتـی تـر څـو شـیبو وروسـته چـي کلـه د اُمیـد پـلار هـم ووتـی حسـینې پـر اُمیـد لاس راوگرځـوی ډیـر یـي وژړل پـه زړه کـي یـي دا ومنـل چـي اُمیـد دا هـر څـه ددې سـره د مینـې پـه خـاطر وکـړل نـه یـي غوښـتل چـي د زکنـدن سـختۍ یـي دا ووینـي تـر څـو شـیبو ژړا وروسـته د اُمیـد ورور راغلـی پـه ژړغـوني ږغ یـي وویـل: حسـینې قبـر ځنـډول ښـه خبـره نه ده بس دی نور.

بیـا یـي دوسـتانو تـه اشـاره وکـړه چـي راسـئ تـر څـو اُمیـد ور سـره واخلـي کلـه چـي هغـوی را ورسـیدل او اُمیـد یـي وړی نـو حسـینې پـر مـخ او تنـدې ژر ژر او ډیـر ښـکُل کـړ بیـا یـي ور پریښـوی کلـه چـي ټـول ووتـل نـو حسـینه

ketabton.com - The Digital Library

خپـل اطـاق تـه ولاړه ډيـر يـي وژړل بيـا يـي د اُميـد د خـط ځيرلـي ټـوټې ژر ژر راټـولي کـړې پـه زړه پـوري يـي ونيـولې پـه ژړا بـه يـي د اُميـد اُميـد نـارې وهلـې. حسـينه چـي څـه ارامـه سـول نـو د اُميـد د خـط ځيرلـي ټـوټې يـي ټـولي سـره ومښـلولې تـر مښـلولو وروسـته يـي خـط ښـکُل کـړ بيـا يـي پـه ويلـو شـروع وکـړه اُميـد ليکلـي وه: زمـا ګرانـي خـوږې ميرمنـي ددې خـط د ويلـو پـر وخـت بـه زه پـه دنيـا کـي نـه يـم زړه خـو مـي غوښـتل چـي سـتا مـخ، زلفـو او حُسـن تـه پـه ليـدو لـه دنيـا ولاړ سـم خـو مـا ځانغوښـتنه ونکـړه ومـي نـه غوښـتل چـي زمـا د زکنـدن سـخت حالـت دي تـه ووينـې کـه نـه ليـونۍ زمـا دردو بـه زمـا سـره سـره تـه هـم وژلـې وای او داسـي مـا نـه غوښـتل ځکـه زه غـواړم تـه ژونـد وکـړې، پرمختـګ وکـړې او ځـان داسـي يـو ځـای تـه ورسـوې چـي سـتا پـه ليـدو خلـک ووايـې چـي دا د اُميـد ميـرمن ده او د هـرې هغـې انجلـۍ لپـاره عبـرت سې چـي ژونـد د ښـه کيـدو پـه تمـه پـه تيـارو کـي پـر تيريـږي ځـان ورتـه بـې قـدره بـې ارزښـته او پـر نـورو بـوج معلـوميږي او د هغـو ښـځو لپـاره لارښـونکې او د پرمختـګ او د ظلمـو څخـه د خلاصـون سـبب سـې چـي ځينـو نـارينوو د حيوانـاتو پڅير سـاتلي وي او د حيوانـاتو پڅيـر چلنـد ور سـره کـوي تـه بايـد ټـولنې تـه وښـيې چـي يـو ښـځه کـه وغـواړي ډيـر هغـه څـه کـولای سـي چـي يـو نارينـه يـي نسـي کـولای او دا وښـيې چـي ښـځه د چـا ملکيـت نـه دی چـي هـر څنګـه وغـواړي هغسـي يـي اسـتفاده او اسـتعمال کـړي ښـځو تـه دا ور وښـيه چـي تاسـو د ځـان قـدر پـه خپلـه ټـاکلای سـی کـه پـه ښـه حجـاب او اسـلامي طريقـه تعليم،کـار او پـه يـو خـاص څـه کـي مهارتونـه لاسـته راوړی نـو تاسـو بـه د خپـل ځـان قـدر پـه ټولنـه کـي دومـره زيـات کـړئ چـي بيابـه هيڅـوک د بـې قـدره مخلـوق پـه نظـر

ketabton.com - The Digital Library

درتــه ونــه گــوري داســي ځــان جــوړ کــړئ چــي ورور، پــلار، خپلــوان او خاونــد مــو هــر ځــای دربانــدي وویــاړي خــو کــه لاس تــر زنــه کښــینی ځــان جوړونــه ونکــړی نــو تاســو بــه خپلــه خپــل ځــان بــې قــدره او د نــورو محتــاج کړی وي...

حســینې مــا لــه ژونــده ډېــره څــه ونــه غوښــتل یــوازې دا مــې غوښــتل چــې ســتا موسکا، ستا نرمې خبرې، ستا دعاوې....خو تقدیر بل څه لیکلي وه.

حســینې زمــا خــوږې یــو اخیــري غوښــتنه درڅخــه کــوم پــه مــا پســي پــه غــم او ژړا کولــو مــا مــه زهیــروه نــه هــم زه ســتا پــه غــم او ژړا بیرتــه را ژونــدی کیږم....پــر همــدا ځــای د اُمیــد د اوښــکو څــو څــاڅکې پــر کاغــذ لویــدلي وه بیــا لیکلــي وه: د تقــدیر پریکــړې دي کــه نــه پــه قســم چــي یــوه دقیقــه مــي هــم ســتا لــه ښــکلي مــخ څخــه لیــري نســوای تیــرولای.... حســینې پــه ژړا د اُمیــد خط په زړه پوري ونیوی بیا یې په ژړا وویل: اُمیده!

څــه وخــت وروســته یــوه ورځ خــدمتگاره د حســینې اطــاق تــه ننوتــل وې ویل: اغلې مشر صاحب دي غواړي.

حسینې په ژړ غوني ږغ وویل: سمده ته در ځه زه ورځم.

حســینې پــر ځــان بانــدي پــوړنی ســم کــړ بیــا د اُمیــد د پــلار میلمســتون تــه ورغلــه کلــه چــي هلتــه ورســیدل نــو وې لیــدل چــي د اُمیــد پــلار پــر چــوکۍ ناســت دی حســینه نــږدي ورتــه کښــته کښېنســتل تــر روغبــړ وروســته د اُمیــد پــلار یــو څــه کاغــذان ورکــړل حســینې د هغــو پــه لیــدو وویــل: دا څــه دي کاکا؟

ketabton.com - The Digital Library

د اُمیـد پـلار وویـل: دا د اُمیـد د برخـې مځکـې او جایدادونـه دي مـا سـتا پـه نامـه کـړل د اُمیـد هـم دا نظـر وو دا واخلـه لـوري نـوره تـه آزاده یـې کـه همدلته پاتیږي او که د پلار کور ته دې ځې.

حسـینې کاغـذان بیرتـه د اُمیـد پـلار تـه ورکـړل وې ویـل: بابـا زه دا جایـدادو او مځکـو تـه ضـرورت نلـرم او نـه هـم د اُمیـد د میرمنیتوبـه ځـان باسـم زه د هغه وم او یم به تر مرگه.

د اُمید پلار وویل: لوري! یوازیتوب به دي وزوروي.

حسینې وویل: زه یوازي نه یم کاکا زما سره د اُمید یادونه راسره دي.

بیـا د اُمیـد پـلار د حسـینې پـر سـر د شـفقت لاس ونیـوی وې ویـل: اللـه دې تـل خوشـحاله لـره لـوري زه بختـور یـم چـي داسـي مـړور لـرم د زوی مینـه بـه مي په تا پوره کوم خوشحاله اوسې....

*

حسـینې د مکتـب پـه اداره کـي د اُمیـد پـر عکـس څـه لویـدلي دوړي پـه خپـل پـوړني پـاکي کـړې بیـا یـي ښـکُل کـړ او پـر دیـوال یـي ولگـوی بیـا تـر څـو شیبو وروسته موټر ته وختل د کور پر طرف ولاړه.

**پای**

ketabton.com - The Digital Library

# د لیکوال په اړه

نیــــک محمـــــد بـــارک د ژور فکـــــر، ژمـــــن احســـــاس او زړور قلـــم خاونـــد دی، چـــې د افغانســـتان لـــه تـــاریخي کنـــدهار ښخـــه راپاڅېـــدلی دی. دی اوســـمهال ۲۴ کلـــن دی، لـــومړنۍ زده کـــړې یـــې لـــه مدرســـې او مکتبـــه را پیـــل کړیـــدي او لـــوړي زده کـــړې یـــي پـــه طبـــې بخـــش کـــي پـــای تـــه رســـولي دي. بـــارک صـــاحب د ژونـــد تـــر تولـــو لـــوی درد د خپلـــې ټـــولنې فکـــري تیـــارې بللـــي دي. له همدې امله یې د کلماتو له لارې د رڼا څراغ پورته کړی.

بـــارک صـــاحب بـــاور لـــري چـــې نـــاول یـــوازې د کیســـې ویلـــو وســـیله نـــه ده، بلکـــې یـــوه فکـــري جګـــړه ده — یـــوه مبـــارزه چـــې د بـــېوســـۍ، نـــاپوهۍ، ظلـــم او چوپتیـــا پـــر ضـــد پیـــل شـــوې ده تـــر څـــو "تیـــاره ټولنـــه د رڼـــا پـــه لـــور روانـــه" کړي چي محترم بارک صاحب دا لاره د قلم په څوکه رغولې ده.

تـــر دې نـــاول وړانـــدې، نیـــک محمـــد بـــارک یـــوولس نـــور کتابونـــه او ناولونـــه هـــم لیکلـــي دي؛ هـــر یـــو یـــې د زړه لـــه تـــل نـــه راوتلـــی آواز دی، یـــو غـــږ دی چـــې غـــواړي وجدانونـــه راویښ کـــړي، فکرونـــه وخلـــوي، او انســـان د انســـانیت ژور مفهوم ته ورسوي.

په چارو کي ورته کامیابي غواړو.

**په درنښت:** محمد داود رحماني

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*